


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د وخت پای

ډاکټر شاهد مسعود
ژباړه: احمدشاه پاڅون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب ځانګړني:


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د وخت پای |
| چمتو کوونکی: | ډاکټر شاهد مسعود |
| ژباړه: | احمدشاه پاڅون |
| کمپوز او ډیزاین: | ژباړن |
| پښتی طرحه: | ژباړن |
| خپروونکې ټولنه: | علامه محمود طرزی ټولنه |
| چاپ چارې: | تاج منور کتاب او قرطاسیه-هلمند |
| چاپ کال: | ۱۳۹۳ هـ ل |
| تیراژ: | یو زر ټوکه |


## یادونه:

دا مې د ژباړې لومړۍ تجربه ده، که کومه تېروتنه وينئ، لومړی مې و بخښئ او بيا يې راته په ګوته کړئ.


a.patsoon@gmail.com

+۹۳۷۰۰۷۸۷۳۱۵

(پاڅون)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ډالۍ:

**خپل پلارجان ته ، چې د مور د نه شتون احساس یې ندی راکړی. پلار جانه! الله دې راته تر ډېره ژوندی لره.**

د چاپ حقوق له ژباړن سره خوندي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ترتیب

## لومړی برخه:

**د قیامت مانا، د قیامت نښانې، لومړۍ نښې، منځنۍ نښې او نږدې نښې، د قیامت نښې د صحیح احادیثو په رڼا کې مهمې وړاندوینې.**

له ۱۱ ځخه تر ۳۹ مې پاڼې پورې

## دوهمه برخه:

**قرآن کریم او د قیامت نښې، د سپوږمۍ د ماتېدو پېښه، د سرو زرو غر، لکۍ لرونکې ستورې، د مهدي امام ځانګېړنې، (ارما ګډون) جنګ کې یهودیت او عیسویت، الملحمة الکبری او د مهدي امام تر راڅرګندېدو وړاندې د مسلمانانو حالت.**

د ۴۰ مې ځخه تر ۷۳ مې پاڼې پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریمه برخه:

د مهدي امام ښکاره کېدل، د سفیاني لښکر ماته، د مهدي امام جنګونه، د لوط قوم، د سبا قوم، د عاد قوم او بني اسرائیل، سلیماني معبد، د فرعون انجام، دارم سیل، د هېر سوي ښار موندنه.

د ۷۴ مي څخه تر ۱۰۷ مي پاڼي پوري

## څلورمه برخه:

اوسنۍ دوره، د دجال د راوتلو او د مهدي امام د راتګ غونډي د لویو پېښو څخه وړاندي دوره، د دجال فتنه څه شی ده؟ دجال کس دی که نظام؟ ایا دجال راغلی دی؟ حضرت عیسٰیعلیه السلام او بني اسرائیل، صلیبي جنګونه، مسجداقصٰی او قبت الصغرٰی، یهودیانو ته نجات ور کوونکی باچا څوک دی ... دجال؟

۱۰۸مي څخه تر ۱۴۰ مي پاڼي پوري

## پنځمه برخه:

درېي واړه لوی مذهبونه د یو ستر لار ښود د راتګ لار څاري، د عیسایانو ضد (Anti-Christ) د یهودو مسیح دجال او د مسلمانانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عقیدې سره سم د جال، د (ناسټراډیمس) وړاندوینې، د کایناتو په اړه د آین سټاین نظریې، د کایناتو پای ته رسیدو لاملونه، مځکنې بدلونونه، قرآني ایاتونه او قیامت ته نږدې نښې، د حضرت عیسیٰ علیه السلام راکښته کېدل، د دجال تېښته او خاتمه، یاجوج او ماجوج، د حضرت عیسیٰ علیه السلام وفات، د لویدیځ څخه لمر راپورته کیدل، د توبې د دروازې بندېدل، د مځکې حیوان، د قیامت لوګی، د یمن هوا، اور، د اسرافیل صور، د ډار پوکی، د بې هوښۍ پوکی، تر مرګ وروسته د پورته کیدو پوکی ... د رسول الله ﷺ حدیث چې وایي په نړۍ کې د یوه مسافر په ډول و اوسئ ... د نیك عمل کولو او له ګناهونو د توبې کولو وروستی مهلت.**

د ۱۴۱ څخه تر ۱۷۱ مې پاڼې پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خپروونکي خبري

د مسلك له اړخه جراح ډاکټر، د تاریخ زده کوونکی او محقق ډاکټر شاهد مسعود په ډېره لږه موده کي د (ARY) تلویزوني چینل (Views on news ) د پروګرام له لاري په هر زړه کي کور جوړ کړ، نرم خوی، تودي او زړه راکښونکي خبري کوونکی ډاکټر شاهد د ظالم سلطان په وړاندي د حق کلیمې ویلو څخه هیڅ ډار نلري ښایي له دې امله چي هغه مادي ګټې شاته پرېږدي ایښي، د تلویزیوني پروګرام په کوربه توب کي د زړونو خپلول د هغه ځانګړنه ده، هغه چي کله ږغیږي خبري يې سمي زړه ته لار کوي او کوم څه چي ذهن کي پاتیږي، نور زیات اغیز شیندونکي وي، د هغه ګړدود (لهجه)، د هغه ږغ او د حرکاتو ژبه يې دا په ډاګه کوي چي هغه د مسلمان امت له بې وسی او د ښکیلاکي ځواکونو له تیري او ظلمونو نه هر وخت ځوریږي.

(دا کتاب) د کائناتو له پیل څخه تر اتکلیز پای پوري يوه کیسه ده، چي ډاکټر صاحب د قرآن او صحیح احادیثو په حوالو ښکلي کړې، دا له لویه سره په زړه پوري تلویزوني خپرونه ده چي د هر عمر، هري برخي او هر فکر د خاوندانو لپاره اړین اثر دی، زه هیله لرم چي په کتابي بڼه به يې هم مینه وال لاس پر لاس کوي او مځکي ته به نه رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الله ﷻ او رسولﷺ په حضور کې د ډېر شکر ادا کولو وروسته زه د داکټر شاهد مسعود صاحب، د تلويزون د ټول ټيم، د جناح ورځپاڼې د ګروپ مدير ښاغلي ودود قريشي، مرستيال مدير غلام شبير اعوان، په پنجاب کې د (اې ار واى) مشر ښاغلي نصر الله ملك او دخپل زوى عدنان خالد څخه ځانګړې مننه ځکه کوم چې د هغوى د ملاتړ پرته ښايي دا هڅه بريالۍ سوې نه واى.

خالد شريف

۲۳-۰۹-۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د ژباړن خبري

استاد غضنفر ته مي چي د کتاب په اړه یادونه وکړه په ټوکه کي یې وویل: هسي نه خلک فکر وکړي چي هغه دی قیامت نږدې دی، نو څه ته ددې دنیا په اړه فکر کوې، راسه یوه لته (لغته) بله هم پسي ورکړه چي کیسه یې ژر ختمه سي.

خو زه ډاډه یم چي د کتاب په لوستلو سره به هیڅ کله لوستونکي داسي فکر ونه کړي، مګر هغه ځوک چي د کتاب محتوا د هغه له نوم او پښتې له انځوره اخلي.

هغوی چي د بشپړ کتاب لوستلو ته بې حوصلې کیږي، یوازي ورته ددې سریزي د لوستلو زغم غواړم.

موږ په دې ایمان لرو چي قیامت راتلونکی دی. داچي قیامت څه شی دی؟ او څنګه راځي؟ هر ځوک ورته د خپل علم، معلوماتو او تصور له هنداري ګوري.

د قران کریم په ۸۲،۸۱ او ۸۴ نمبر سورتونو کي الله تعالی د قیامت بشپړ انځور وړاندي کړی، خو ددې سورتونو مفهوم او ښه تفسیر تر عوامو یا نه دی رسیدلی او یا لږ رسیدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زما یادیږي ماشومتوب کي مورږ ته ویل سوي وه چي قیامت به د جمعې د ورځي په مازدیګر وي، په دې ورځ به دوړي وي. چي کله به دا سي یوه ورځ برابره سوه، زړه به مو له غمه شین سو چي هغه دی نور قیامت را ورسید. وروسته، وروسته یو کتاب ( د قیامت علامې) په نوم خپور سو هغه مي نه دی یاد چي څنګه وو، خو دومره ویلای سم چي کټ مټ هغه څه وه چي ایات او حدیث کي راغلي وه، د اوسنۍ نړۍ او حالاتو سره هیڅ تړاو پکي نه وو موجود. بس کټ مټ یو تصور کیدونکی حالت وو. مګر ستاسو لاس کي کتاب کي به تاسو د قیامت او د وخت د پای په اړه، عقل منونکي معلومات تر لاسه کړای سي او په دې به پوه سئ چي مورږ دا مهال د قیامت د راتلو په کوم درشل کي مزل وهو.

دا کتاب اصلاً د یوې تلویزوني خپروني څخه لیکل سوی چي د پاکستان په (ARY) تلویزون کي ډاکټر شاهد مسعود وړاندي کړې ده. ددې خپروني چي زیات هرکلی وسو او و ستایل سوه، وروسته د کتاب په بڼه هم خپره سوه چي پښتو بڼه یې اوس  ستاسو لاس کي ده.

په کتاب کي د قیامت پر علامو پراخ بحث سوی، کومي علامې پوره سوي، په کوم وخت او کوم ځای کي؟  کومي څه ډول پوره کیدونکي دي او په دې اړه د پوهانو نظر څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


د بیلګي په ډول د شق القمر ( د سپوږمۍ ماتېدو) پیښې په اړه کتاب کي لولو: ((د شق القمر (د سپوږمۍ د چاودلو) معجزه تر هجرت ۵ کاله وړاندي وه، حضرت انس بن مالکؓ څخه روایت دی چي د مکې خلکو د رسول اللهﷺ څخه غوښتنه وکړه چي هغه دي کومه معجزه ورښکاره کړي، په ځواب کي رسول اللهﷺ سپوږمۍ دوه ټوټې کړه داسي، چي ددې دووو ټوټو ترمنځ د حرا غر لیدل کیدی))

ابن خاطرؒ په خپل کتاب کي لیکلي  چي د سپوږمۍ د چاودلو دا منظر تر هندوستان پوري و لیدل سو، په لندن کي د هند دفتر په کتابتون کي زیات لرغوني ثبوتونه موجود دي چي د حوالې نمبر يې عربي ۲۹۰۷ ۱۵۲\۱۷۳ دی. د دې تر څنګ د هندوستان دسهیل لویدیځ ساحل په مالابار نومي سیمه  کي یو پخوانۍ خبره پر خولو ګرځي چي دهغوی یو پاچا (چکرورتي فرمس) د سپوږمۍ د چاودلو منظر په خپلو سترګو لیدلی و)) شق القمر د قیامت هغه علامه ده چي د نبي کریمؑ په ژوند کي ښکاره سوې، دا چي قیامت ته نژدې ذکر سوي نښانې په څه ډول را ښکاره کیږي او د اوسنۍ زماني سره يې څه ډول تړاو موندلی؟ په کتاب کي لوستل يې پرتاسو. مثلاً مهدي امام څوک دی او څنګه ښکاره کیږي؟ د جال څنګه ښکاره کیږي، هغه اوس چیری دی؟ عیسی ؑ ولي له اسمانه را کښته کیږي، څه وخت او څنګه دا کار کیږي؟ یاجوج او ماجوج

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځوک دي، اوس چیري دي، څنګه به را ښکاره کیږي؟ او بلاخره به دا کاینات د کومي احتمالي پیښي په ترڅ کي له منځه ځي.

د کتاب په ژباړه کي مي تر حده هڅه کړې چي سم یې و ژباړم، په ځانګړې ډول ایاتونه، حدیث او نور اسلامي نصوص. خو بیا هم که کومه تېر وتنه په کتاب کي موجوده وي وار له مخي یې په اړه بخښنه غواړم او هیله کوم چي راته په ګوته یې کړئ.

د کتاب په ژباړه، اصلاح، چاپ او خپراوي کي چي کومو دوستانو راسره مرسته کړې، ورځخه یوه لمن مننه.

نور نو تاسو او د وخت پای

په خورا مینه

احمد شاه پاځون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی برخه

قیامت[1]، د محشر ورځ یا د حساب پر ورځ ایمان راوړل پر موږ فرض دي، الله تعالیﷻ په سورت المومن کي فرمايي؛ ژباړه:

**((بې شکه قیامت حتماً راتلوونکی دی په دې کي هیڅ شک نسته او اکثره خلک یې نه مني))**

قیامت د عربي ژبي کلیمه ده، په لغت کي ددې کلیمې مانا درول یاني مړي د قبرو څخه پورته کول او دوهم ځل ژوندي کیدل دي، خو په اصطلاح کي قیامت د کایناتو بشپړ تباهی ته اشاره کوي او اوس د لویدیځ

[1] قیامت پس له مرګه بیرته راپورته کېدل، محشر، لویه ورځ، اخره ورځ، د مذهبي عقیدې له مخي هغه ورځ اوحالت دی چي د انسانانو تر مرګ وروسته راځي، په دې ورځ، مړه ژوندي کیږي د ښو او بدو مکافات او مجازات ورکول کیږي، د قیامت په علاموکي ویل کیږي چي لمر به له لودیځه راوخیژي،حضرت عیسيع به له اسمانه راکښته سي، یاجوج او ماجون ، دجال او دابه الرض(یو ډول حیوان) به پر مځکه را پیدا سي.(پښتو تشریحي قاموس، ۴ټوک، ۲۳۶۳ مخ) ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library


د فلکیاتو پوهان هم دې پایلي ته رسیدونکي دي چي دا کاینات بالاخیره فناه کیږي.

قیامت کله راځي؟ دا یوه داسي فطري پوښتنه ده چي دهر مسلمان په ذهن کي را پیدا کیږي او ددې ځواب الله تعالیﷻ د (سورة الاعراف په ۱۸۷ ایت) کي په دې ډول بیان کړی دی.

ژباړه:(( **دوی ستا څخه د قیامت په اړه پوښتنه کوي چي د هغه لنګر اچول به کله وي؟ ووایه چي بې شکه د هغه پوهه (یوازي) زما له پالونکي سره ده، هم هغه به يې په خپل وخت را ښکاره کړي او ځمکه کي به هغه سخت مهال وي** [1])) ترپایه ...

بیا الله تعالیﷻ بل ځای فرمایي:

ژباړه:((**نو ژر به دوی (د انکار په توګه) تاته خپل سرونه و ښوروي او وبه وايي: هغه (بیا راژوندي کیدل) کله دي؟ ورته ووایه ښایي چي نژدې وي**[2]))

---

[1] سورة اعراف ایت نمبر ۱۸۷

[2] سورة بن اسرائیل ایت ۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوانیو انبیاوو علیهم السلام هم د قیامت علامې بیان کړي دي دا چې د حضرت محمدﷺ وروسته کوم بل نبي نه راځي، ځکه نو هغوی په تفصیلي ډول د قیامت په اړه معلومات ورکړي دي.

**((له حذیفه رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ زموږ په منځ کې و درید او په هم دې ولاړه کې یې تر قیامته پورې کومه دا سې پېښه نده پرې ایښې چې موږ ته یې نه وي ویلې، چاچې څه یاد کړه هغه یې یاد کړه او چې هیرسوه هغه هیر سوه او حضورﷺ چې موږ ته د کومو پېښو خبر راکړ په هغه کې چې کوم هیر سوي وو چې کله هم زما مخې ته راسي داسې وي لکه څوک چې ورک سوی وي د هغه څیره هیریږي، خو کله چې بیا پر هغه نظر پریوځي سم دستې یاد ته راځي[1] ))**

قرآن کریم چې د قیامت کومې نښې بیان کړې دي هغه زیاتره داسې علامې دي چې قیامت ورڅخه نږدې څرګندیږي، په داسې حال کې چې په احادیثو کې نږدې او لیرې د هر پېر (زمان) ډول- ډول علامې بیان

---

1 صحیح مسلم ۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوي دي، (علامه محمد بن عبدالرسول برزنجيرحمه الله) په خپل کتاب کي د قيامت نښي پر دري ډوله ويشلي دي:

1. علامات بعيده (ليري نښي)
2. علامات متوسطه (منځنۍ نښي)
3. علامات قريبه ( نږدې نښي)

بعيده نښي هغه دي چي ډير پخوا را ښکاره سوي دي، دې ته بعيده ځکه ويل کيږي چي د هغه او قيامت تر منځ نسبتاً فاصله زياته وي د بيلګي په توګه د حضورﷺ بعثت (د حضورﷺ راڅرګنديدل او جنګونه) او دا ټول واقعات د قرآن کريم او احاديثو له مخي د قيامت نښي دي چي ښکاره سوي دي، د هغو څخه يو فتنه د (تاتار) ده چي د هغه خبرتيا د بخاري، مسلم، ابوداود، ترمذي او ابن ماجه په احاديثو کي روايت سوې ده، د صحيح بخاري الفاظ دا دي:

**((د حضرت ابو هريره رضي الله عنه روايت دی چي، رسول اللهﷺ وفرمايل: پر تاسو تر هغه قيامت نه راځي  څو تاسو د ترکيانو سره جګړه ونه کړئ چي  هغوی به کوچنۍ سترګي، سره مخونه، پيتي او کوچنۍ پزي ولري، څيرې  به يې(په ګرديوالي او پنډ والي) کي هغه سپر ته ورته وي چي ګردچاپيره ورباندي څرمن غوړول سوې وي او قيامت تر هغو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نه راځي چي تاسو د یوه داسي قوم سره ونه جنګیږی، چي د هغوی څپلی به د وېښتانو جوړي وي[1].))**

په دې احادیثو کي د کوم قوم سره چي د مسلمانانو د جنګ خبر ورکړل سوی دی د ځینو عالمانو په اند دا هغه (تاتار) وو چي له ترکستانه د الهی عذاب په توګه پر مسلمانانو را مات سول، رسول الله ﷺ چي ددې قوم په اړه کوم وضاحت ورکړی دی هغه ټول د تاتارو په فتنو کي ښکاره سو، دا فتنه په کال ٦٥٤هـ ل کي هغه وخت خپل اوج ته ورسیده چي کله د تاتاریانو په لاس د بغداد د سقوط عبرتناکه پېښه را منځ ته سوه، هغوی د بنوعباس وروستی خلیفه (مستعصم باالله) وواژه او د اسلام ډېری هیوادونه د هغوی لاس ته ولوېدل، دمسلم شارح (علامه نووي رحمه الله) دا دوره په خپلو سترګو لیدلې (هغه په ٦٣١ هجري کال کي زېږېدلی او په ٦٧٦ هجري کال کي یې وفات کړی) هغه ددې حدیث په اړه په خپل (شرح مسلم) کي لیکي:

ژباړه:((**دا ټولي وړاندویني د رسول الله ﷺ معجزه ده ځکه د کومو (ترکانو) سره چي جنګ وسو په هغو کي هغه ټول صفتونه موجود وو چي رسول الله ﷺ بیان کړي وو کوچنی سترګي، سره مخونه،**

[1] صحیح بخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کوچنۍ او پیتي پزي، پراخي څېرې. د هغوی څېرې هغه سپر (ډهال) ته ورته وې چي شاوخوا وربانديي چرم غوړېدلی وي او هغوی به د ورېښتانو څپلۍ په پښو کړي وې؛ مقصد دا چي دا ډول کسان ددې ټولو صفتونو سره زموږ په پېر کي موجود دي، مسلمانان له هغوی سره بیا بیا جنګیدلي او اوس هم د هغوی سره جنګ روان دی، موږ خدای ته دعا کوو چي په هر حال کي برى د مسلمانانو په برخه سي او اللهﷻ دي مسلمانان په خپل فضل او کرم کي و ساتي خپل رسولﷺ چي هیڅکله د خپل نفس څخه نه دی ږغیدلی، څه چي یې ویلي هغه وحي دي چي ورته را لېږل سوي وې.**[1]))

د (جامعه اظهر پروفیسر امین محمد جمال) وینا ده چي: دا واقعه (د ترکانو سره جنګ) اوس نسته او دا د قیامت د لویو نښو په لړ کي را څرګنده سوه، په دې برخه کي د نورو علماوو په اند دې قوم یاني غالباً ترکمنستان او دې ته ورته خلکو سره به په راتلونکي کي جګړه کیږي، دا معلومه نده چي دا جنګ به د دجال تر را وتو مخکي کیږي او که وروسته، په یاد ولرئ چي ددې قوم سره یو جهاد د (حضرت عتیبه بن مسلم باهليرحمه الله) د واکمنۍ پر مهال هغه وخت وسو کله چي بخارا، سمرقند، اذربایجان او نور فتح سوي وو او هغه ټول اوس بیا ازاد سوي دي لیکن په

---

[1] شرح نووي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليري(بعيده) نښو کي يو هم د حجاز لوی اور (نار حجاز) دی چي د هغه خبر په بخاري او مسلم شريف کي ورکړل سوی دی، په دې کي هيڅ اختلاف نسته،

په بخاري شريف کي د حضرت ابو هريره ﷛ څخه روايت دی:

ژباړه: رسول الله ﷺ وفرمايل: ((**تر هغه قيامت نه راځي څو د حجاز د مځکي څخه يو اور را ووځي او په بصرې کي به د اوښانو غاړې و بريښوي**[1])).

په دې حديث کي د بصرې يادونه سوې ده، خو دا د عراق بصره نه، بلکه د مديني منورې او د دمشق په منځ کي د شام يو مشهور ښار دی چي د دمشق څخه شاوخوا ٤٨ ميله ليري پروت دی، دا هغه ځای دی چي ( بُحيره) نومي راهب دحضورﷺ په ليدو سره د هغه د نبي کېدو وړاندوينه کړې وه، د يو شمېر عالمانو په نظر دا د هغه (اور) يادونه ده چي د (٦٥٤ هجري) کال د جمادي الثاني(دوهمي خور) تر ١٢مي وروسته د ميلونو په پراخوالي غوړېدلی وو، دا (اور) تر ٢٧م رجب، ياني تر ٥٢ ورځو پوري بلېدی او د علامه نووي (د مسلم شارح) په وينا دا اور د مديني منورې د ختيځي څنډې د (حرا) د مقام څخه راپورته سو او د هغه روښنايي په مکه

[1] بخاري او مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library


مکرمه حتي د حديث د وړاندويني سره سم د (بصرې) غوندي تر ليري ځايونو پوري وليدل سوه ، (ابواسامه) فرمايي، ژباړه: په دمشق کي زموږ پر ديوالونو د لمر رڼا دوه برابره سوه، موږ حيران وو چي دا څه علت دی، تر دې چي موږ ته ددې اور په اړوند خبر راغی. ددې اور په اړه يو بل عالم (علامه قطب الدين التستلانيرَحِمَهُ اللهُ) چي خپله د اور لګېدو پرمهال په مکه مکرمه کي موجود و، په خپله رساله کي داسي ليکي:

((... کله چي (اور) تر يوه داسي کاڼي ورسيدی چي د مدينې د حرم په حد کي داخل و مړ او يخ سو)).

د هغې زمانې يو بل عالم قاضي القضاة (صدرالدين بزميرَحِمَهُ اللهُ) دی چي د اور پر مهال په (بصره) کي و هغه نوم وتي مورخ او مفسر (ابن کثير) ته وويل چي ما په (بصرې) کي د خلکو څخه واورېدل چي موږ ددې اور په رڼا کي د اوښانو غاړې روښانه وليدې ياني هغه خبره چي په حديث کي هم داسي راغلې وه چي د دې اور له امله به په (بصره) کي د اوښانو غاړې روښانه سي، وروسته د صحيح بخاري او مسلم په دې حديث شريف کي د يوه دعوت لپاره د دوو لويو ډلو د مهم جنګ يادونه سوې ده، شارح حديث (حافظ ابن حجر) او نور علما په اکثريت ډول پر دې خبره يوه خوله دي چي دا د (صفين) د نښتي يادونه ده چي د حضرت عليرَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر معاویه رضي الله عنه ترمنځ د صفین په سیمه کې سوې وه چې د فرات سیند ته نږدې پرته سیمه ده.

دا د (۳۷ هجري یا ٦٥٧ میلادي) کلونو پېښه ده، حضرت علي رضي الله عنه د خپل پوځ سره د کوفې څخه دلته راغلی و، خو شامیان له مخکې نه په دې سیمه کې تم سوی وو او د هغه تېولۍ (فر[1]ات) ته د تلونکي سړک پر سر په کمین کې ناست وه، حضرت علي رضي الله عنه که هغه ته هر څه په تنګار وويل چې موږ د جګړې لپاره نه یو راغلي او د امیر معاویه رضي الله عنه سلاکار عمرو بن العاص رضي الله عنه حضرت معاویه رضي الله عنه ته د تصفیې مشوره ورکړه خو هغه و نه منل هغه ټنګار کاوه چې د خلیفه عثمان غني رضي الله عنه قاتلین دې هغه ته و سپارل سي، د صفري په میاشت کې دا جنګ پیل سو، ډېر نوم وتي شخصیتونو او صحابه کرامو په دې جګړه کې برخه لرله.

همدا ډول په صحیح مسلم کې د حضرت عمر بن خطاب څخه روایت دی چې حضور ﷺ و فرمایل: (( **نوکره به خپل خاوند و زیږوي او دا چې**

[1] فرات هغه سیند دی چې د (جلي د سیند) سره چې د بین النهرین (اوسنی عراق) لرغونی مدنیت جوړ کړی دی. و ګورئ، تمدن شرق(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تاسو به ګورئ چي لڅي پښې ،لڅ لغړ او محتاج شپانه (څاروي څروونکي) به لوړي لوړي ودانۍ جوړي کړي**[1])).

د دې حديث د لومړۍ برخي په اړه د يوشمير عالمانو دوېناوو له مخي په وروسته کي دلته را منځ ته سويو اسلامي افتونو ته اشاره سوې ده چي پکښي په زياته اندازه مينځياني د جنګي زندانيانو په ډول را وړل سوې، ښکاره ده، دې مينځيانو هغه څوک و زېږ ول چي د دوى د څښتنانو اولاده وه، خو يو شمېر عالمان بيا په دې اند دي چي دې حديث کي د اولاد دنافرمانۍ کنايې پرته ده، ياني لور به د مور سره داسي چلند کوي لکه مور چي د هغه مينځه وي، په هر صورت حديث مطلب چي په دې دواړو نظرياتو کي هر يو وي، په اوس وخت کي تر سره سوي او ليدل سوي دي. د حديث شريف دوهمه برخه چي لڅ او اړ شپانه (څاروي څروونکي) به لوړي لوړي ودانۍ جوړي کړي؛ که تاسي نن عربي هيوادونو ته نظر وکړئ، نو دا نښې په څرګند ډول ليدلی سئ.

په مشکوة شريف کي د حضرت اسامه ابن زيد ﵁ څخه روايت دی: ژباړه:

((**رسول الله ﷺ د مدينې پر يو لوړ کور و ختی او صحابه وو ته يې**

[1] صحيح مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خطاب و کړ: ((آيا تاسو هغه څه وينئ چي زه يې وينم ؟)) اصحابو عرض وکړ (( يا رسول اللهﷺ موږ يې نه وينو )) هغه ﷺ و فرمايل زه هغه فتنې وينم چي ستاسو پر کور داسي اوري لکه باران چي اوري[1]))**

په دې حديث شريف کې رسول اللهﷺ د ((ستاسو پر کورونو باندي)) لفظ سره يو ځاى د ((فتنو د باران)) يادونه کړې ده، د اوسني وخت عالمان په کورونو کې د (تلويزيون، وي سي ډى او ډش) له لياري د شيطانت واکمني د هغه فتنو سره تړي چي ورته اشاره سوې ده.

د قيامت د نښو په بهيرکې يو بل حديث متفق عليه ياني صحيح بخاري او صحيح مسلم دواړو روايت کړى دى په داسي حال کې چي په دې لړۍ کې د انجيل کتاب په دانيال کې هم يوه وړاندوينه سوې ده. ژباړه:حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ و فرمايل: ((زما دې په هغه ذات قسم وي چي زما روح يې په واک کې دى چي زمانې به يو د بل سره نژدې سي او علم به ټول کړل سي او فتنې به را ښکاره سي او پر زړونو

[1] مشکوة شريف

(c) ketabton.com: The Digital Library



به بخل و غوړیږي او (هرج) به ډېر وي، اصحابو وپوښتل چي یا رسول الله ﷺ هرج څه دی؟ و یې فرمایل: ((وژني او لوټ ماري[1]))

که تېرو ١٤ پیړیو کي ښکاره جګړو ته و کتل سي، نو دا معلومیږي چي دا جګړې سیمه ایزي وې، خو په وروستیو پیړیو کي موږ د هغه جنګونو پیل و لید چي د ټول انسانیت سیاسي، روحي او ټولنیز نظام یې دړي وړي کړ، په لومړۍ نړیواله جګړه (١٩١٤-١٩١٨ز) کي لس میلیونه تنه مړه او شل میلونه ژوبل سوه، په داسي حال کي چي په دوهمه نړیواله جګړه (١٩٤٥-١٩٣٩ز)کي شاوخوا شل میلونه اروپایان ووژل سوه او دا شمېر له پنځوسومیلیونو واوښت او هم دې جګړې په تاریخ کي د انسان بدترینه وحشي څېره ثبت کړه، ساینس اټومي او کیمیاوي وسلې جوړې کړې او ددې جګړو د وحشت او بربریت نوی مفهوم یې وړاندي کړ، تر دې وروسته د چین، کوریا، ګوائټې مالا، اندونیزیا، کیوبا، کانګو، لاوس، ویت نام، کمبوډیا، لبنان، ګریناډا، لیبیا، ایل سلواډور، نکاراګوا، پاناما، کشمیر، چیچنیا، فلسطین، یوګوسلاویه، افغانستان او عراق حالات ستاسو په وړاندي دي او ښه پرې پوهیږئ.

د تیري پېړۍ بلا د میلونونو بې ګناه انسانانو د ښارګونو ویني و څښلې.

---

[1] بخاري، مسلم او مشکوة دریم ټوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه حدیث کي حضورﷺ فرمایلي چي لوی ښارونه به داسي نیست او نابود سي لکه وړاندي چي یې هیڅ وجود نه درلود، په تیره یوه پېړۍ کي د اټومي وسلو کارولو سره د جاپان د دوه لویو ښارونو (هیروشیما) او (ناګاساکي) تباهي موږ ته ددې وړاندویني ربښتنوالی را ښیي.

د بائبل وعده نامه پخوانی کتاب د دانیال[1] د دولسم باب (۳ او ۴ ایات) د ژباړي سره سم:

**((عقلمند مخور به د اسمان د ټولي روښنایي سره سره و ځلیږي او چاچي ډیری کسانو ته د حق لار ښوودلې وي هغه به د اسمان د ستورو غوندي ځلیږي، هغې (فرښتې) زما څخه و پوښتل چي ای دانیال ! اوس تاسو خپلي خبري و دروئ او کتاب تر قیامته پوري خوندي کړه، ډیر خلك به دلته هلته منډې وهي او د علم کثرت به وي[2]))**

دلته باید دا هم روښانه کړم چي د بائبل د (ګډنیوز" ښه خبر"په ۱۲ باب) کي د علم د کثرت پرته دا عبارت په دې ډول دی:

---

[1]دانیال: د بني اسرائیلو د یو پیغمبر نوم وو.(فرهنګ عمید، مخ ۱۲۳۸) (ژباړن)

[2]۱۲،۳،۴ دانیال

(c) ketabton.com: The Digital Library


**((دا مهال  ډېرى خلك په دې باندې د پوهيدلو لپاره چې څه پېښېدونكي دي خپل وخت ضايع كوي[1]))**

په ښكاره ډول  دحضرت ابو هريره ﷺ څخه روايت سوي حديث كې د (علم) د كمښت  خبره سوې او د بائبل په كتاب كې د علم ډېرښت ياد سوى په دواړو كې اختلاف ليدل كيږي، مگر زما په نظر دا اختلاف ندى، موږ چې نن په كوم  پېر (زمانه)  كې ژوند كوو، دې ته د (علمي) درياب دوره  ويل كيږي او د كمپيوټر تر ايجاد وروسته د معلو[2]ماتو هغه سيلاب راغى چې په وړاندې يې انسان ناتوانه معلوميږي، څه موده وړاندې په لندن كې يو سيمينار جوړ سو چې سرليك يې وو دمالوماتوزياتول (Information Overload) چې په هغه كې د بيلا بيلو علمي ادارو پوهانو مقالې ولوستلې، په دې سمينار كې دا خبره روښانه سوه، په نړۍ كې چې تر دې دمه په هر پېړ كې څومره ساينسپوهان پيدا سوي،  تر هغوى زيات شمېر اوس ژوندي دي، هغوى ساينس ته  په هره  دقيقه كې  دوه زره پاڼې معلومات زياتوي، نن هره ورځ شاوخوا درې سوه  ميليونه پاڼې پر انټر نيټ باندې خپريږي او د امريكا د روغتيا د اتحاديې د پخواني مشر  (ډاكټر

---

[1] گډنيوز بائبل ، كتاب دانيال ، باب ۱۲ مخ ۸۸۸ برتانياچاپ

[2] (دلته ما د علم كليمه نده كارولې، بلكه د معلوماتو كليمه مې و كارول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایکون) په وینا د طبي نړۍ د ټولو معلوماتو نږدې نیمه برخه هر لس کاله وروسته تر نېټې تیریږي کیږي(Outdated) کیږي.

په (۱۹۷۰ز)کال کي چي کله د امریکا فضایي بیړۍ (اپالو) په فضا کي ورکه سوه، نو د امریکا فضایي اداري (ناسا) د هغه د پلټلو د طریقې پر موندلو (۹۰) دقیقې وخت تېر کړ.

که چیري هغه ساینس پوهانو کاغذ او قلم وراخستی وای او هغه معلومات، حساب او کتاب یې په قلم لیکلي وای، د ناسا دیوه مجرب کس د وینا پر اساس ددې کار لپاره لس لکه کاله وخت په کار وو.

څکه نو ددې حدیث دا ټکي چي (علم به ټول کړل سي) له قیاس څخه لیري ښکاري لیکن زه دلته غواړم دا روښانه کړم چي دا ټول د علم سیلاب نه، بلکه د معلوماتو سیلاب دی او د معلوماتو همدا سیلاب هغه علم هم د ځان سره وړي، چي د انسان لپاره په دې نړۍ کي د پاك ژوند او په اخرت کي د همیشني ارام پیغام لري.

ددې زماني د معلوماتو زیاتونکو څخه و پوښتئ، چي آیا هغوی د یوه عام انسان لپاره د لا ښه پوهولو لپاره څه کړي دي؟ آیاانسان د کایناتو د خالق په اړه له مخکي نه زیات پوهیدلی؟ آیا د نن انسان د معلوماتو په رڼا کي د جهالت څخه ځان ژغورلی؟ ایا د خپلوۍ مزي تر پخوا زیات ټینګ سوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا دې علم دینداره او رښتني مشران سره را غونډ کړي؟ په لوړه او غریبۍ کې کمښت راغلی؟ آیا موږ د یوه قدرتي آفت څخه په خپله ځان ژغورلای سو؟ آیا موږ د جګړو تباه کوونکي زیانونه احساس کړي او د ظلم څخه د پاکې ټولنې اصول مو عملي کړي ؟ ایا د ساینس پوهانو په یوه دقیقه کې د دې دوه زره پاڼو د معلوماتو خزانې د انسانانو د غمونو علاج کړی دی؟ ځکه نو په حدیث مبارك کې چې د کوم علم د ټولیدو خبر ورکړل سوی هغه د قرآن او سنت څخه پرته کوم بل علم ندی، زه په دې خبر یم، چې په نړۍ کې نن سبا د ونو شمیر څومره دی، په سمندر کې څومره مخلوقات ژوند کوي، په ځنګلونو کې څومره زمریان او پړانګان اوسیږي او پر آسمان دځلیدونکو ستورو شمېر څومره دی، خو په دې نه یم خبر چې زما خالق څوك دی، یو دی، او که تر دې زیات!؟ زه هغه ولي دې نړۍ ته را لیږلی یم؛ نو زما لپاره دا ټول معلومات د ځانې عذاب په مانا دي، هغه حدیث چې مخکې مو بیان کړ په هغه کې حضورﷺ د علم تر ټولیدو وروسته د (هرج) خبر ورکړی وو او د اصحابو د پوښتنې په ځواب کې یې فرمایلي چې د (هرج) څخه مراد قتل او تباهي ده.

په دې برخه کې یو بل حدیث ته ځیر سئ:

**(( له حضرت ابو هریره ﷺ څخه روایت دی، چې حضورﷺ وفرمایل: قسم دي په هغه ذات وي چې په واك کې یې زما روح دی،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دنیا به تر هغو نه پنا کیږي، څو پر خلکو داسي ورځ را نسي چي قاتل به نه پوهیږي چي مقتول یې ولي وژلی؟ او مقتول ته به دا نه وي معلومه چي هغه ولي ووژل سو؟ اصحابو وپوښتل داسي ولي کیږي، ویې فرمایل:** ((هرج، قاتل او مقتول به دواړه جهنم ته ځي[1])).

نن سبا موږ په خپل چاپیریال، خپلو ښارونو کي په خپلو سترګو وینو، چي دا وړاندوینه په څه ډول پوره سوې او د انسانیت د تاریخ یو شرمېدلی باب دی، نه قاتل ته دا معلومه ده چي ولي هغه قتل کوي؟ او نه هم مقتول په دې پوهیږي چي ولي وژل کیږي او دا هر څه د ژبني، سیاسي، قومي او مذهبي مخالفتونوپر بنسټ تر سره کیږي.

د قیامت د نږدې کېدو په نښو کي د قتل او تباهی د ډېریدو خبر په مخکنیو صحیفو کي هم شتون لري، د انجیل متي ( Gospel of Matthew) په وروستنی باب کي حضرت عیسٰی علیه السلام خپلو شاګردانو ته د دنیا د اخري زماني په اړه د مختلیفو واقعاتو ذکر کوي، (د انجیل متي د ۹ نمبر ایات ژباړه : )

---

[1] مشکواة د مسلم په حواله حدیث ۵۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



**((بیا به هغه خلك تاسو د بربادۍ لپاره خلکو ته و سپاري او تاسو به قتل کړي او ټول قومونه  به ستاسو څخه زما د نوم په وجه نفرت کوي**[1])).

باید روښانه کړم چې دلته حضرت عیسْی علیه السلام د اسمان څخه د خپل راتگ د مخکې حالاتو خبر ورکوي.

په صحیح احادیثو کې د وژنو او تباهۍ د عام کېدو وړاندویني  په بیا بیا ذکر سوي دي.

که یوازې امریکا ته نظر وکړو، د(FBI) د راپور سره سم هلته په هرو ۲۲ دقیقو کې یو کس وژل کیږي، په هرو څلورو دقیقو کې یوه جبري زنا تر سره کیږي، باید روښانه کړم چې دا یوازې د امریکا ارقام دي  څکه دلته د زنا څخه مراد هغه واقعه ده چې په هغه کې د ښځې رضا شامله نه وي، په هرو (٢٦ ثانیو) کې یوه شوکه را منځ ته کیږي ، په تیرو (۳۰ کلونو) کې د قتل او ځان وژني په پېښو کې دولس لکه کسان دخپل ژوند څخه لاس په سر سوي، دا شمېر تر  هغه ټولو کسانو زیات دی، چې د امریکا په تاریخي جگړو کې وژل سوي.

---

[1]انجیل متي ۹،۲۴،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په امريکا کي د جرمونو شمېرونکي اداري ( Counter on Crime in America) په نوم يو غير دولتي اداره په خپل راپور کي کاږي: امريکا نن سبا د ظلم خوښوونکو جرمونو ټك ټك کوونکی يو بم دی چي شېبه په شېبه يې د چاودني امکان ډېرېږي، يادي اداري ادعا کړې چي د جرمونو اصلي شمېر د(FBI)  تر ادعا د (٥ څخه تر ٦ سلني) زيات دی  او په امريکا کي د ځان وژني پېښي په ورځ کي ۱۳۷ اټکل سوي دي.

دلته زه د هغه هيواد شمېر او ارقام يادوم چي وګړي يې د تهذيب او تمدن، علم او ځېرني، جمهوريت خوښوونکي  او د ښځو د ازادۍ تر ټولو ستر منونکي دي، که نوري نړۍ ته نظر واړوو، نو خبره به چيري ورسيږي  دا اندازه تاسو خپله ولګوئ، مګر ستاسو سره د يوه ټکي په شريکولو سره زه خوشحاله کيږم چي د نړيوال کلني راپور سره سم اوس هم په نړۍ کي د قتل، لوټلو او زنا پېښي تر ټولو لږ په سعودي عرب، متحده عرب امارات، ايران، پاکستان، هندستان او اسرايلو غوندي هيوادونو کي کيږي، هلته تر يو بريده مذهب اوس هم ژوندی دی، هغه که هر مذهب هم وي، په غربي هيوادونو کي چي مذهب له غوره نيول کيږي او له ژوند څخه ايستل کيږي د هغه ځای له ارقامو او شميرو څخه دا هر څه په ښکاره ډول څرګنديږي، لنډه دا چي د رسول اللهﷺ داسي معجزې چي د هغهﷺ د رحلت څخه پيړۍ وروسته ښکاره سوي او له شک پرته په راتلونکي کي به هم يوه يوه را

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاره کېږي او د راتلونکو نسلونو لپاره به د هغهﷺ د صداقت او رښتنولی نوې بیلګه وي.

په دې کې منځنی نښې را څرګندې سوې، خو تر اوسه پای ته ندي رسیدلي، په دې کې ورځ په ورځ زیاتوالی راځي او همداسې به وي، تر څو چې دریم ډول نښې څرګندیدا به پیل سي، د بیلګې په ډول د صحیح بخاري دا حدیث شریف:

**((کله چې چارې د نا اهله خلکو په واك کې ورکړل سي، نو د قیامت انتظار وکړئ[1]))**

د مالك ابي عامر او ابي مالك اشعريرضي الله عنهما څخه روایت دی چې حضورﷺ وفرمایل: **((زما په امت کې به یو شمیر کسان داسې وي چې وریښمیني جامې اغوستل، شراب څښل او سندرې ږغول به حلال ګڼي.[2]))**

**((ځان خوښونه او حرث به په ټولنه کې عادي وګرځي.[3]))**

---

[1] صحیح بخاري

[2] بخاري شریف

[3] صحیح مسلم ، ابن ماجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(( یوازي به پیژنده کسانو ته سلام اچول کیږي. [1]))

(( رشوت به د ډالۍ بڼه غوره کړي.[2] ))

(( خلك به د ډیر لږ څه په بدل کي خپل ایمان خرڅوي.[3] ))

((طلاق به یوه عادي خبره و ګڼل سي.[4] ))

((جنسي بې لاری به عادي سي[5]. ))

((چي کله قیامت نږدې سي زنا کاري به په خلکوکي عادي وګرځي[6].))

(( نارینه به د ښځو او ښځي به د نارینوو بڼه خپله کړي[7]. ))

---

[1] رموز احادیث ، احمد خاموشخوائي

[2] احوال یوم القیامه، علامه سفراني

[3] احمد

4 احوال یوم القیامه، علامه سفراني

[5] بخاري

[6] کتاب الفتان ، الحستیمي

[7] درمنصور ، علامه حلال الدین سیوطي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**((خلك به په لواطت  کي را ګير سي**.[1] ))

د روغتيا د نړيوالي اداري  سره سم هر کال تر ۳۳۳ ميليونه زيات کسان د جنسي ناروغيو ښکار کيږي، په دې ناروغيو کي ايډز دټولو په سر کي راځي، ددې اداري د لومړني تشخيص څخه وروسته په ډاګه سوه چي شاوخوا لس ميليونه کسانو ددې ناروغۍ له امله ژوند له لاسه ورکړی.

د اخلاقي ذلت په ډنډ کي ډوبېدونکې ټولنه اوس لواطت کوونکو ته د قانوني واده کولو حق ورکوي. د نړۍ په بېلابېلو برخو کي د لواطت کوونکو(همجنس بازانو) راڅرګندېدل هغه څه دي چي تردې وړاندي تاريخ هيڅ کله داسي  بې کاره بېلګه نه ده وړاندي کړې.

موږ ته ددغو  ټولنيزو تباهيو اړوند رسول الله ﷺ (۱٤سوه کاله) وړاندي  په خپلو احاديثو کي وړاندوينه کړې وه.

په همدغو  ګناهونو کي اخته د لوط قوم د الله د قهر نښه وګرځيدل او فناسوه او نن هم د مردار بحر تر اوبو لاندي د هغوی نښي د نړۍ لپاره د عبرت باعث دي او بيا هغه صحيح حديث چي طبراني د ابوامية عجمي څخه روايت کړی او ابن مبارک هم د هغه راوي دی وايي حضور ﷺ و فرمايل:

[1] منتخب کنزالاعمال ، المقتي المهندي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژباړه:((**د قیامت د نښو څخه یوه هم د کم عمره کسانو څخه د علم لټه ده**[1]))

ددې حدیث شریف مطلب دا دی چې د هغه کسانو څخه به دیني مسلې پوښتل کیږي چې هغوی به پر علم واک و نه لري او علم یې پوخ نه وي، هغوی به خپله هم گمراه وي او نور به هم گمراه کړي، گیر چاپیره نظر واچوئ، ددې حدیث رښتنوالی به تاسو خپله وگورئ، او دا یې هم فرمایلي چې د احمق غوندي به په مجلس کي کښیني.

او یا هغه صحیح حدیث چې احمد او طبراني یې له حضرت ابو هریره څخه روایت کوي فرمایي:

ژباړه:((**نبي کریمﷺ و فرمایل چې یوه زمانه به داسې راسي چې پر امین ( امانت ساتوونکو ) کسانو به تورونه پوري سي او تهمتي ( تورن ) کسان به امین و بلل سي، نوهغه وخت به روبیضه خبري به کوي، د حضورﷺ څخه و پوښتل سوه چې یا رسول الله روبیضه څه شی دی؟**

[1] طبراني

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ځواب ورکړل سو، هغه احمق کسان چي د عامو خلکو په چارو کي به بحث کوي**[1]))

د قیامت یوه بله نښه د تجارت د ډېروالي او د هغه د پراختیا په اړه یادونه ده، صحیح حدیث چي ابن عفان د حضرت ابو هریره ﷺ څخه روایت کړی چي نبی کریم ﷺ و فرمایل: درواغ به ډېر ویل کیږي، وخت به ګړندی روان او بازارونه ( تجارتي مارکیټونه ) به سره نږدې سي.

ژباړه:((**پرخلکو یو وخت داسي هم راتلونکی دی، چي ددې خبري پروابه نه کوي چي ایا هغه حلال مال ګټي او که حرام؟** [2]))

او په یوه بل حدیث کي حضور ﷺ فرمایلي: ((**په وروستۍ زمانه کي به خلک د کوتري د ججري غوندي تور رنګ (نکریزو ته ورته رنګ) لګوي، هغوی به د جنت بوی ونه ګوري** [3] )).

---

[1] طبراني

[2] بخاري شریف ، نسائي

[3] ابوداود ، نسايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ډیره مهمه وړاندوینه چي پکي د حضورﷺ اشاره د موټرو خواته ده او هغه ابن حبان او حاکمرضي الله عنهما د مستدرک څخه روایت کړی دی، د هغه په اړه نبي کریمﷺ و فرمایل:

ژباړه:((**په اخره زمانه کي به زما د امت یو شمېر خلک د پالانو ته ورته ځین باندي سپریږي او د مسجد په دروازه کي به کښته کیږي**[1]))

حضورﷺ و فرمایل: ((**قیامت تر هغو نه راځي، څو چي د زلزلو ډېربښت نه وي راغلی**[2]))

په قدرتي افتونو کي په تباه کونکي ډول چي انسان يې تر ټولو زيات اغېزمن کړی هغه زلزلې دي، دالله جل جلاله دغه قهر په هر وخت کي په هر ځای کي پر هر سر باندي نازلیدای سي او اوسني عصر نوې ټکنالوژي هم په دې کي پاته راغلې چي انسان له دې افت څخه و ژغوري، په (۱۹۹۵ز) کال کي د جاپان تر ټولو غټ صنعتي او تجارتي ښار (ټوبې) کي زلزله د قدرت په وړاندي د انساني پرمختګ د ماتي ښه څرګنده بیلګه ده، چي هلته یوازي د شلو ثانیو په ټکانونو کي د ۱۰۰ ملیارده ډالرو زیان

---

[1] مستدرک

[2] بخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library


واوښت، په تیره پیړۍ کي د زلزلو تاریخ څرګنده کړه چي د زلزلو په شدت او پیښو کي د پام وړ زیاتوالی را غلی دی، په (۲۰۰۲ زیږدیز) کال کي په ټوله نړۍ کي د زلزلو له امله ۱۷۱۱کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی په (۲۰۰۳ز)کي دا شمیر ٤۳۸۱۹ ته ورسیدی، چي د تېر کال په پرتله ۲۵ برابره زیاتوالی ښيي، په دې کال کي د راغلو زلزلو شمېر په تیرو شلو کلونو کي بې ساری وو.

د قرآن کریم په (۹۹م سورة) چي د (زلزلې) په نوم دی او( ۸) اته ایاتونه لري، پکي د قیامت تر ورځي مخکي د راتلونکو زلزلو ذکر را غلی.

ما لږ وړاندي د وخت د ژرتیریدو په اړه تفصیل وړاندي کړ، یوې بلې وړاندویني ته ځیر سئ!

ژباړه:((**له حضرت انس ﷺ څخه روایت دی، حضرت محمدﷺ و فرمایل چي قیامت تر هغه نه راځي، څو چي زماني یوبل ته سره نږدې نسي، کال به د میاشتي برابر سي او میاشت به د اونۍ په څیر، اونۍ به د ورځي په څیر، ورځ د ساعت په اندازه او ساعت به د یوه بڅرکي ځای و نیسي، چي د ځلیدو وروسته سمدستي مري**[1]))

---

[1] مشکوة د ترمیذي په حواله حدیث شمیره ٥۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته دا پوښتنه راپورته کیږي، چي که په کال کي هومره ورځي وي، څومره چي په مخکنیو زمانو کي وې، د بیلګي په توګه په عیسوي کال کي ۳٦٥,۲٥ ورځي او په اسلامي کال کي ۳٥٤,۳٦ورځي دي او مخکي هم دا شمېر دومره وو، په همدې ترتیب د میاشتو ، اونیو ، ورځو او ساعتونو هم، همدا حال دی، نو بیا کال د میاشتي سره د برابریدو څه مانا ده؟

ددې پوښتني غیر فلسفیانه او حقیقت باندي ولاړ لنډ ځواب ښایي همدومره وي چي د وخت څخه به برکت ټول کړل سي او برکت د داسي څه نوم دی که په هر شي کي واچول سي دهغه ګټې څوبرابره زیاتیږي.

که دا برکت په وخت کي واچول سي نو په لږ وخت کي به د پیړیو کار تر سره سي که په مال کي واچول سي نو د زرګونو کار په څو سوه روپیو تر سره کیږي او که ژوند او عمر کي واچول سي نو انسان به په لنډ ژوند کي دومره کار وکړي چي لوی لوی ادارې یې نسي کولای.

د بیلګي په توګه حضرت امام غزاليﷺ یوازي په ٥٥کاله عمر کي په سلګونو موضوعاتو باندي دومره تالفات پرې ایښي چي په اوس وخت کي ٦٠ کاله عمر لرونکی کس هغه لوستلای نسي، د هغه یوازي یاقوت الصنادید ٤٠ ټوکه لري، د حضور ﷺ هغه دعا خو به مو په یاد وي چي وایي ای: الله! تاچي ماته څه راکړي په هغه کي برکت واچوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library


د قیامت د علامو په بیان کي حضورﷺ و فرمایل.

**((غریبان به په شمېر کي ډېر وي او غلي به یوازي امیرانو ته رسیږي، غریبانو ته به د هغه هیڅ ګټه نه رسیږي**[1]**))**

زموږ تاریخي نړۍ نن د مفلسی په بدترین ګرداب کي ده، ۲۵ میلیونه انسانان د څنباک له پاکو اوبو بې برخي دي او ۸۲٦ میلیونه انسانان یاني په هرو شپږو کسانو کي یو نفر دا وخت د لوږي ښکار دی، په (۱۹٦۰) زیږدیز کال کي د نړۍ د شتمنو هیوادونو اوسیدونکو ۲۰٪ خلکو د نړۍ د ۲۰ غریبو هیوادونو د ټول نفوس ۳۰ برابره زیات عاید لرل، خو تر (۱۹۹۵ز) کال پوري دا سلنه ۸۲ ته پورته سوه.

نن د نړۍ د۲۲۵شتمنو اشخاصو شتمني د ټولي نړۍ د ٤۷سلني نفوس له شتو څخه لوړه ده.

نن د بحث لړۍ هم دلته پای ته رسیږي، په راتلونکې برخه کي به د مهدي یادونه وسي، هغه څوک دی؟ کله او چیري را ښکاره کیږي؟ او د هغه تر راتګ وړاندي به نړۍ کومو مناظرو سره مخ کیږي؟ په راتلونکي بحث کي به ورنه خبر سئ.

[1] ترمذي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(( آیا پرته له قیامت څخه چي پر دوی به ناڅاپه راسي، د بل کوم شي انتظار لري؟ په داسي حال کي چي هم دا اوس يې ځيني نښانې راغلي دي، نو کله چي پر دوی (قیامت) راسي، ایا دوی ته به د پند منلو څه فرصت پاته سي[1]؟))

[1] سورة محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دوهمه برخه

اسلام علیکم! (اي، آر، وای ډیجیټل) څخه ډاکټر شاهد مسعود د پټ حقیقت (Hidden Truth) لومړی سرلیک یاني د وخت پای ( End of Time) چي د قیامت د نښو سره تړاو لري د دوهمي برخي سره راغلی دی. د لومړۍ برخي د خپریدو وروسته یو شمېر کتونکو دا پوښتني راپورته کړي چي د قیامت د نښو اړوند چي څه په قرآن کریم کي راغلي هغه لږ دي.

((د مهدي امام د ظهور، د دجال د راوتو او د حضرت عیسْی علیه سلام د را کښته کیدو په اړه په قرآن کریم کي کوم خبر نسته ... ولي؟)) زه دلته دا روښانول اړین ګڼم  په قرآن کریم کي چي د قیامت د نښانو په اړه څه راغلي هغه پر دوه ډوله دي، لومړی ډول هغه نښاني دي چي قیامت ته ډیري نږدې را ښرګندیږي په دې کي یوازي یوه داسي نښاني ده چي په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې ویل سوي دي، چي هغه د حضورﷺ په زمانه کي تر سره سوې ده یاني د (شق القمر) پېښه ځکه نو په (سورة قمر) کي اشاره ورته سوې ده.

ژباړه:(( **او قیامت نږدې راغلی او سپوږمۍ وچاودله**[1])).

پرته له دې ځومره نښانې چي په قرآن کریم کي بیان سوي، هغه ټولي قیامت ته ډېري نږدې دي، د بیلګې په ډول د (یاجوج او ماجوج) راوتل او دابة الارض (د مځکي حیوان) او نور...

زلزلې، د غرونو د پنبوغوندي په هواکي پورته کیدل، د اسمان چاودل، د حشر د ورځي او د اخرت واقعات او نور ...

خو حضورﷺ خپل اومت ته تر قیامت وړاندي دهغه ټولو کیدونکو واقعاتو یادونه کړې ده چي د راتلونکو زمانو سره تړاو لري او لکه څنګه چي ما مخکي عرض وکړ، دا نښانې درې ډوله دي، لومړی ډول هغه نښانې دي چي ښکاره سوي دي مثلاً د حجاز اور (نارالحجاز) د تاتار فتنه او نور چي ورته علامات بعیده ویل کیږي، دوهم ډول هغه نښانې دي چي ښکاره سوي دي خو پای ته نه دي رسیدلي مثلاً د وخت تیز تګ، د علم پورته

[1] سورة قمر ۱ ایات

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدل، غربت زیاتېدل، د زلزلو ډېربښت او نور. ددې ډول علامو، پای ته رسیدو سره به د قیامت لوي نښې را څرګندې سي.

د فرات د رود په اړه په مختلفو حدیثونو کي روایتونه موجود دي. تر قیامت وړاندي له فرات سیند څخه د زرو یو غر را وځي. فرات سیند له ترکیې څخه پیل، د شام او عراق څخه بهیدونکي د(جله سیند) سره ګډېږي او (شط العرب) ورنه جوړېږي او مخ ته ځي او د خلیج سره یو ځای کیږي.

د حضرت ابو هریرهؓ څخه روایت دی:

ژباړه:((**حضورﷺ وفرمایل چي قیامت نه راځي تر هغو چي د فرات له سیند څخه د سرو زرو غر، را ونه وځي، چي پر هغه به د خلکو په منځ کي قتل او ظلم وسي او په هرو سلو کسانو کي ۹۹ ووژل سي او له دوی څخه به هر کس دا وایي چي ښایي زه هغه کس یم چي نجات یې موندلی یاني خزانې باندي به واک تر لاسه کړم** ))

( صحیح مسلم ، ۳ ټوک، ۷۲۵۴ شماره حدیث )

د احادیثو په ځینو مستندو کتابونو کي دا بیان په لړ لړ توپیر سره راغلی.

علامه سیوطيؒ ددې حدیث په تشریح کي د فرات سیند د دریدلو بیان کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اصل کي دلته د جوړ سوي د اوبو بند(ایوان ډېم) د سیند د اوبو مخه ډب کړې ده. ددې بند ګیر چاپېره د ډېرو کښتونو او برېښنا دزیاتوب څخه سره زر جوړ سوي دي. دا ډېم د یوغره غوندي ښکاري دا چي خلکو ته یې خوښي نصیب کړې، ځکه نو د هغه سیمي خلک د سرو زرو د غره سره تشبه ورکوي.

(ایوان ډېم[1]) د فرات سیند پر هغه برخه په کال (۱۹۷۵ز)کي جوړ سو چي په ترکیې پوري اړه لري. داډنډ د ۳۰۰ میلیونه ډالرو په لګښت جوړ سوي. یاد ډنډ ټولني ته ۸۰۰ ملیارده ډالر ګټه کړې. دلته که د ترکیانو او کُردانو تر منځ پیښ سوي خونړي جنګونه د تاریخ له پاڼو و ګورو چي د دې ډېم د را خپلولو له پاره یې کړي، نو د دې حدیث د ربښتنولي لپاره بسنه کوي.

د مهدي امام تر راڅرګندېدو وړاندي د یوه لکۍ لرونکي ستوري د لیدل کیدو وړاندوینه هم سوې ده حضورﷺ و فرمایل:

**((د هغه د راتګ مخکي به یو لکۍ لرونکی ستوري له ختیځ څخه راپورته سي[2]))**

[1] ډنډ – د اوبو کاسه یا زخیره

[2] المتقي المهندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا بیان د امام جعفر صادق رحمه الله علیه څخه هم روایت سوی، چي فرمایلي يې دي: ((د امام تر را تګ وړاندي به د صفري په میاشت کي یو لکۍ لرونکی ستوری و لیدل سي چي نوم به يې (الکرب الزشفا) وي.))

دا ستوری په نورو مهمو وختونو کي هم لیدل سوی او اکثراً يې په نړۍ کي غټې پېښې له ځان سره راوړي دي لکه: کله د نوح علیه السلام توپان راتلو پر مهال، هغه مهال چي حضرت ابراهیم علیه السلام د نمرود په حکم اور ته و غورځول سو، هغه وخت چي د فرعون لښکر په سیند کي غرق سوی وو او د عباسیانو د خلیفه د راتلو پر مهال .

دا ستوری معمولاً له (٧٤څخه تر ٧٩) کلونو وروسته لیدل کیږي، وروستی ځل په کال (١٩٨٦ز) کي لیدل سوی او بیا به په (٢٠٦١ز) کي ولیدل سي.

امر بن شعیب رضي الله عنه څخه روایت دی چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم و فرمایل: **((د ذالحجې په میاشت کي به قبایل په منځ کي سره و جنګیږي، حاجیان به لوټ کړل سي او د (منٰی) په میدان کي به جګړه وسي چي په هغه کي به یو شمیر خلک داسي ووهل سي چي دهغوی بهېدلې وینه به تر (مقام جمرا) پوري ورسیږي)).**

(c) ketabton.com: The Digital Library


( حدیث )

په کال ۱۹۷۹ کي د نومبر پر ۲۰ مه نېټه د ماښام پر ۵ بجې تر(۵۰ زره) زیاتو مسلمانانو د خدای د کور په طواف بوخت ول چي یوه سعودي طبعه خپل کوچنی ټوپک راواخیست او پرهغوی یې ډزي پیل کړې، چي وروسته د هغه تر زرو زیات ملګرو د مسجد الحرام مهم ځایونه ونیول او د هغه واک یې په خپل لاس کي واخیست، دا محاصره دوې اونۍ روانه وه، تر هغه وروسته پر هغوی د فرانسې شخه را غوښتل سوی ګاز وکارول سو چي یاغیان یې بېهوښه کړه، خو یو یې هم بندي نه کړ او ټول یې پروخت د مرګ په خوب بیده کړه، تر دې پېښې ۷کاله وروسته زیاته خونړۍ پېښه هغه وخت رامنځ ته سوه چي کله (٤۰۲ تنو) مظاهره کوونکو حاجیان ووژل. د سعودي عرب پوځونه او د ایران حاجیان پر سپېڅلې مځکه یو بل خپل نښانه وګرځول او په دې توګه (۱٤۰۰کاله) وړاندې د بیان سوي حدیث وړاندوینه پوره سوه.

د شق القمر (د سپوږمۍ د چاودلو) معجزه تر هجرت ۵ کاله وړاندې وه، حضرت انس بن مالک رضي الله عنه شخه روایت دی چي د مکې خلکو د رسول الله ﷺ شخه غوښتنه وکړه چي هغه دې کومه معجزه ورښکاره کړي، په ځواب کي رسول الله ﷺ سپوږمۍ دوه ټوټې کړه داسې چي ددې دوو ټوټو ترمنځ د حرا غر لیدل کیدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ابن خاطر رحمه الله په خپل کتاب کي لیکلي چي د سپوږمی د چاودلو دا منظر تر هندوستان پوري و لیدل سو، په لندن کي د هند دفتر په کتابتون کي زیات لرغوني ثبوتونه موجود دي چي د حوالې نمبر يې عربي ۲۹۰۷ ۱۵۲\۱۷۳ دی. د دې تر څنګ د هندوستان دسهيل لويديځ ساحل په مالابار نومي سيمه کي يو پخوانی خبره پر خولو ګرځي چي دهغوی يو پاچا (چکرورتي فرمس) د سپوږمی د چاودلو منظر په خپلو سترګو ليدلی و چي کله هغه ته معلومه سوه چي په مکه مکرمه کي د الله پيغمبر دا معجزه ښودلې نو هغه خپل تخت خپل زوی ته و سپاره او خپله دمکې پر لور روان سو، هغه هلته رسيدو سره د رسول الله ﷺ په لاس اسلام قبول کړ او د هغه ﷺ د لارښووني سره سم خپل وهيواد ته پرلار د يمن بندرګاه (زعفر) ته نږدې يې ساه ورکړه، ترڅو پېړيو دا سيمه د هندوستاني پاچا د مزار په نوم يادېده.

په اوسني پېرکي د عالمانو په اندد(شقه) مفهوم د مځکي کيندل دي. د هغه دليل پر بنسټ چي د قرآن کريم د (سورة عبس په ۲۶م ايت ) کي بيان کړی، الله تعالی فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:((**موږ اوبه و اورولې، بیا غرونو او مځکې په ښه توګه میوې را شنې کړې او انګور او ترکاري او زیتون او خرما او ګڼ باغونه**[1])).

دلته د (شقه) کلیمه ټوټې کولو لپاره نده کارول سوې، بلکه، د مځکې د کیندلو لپاره کارول سوې ده، ځکه نو د دغو عالمانو په نزد د قیامت دا نښه په کال (۱۹٦۹ز) کې هغه وخت پوره سوه چې کله انسان سپوږمۍ ته تر سفر وروسته د جولای پر (۲۰ مه) نېټه د هغه ځای څخه ۲۱کیلو ګرامه ډبرې او خاورې را غونډې کړې. د هغوی په خبره چې د نورو انبیاوو پرته رسول اللهﷺ ته پر روایتې معجزو سربېره د قرآن کریم معجزه هم ورډالۍ سوې وه، لیکن د شق القمر (د سپوږۍ ټوټه کیدلو) کیسه د احادیثو په مستند کتاب کې داسې بیان سوې لکه مخکې چې مو بیان کړه او د علماؤو پر هغه باندې بشپړ اتفاق دی.

ددې خپرونې په لمړۍ برخه کې مې نیکۍ ته د رابلونکو دوو ډلو تر منځ د رسول اللهﷺ د وړاندوینې د حوالې په اړه وویل چې دلته د جنګ (صفین) ذکر سوی چې د حضرت علي او حضرت معاویه رضي الله عنهما تر منځ (د صفین) په سیمه کې و سو، خو د اوسنۍ زماني علماء وایي کومې جګړې ته چې نغوته (اشاره) سوې هغه د کال (۱۹۸۰ز) څخه تر (۱۹۸۸ز) کال پورې د

[1] سورة عبس ٢٦ اية

(c) ketabton.com: The Digital Library


(ایران) او (عراق) تر منځ هغه له افسوسه ډکه جګړه وه چي پکښې (لس لکه) مسلمانان شهیدان سوه. تر څلور لکه زیات عراقیان او درې نیم لکه ایرانیان د ژوند او مال څخه بې برخي سوه. د نړیوالو ځواکونو د دسیسو ښکار سویو مسلمانانو په بې رحمۍ سره یو پربل تباکوونکي وسلې وکارولې او هغوی ددې حقیقت څخه بې خبره ول چي ددې لوبي په پایله کي به یو اړخ هم ګټونکی نه وي. دا پېښه په اوسني پېر کي مسلمه امت ته د پېښو سویو لویوووواقعاتو څخه یوه ده.

دا نښانې چي اوس دوام لري منځنۍ نښي بلل سوي. په لویو نښو، یاني علامات کبرا کي د مهدي امام ښکاره کیدل. د دجال راوتل، د حضرت عسي‌عليه‌السلام را کښته کیدل دي چي منځنۍ فاصله یې ډېره لږ ده.

د مهدي امام په اړه دومره زیات حدیثونه را نقل سوي چي له معنوي اړخه تواتر ته رسیږي. (متواتر) هغه حدیثونو ته ویل کیږي چي صحیح وي او د هغه معتبرو راویانو څخه را نقل سوي وي چي هغوی سره په اتفاق وي. د سند له پیله تر اخره هم داسي راوي وي، د معتبرو عالمانو تر منځ دا علم قطعي (رښتنی علم) وي چي واجب او ورباندي عمل کول فرض ښودل سوي دي.

د مهدي امام په اړه د را نقل سوو متواتر حدیثونو به باب د تېر او اوسني وخت ټول عالمان پرته له

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ابن خلدون[1]) څخه سره همږغي دي چي د عقيدې او باور له مخي پرې ايمان راوړل واجب دی، د حديث راويانو ته په کتو سره يوازي پر همدې موضوع تر ۳۰ زيات کتابونه ليکل سوي دي، دلته بايد دا روښانه کړو چي د مهدي امام د ښکاره کيدو عقيده په لږ بدلون سره په ټولو فرقو کي موجوده ده.

زموږ په منځ کي يوه لويه فتنه هغه لينکي او کتابونه دي چي په لوستلو سره يي خلک خپه کيږي او په زړونو کي يې وسوسې پيداکيږي، رښتياخبره دا ده چي دين بشپړ سوی او ټول جزئيات ورکړل سوي دي او که اوس څوالس نيم سوه کاله وروسته يو کس د يوې نوي خبري دعوه کوي چي تر اوسه يې څوک په اړه پوهيدلي هم ندي، نو د هغه دا دعوه د هغه د، رد لپاره کافي ده، رسول اللهﷺ د (د جال) پوره ځانګړتياوي بيان کړي دي چي په اړه به يې په راتلونکي کي و ږغيږو، همدارنګه د حضرت عيسىعليه السلام ځانګړتياوي هم رسول اللهﷺ په تفصيلي ډول بيان کړي دي خو څنګه چي ما مخکي عرض وکړ، د مهدي نوم او صفات چي تر اوسه ورته نغوته (اشاره) سوې ده د هغه سره سم به (محمد بن عبدالله) د هغه نوم وي او د حضورﷺ د نسل څخه به وي، د لوړي ټنډي(تندي) او

[1]ابو زيد عبدالرحمن بن محمد ابن خلدون، زيږيدنه،۷۲۳ هجري، تونس کي ، مړينه ۸,۸ هجري په مصرکي (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځنۍ جګي پزي لرونکی ځوان به وي، ښکاره ده چي دا صفات په ډېرو خلکو کي کېداسي، اړينه داسي يوه نښه ده چي د هغه د راڅرګندېدو پرمهال د خلکو تر منځ رايي مختلفي نه وي.

د مهدي امام راښکاره کېدنه د(ارماګېدون) د جګړې وروسته کېږي. په ځانګړې ډول د ۱۱ سپټمبر ۲۰۰۱ د پېښي وروسته د يهوديت او عيسائيت مبلغينو دا واقعه د انجيل او يهودي صحيفو د وړاندويني سره و تړله او اکثرو پر عراق او افغانستان د امريکا او برتانيې پوځي عملياتو ته د بائبل د وړاندويني سره سر ورکړ. ياني (ارماګېدون ) يا د حق او باطن تر منځ د وروستي لويې جګړې پيل و ګڼل سو، نادره خبره ده چي د (ارماګېدون) د اثبات له پاره د اهل کتابو قولونه په لوړه کچه موجود دي، ليکن ډېر مسلمانان په دې نه پوهيږي چي ارماګېدون ياني څه؟ او دا خطرناک لفظ په اهل کتابو کي څه مفهوم لري؟

ارماګېد[1]ون د عبراني ژبي کليمه ده چي د وو مقطع د يو ځای کېدو څخه جوړه سوې ده. په عبراني ژبه کي د (ار) مطلب غر دی او (ماګېدو) د

---

[1] هر مجدون: (= ارماجدون= ارماګېدون) عرب په خپله ژبه کي د (ګ) توري نلري ځکه دا کليمه هر مجدون ګڼي خو په پښتو او پارسو کي دا ترکيبي نوم (ارماګېدون) لوستل کيږي او ويل کيږي. دا چي ددې نامه تر شاه يوه اږده فلسفه ده لږ به يې و سپړو، د مصر د الاظهر پوهنتون د اسلامي علومو استاد ( امين محمد جمال الدين) په خپل ځانګړې کتاب ارماګېدون(= دريم نړيوال جنګ) کي ليکلي دي: ارماګېدون يوه عبراني کليمه ده چي له دوو برخو (هر) او (ميګېدو) څخه جوړه ده، چي هر يې د (غره) او مګېدو يې فلسطين کي د يوه سيند نوم دی. داکليمه ساده او عام فهمه ده خو د ډېر ژور مفهوم لرونکې هغه چي د مسيحي زوڼ اندو مغرونه يې اړکړي دي، دا کليمه اوس د يوې سرې کرښي مفهوم لرونکي پېژني، چي لويديځوال يې د(خير او شر) جګړه تعبيروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلسطین د یوې سیمي نوم دی البته اوس هلته کوم غر وجود نه لري. راتلونکی جنګ به په همدې میدان کي وي چي په شمال کي د (مجیدو) ښځه نیولې د جنوب خواته تر (ایدون) پوري د( ۲۰۰ ) میله په واټن غوړېدلی دی او لویدیځ پلو د منځنۍ (بحر ابیض) ښځه نیولې د لویدیځ خواته (۱۰۰) میله تر (ټیلو) پوري غځیدلی دی، پوځي کار پوهان او په ځانګړې ډول پخواني ماهرین دې سیمي ته د ستراتیژیکي نقطې له نظره ارزښت ورکوي، دا سیمه په تاریخ کي تر (۲۰ ځله) زیات یاني د جاپان له (یرو شلم) ښځه هم ډېره ویجاړه لیدل سوې ده، د تاریخ په پاڼو کي خوندي سوي د نړۍ تر ټولو پخوانۍ جګړه (۱٤۸۹ز) کي چي (توتمس دریم [1]) د خپل لښکر سره په دې ښار منګولي ټینګي کړي وې. په هغه وخت کي هم دا ځای مهم بلل سوی و چي کله برتانوي جنرال (ایلبایي)

---

د بیلګي په توګه:

– ارماګېدون به ډېر ویروونکی او هیبتناک اټومي جنګ وي
– دا به یو ستراتیژیک او خطرناک جنګ وي
– دا به مخامخ یوه سیاسي او دیني جګړه وي
– نوې او تازه صلیبي جګړه به وي
– دا به (DRA GON WAR) وي
– دا به د تاریخ سخت او بې رحمه جنګ وي

همدغه ارما ګډون دی( و ګورئ ارماګېدون، لیکوال استاد امین الله جمال الدین، ۹۳،۹۲ مخونه) (ژباړن)

[1] لرغونی مصری پاچا

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې زره کاله پخوا د (توتمس دریم) د کړنلارې په خپلولو سره د (ترکانو پوڅ) د بې خبری په کنده کې و غورځاوه، له هغه راهیسې د (ارماګډون ) د لفظ سره هر اهل کتاب اشنادی، ځکه چې دا کلیمه د هغوی د عالمانو په کتابونو او بحثونو کې په زیاته کچه موندل کیږي. د اهل کتاب څخه مو دلته موخه (یهود او نصارى) دي او موږ ته حضورﷺ اجازه راکړې چې د دوی څخه روایت وکړو، د حضرت عبدالله ابن عمر بن العاص رضی الله عنه څخه روایت دی چې حضور ﷺ و فرمایل:

ژباړه: ((**زما له طرفه خلکوته دا خبره ورسوئ که څه هم یو ایت وي د بني اسرایلو څخه یې روایت کړئ په دې کې هیڅ ستونزه نسته**)) صحیح بخاری

خو دا مهمه ده چې موږ باید د هغوی خبره په ډېر احتیاط واورو او یوازې هغه خبره راواخلو چې زموږ د شریعت سره بیخي مطابقت ولري، شریعت د هغه تائیدکړی وي او د شریعت خلاف خبره رد کړئ.

په انجیل کې راغلي:

(( **ټول شیطاني روحونه او د نړی پوځونه په (ارماګډون) کې را یوځای کیږي**.[1]))

---

[1] سفر الرؤیا انجیل ١٦، ١٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امریکا ولسمشر پر (ارماګېډون) د پوره باور لرلوپربنسټ خپلي تګلاري جوړولې او، د امریکا ولسمشر رونالډریګن د خپلي واکمنۍ پر مهال ويلي وه:

((موجوده نسل به د (ارماګېډون) جنګ حتماً ويني، دا سبا هم را ښکاره کيدی سي)).

ولسمشر ريګن خپله دا وينا په داسي حال کي پای ته ورسول چي د غربي نړۍ د ولسونو پر خدای د بشپړ اعتقاد او د سويلي اتحاد پر شيطاني سلطنت باندي د هغه د يقيني فتحي وړاندوينه يې وکړه. هغه د انجيل دا جملې تکرار کړې: خدای هغو ته توان ور کړ چي کمزوري وو څوچي د عُقاب غوندي وزرونه و غوړوي او وړاندي تګ وکړي او ونه ببربړي، د (ريګن) ددې وينا وروسته سويلي اتحاد خپل اټومي تا سيسات قوي کړه او يو خورا د خطره ډک حالت ځکه را منځ ته سو ، چي که يو مازي د يرغل خبر تر سويلي اتحاده ورسيږي نو د حملې کولو امکان سته.

په امريکايي چينلونو کي غربي پروګرام وړاندي کوونکی نوموتی امريکايي عالم (جمي سواګرټ) ليکلي:

((ما غوښتل چي ووايم زموږ تر منځ سوله کيدونکې ده، خو زه پر راتلونکي (ارماګېډون) جګړې باندي باور لرم، ببله شکه (ارماګېډون) راتلونکی دی ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماګډو په دره کې به خونړۍ حالت را منځ ته سي، هغه ارومرو راتلونکی دی. د سولي پر هره پریکړه چي هغوی غواړي لاسلیك وکړي و دې کړي، هغه به هیڅکله پوره نسي ځکه تیاره ورځ راتلونکې ده[1]))

په دې کتاب کې د (سوفیلډ) دا قول هم راغلي چي پرمخلصو عیسایانو واجب ده چي دې پیښې ته ښه راغلاست ووایي، ځکه د ارماګډون (وروستي جنګ) په پیل کې به حضرت عیسْیعلیه السلام هغوی وریځې ته پورته کړي، په دې توګه به و ژغورل سي او دوی به ددې تکلیفونو سره هیڅ کله نه مخ کیږي چي پر مخ د مځکې به روان وي، دا خو د عیسویت خبره ده خو د یهودیت په اصطلاح (ارماګډون) دا یوه عقیده ده چي تر قیامت وړاندې ښکاره کېدونکو ډېرې پیښو د خبرونو پر بنسټ ولاړه ده، ددې عقیدې پر بنسټ د نړۍ له بیلابیلو برخو څخه یهودیان راځي او بیت المقدس کې ځای پر ځای کیږي. د هغوی د وینا سره سم د اسرائیلو حکومت ددې وړاندویني برخه ده، څه موده وروسته به ټوله نړۍ د یهودیانو دښمنه سي او ډېرې ځواکونه به لاسونه سره یو کړي او د یهودانو سره به جګړې وکړي، د یهودو د عقیدې له مخې(په دې جګړه کې به، خدای پاکجل جلاله په خپله د یهودیانو لخوا جنګیږي او حمله راوړونکې پوځ ته به

---

[1] Prophecy & politics, page 37

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته ورکوي) (نعوذ با الله)، وروسته به د مسیح نزول کیږي چي نړۍ به له عدل، انصاف او امن څخه ډکه کړي او وروسته به د نړۍ درې ستر مذهبونه یو په بل کي منحل سي او درې سره به د بیت المقدس په شاوخوا کي یوه ګډ معبد جوړ کړي. تر هغه وروسته به دجال ياني (-Anti Christ) را ووځي، چي د هغه سره به شیطاني قوت موجود وي، دا د یهودیانو عقیده ده خو زموږ یاني مسلمانانو عقیده ددې جګړې د پایلو او جزئیاتو سره په ټکر کي ده. زموږ خبره دا ده چي دا جګړه به په یو والي او نړیواله کچه را منځ ته سي چي په هغه کي به مسلمانان او اهل روم یاني اروپا او امریکا سره یو ځای وي او هغوی به د یو ګډ دښمن سره جنګیږي، داسي دښمن چي موږ یې نه پیژنو.

تر کومه ځایه چي دیهودیانو خبره ده زموږ په وړاندي دا خبره روښانه نه ده، چي په دې جګړه کي به د یهودیانو رول څه وي، خو هغوی به په دې جګړه کي خامخا ښکېلیږي او د (انجیل) په حواله د هغوی به دوې برخي خلک له منځه ولاړ سي.

**((تر اوو میاشتو تیریدو وروسته به مځکي له دې چي مځکه پاکه کړل سي بني اسرائیل به هغوی ښخ کړای سي))**

سفر ذکریا ۸- ۱۳ سفر حزقیال ۳۹-۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې جنګ په اړه حضور ﷺ فرمايلي:

ژباړه:(( **نږدې دی چي اهل روم به د امن په خاطر سوله وکړي او بيا به تاسو د هغوی سره يو ځای د يوه داسي دښمن سره وجنګيږئ چي ستاسو تر شاه به وي، تاسي به سلامت پاته سئ، د غنيمت مال به لاسته راوړئ او بيا به تاسو پر يو لوړ ځړ ځای باندي را غونډ سی، وروسته به د (روميانو) څخه يو څوک پورته سي او صليب به پورته کړي، وبه وايي چي صليب غالب سو، له دې وروسته به يو مسلمان پورته سي او هغه به ووژني، (روميان) به تړون مات کړي او خونړۍ جګړې به وسي. هغوی به ستاسو په وړاندي تر اتيا بيرغونو لاندي را ټول سي او تر هر بيرغ لاندي به دولس زره پوځ وي**[1])).

له دې حديث شريف څخه دا خبره څرګنديږي چي دوې جګړې کيږي لومړۍ د (ارماګډون) نړيواله جګړه چي يادونه يې وسوه او دوهمي ته (الملاحم) يا (الملحمة الكبرى) ويل سوي، دا هغه جګړه ده چي تر (ارماګډون) وروسته به د مسلمانانو او (روميانو) ياني عيسايانو تر منځ هغه مهال کيږي چي هغوی سوله ماته کړي.

---

[1] احمد ، ابو داود ، ابن ماجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډاکټر اسرار احمد:

په اخره زمانه کې به لوبې جګړې ترسره سي چې په هغو کې يوه ته (الملحمة العظمى) يا الملحمة الكبرى ويل سوي، (عظمى) د (اعظم) مونث دی او (کبرى) له (اکبر) څخه اخستل سوی دی. ياني هغه به د انساني تاريخ تر ټولو عظيم ترينه جګړه وي او په دې جګړه کې به عيسايان وي چې په حديث شريف کې ورته روميان ويل سوي دي. په اصل کې د حضورﷺ په زمانه کې د روم امپراتورۍ د عيسويانو نمايندګي کوله څکه نو اهل روم او عيسايان د يوه مانا لرونکي کليمې په توګه کارول کيږي، نو روميان به پر مسلمانانو را وخيژي او هغوی به ۸۰ بيرغه ولري، تر هر بيرغ لاندي به ۱۲زره کسيز پوځ وي.

**پوښتنه:** ياني يو لوی ايتلاف د، اتيا لکه ايتلاف ؟

**ځواب:** بلې هو! يو ستر ايتلاف، او هغوی به پرمسلمانانو يرغل وکړي څکه نو مسلمانانو ته به سخت زيان ورسيږي او دلته زما په اند دمسلمانانو څخه مراد عرب دي ولې چې دا جګړه به په منځني ختيځ کې پيښيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنه:** نو ډاکټر صاحب! يو تأثر دا وو چي په دې جنګ کي به مسلمانان د اهل روم سره يو ځای وي؟

**ځواب:** په دې کي دا ويل سوي چي مخکي به يو جګړه کيږي چي په هغه کي به مسلمان او روميان يو ځای وي او يو بل ځواک(ورای قم) چي ستاسو شاته به وي د هغوی سره به جګړه کوی په دې کي به دا يو والی ( Coalition[1] ) بريالي سي ياني مسلمانان او عيسايان.

**پوښتنه:** دا جنګ به د چا سره وي؟

**ځواب:** دا نوم نه دی ورکول سوی (ورا يقم ) ياني ستاسو شاته به يو ځواک وي.

**پوښتنه:** مقصد له روسيې يا چين څخه دی؟

**ځواب:** نه، زما تعبير ددې څخه عراق دی ځکه چي لومړی د خليج جګړه په (۱۹۹۱ز)کي سوې وه په هغه کي عرب هيوادونه ، امريکا او اروپا ټول يو ځای وو د صدام خلاف، او بری يې تر لاسه کړ.

**پوښتنه:** يهوديان هم پکښې ول؟

---

[1] د عراق د (۱۹۹۱ز) جګړه د کويټ سره وسوه ، په دې جګړه کي عراق بيرته شاته سو. (ژباړه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب:** یهودیان پکښې نه ول، یهودیان یې په ځانګړې ډول منع کړي ول امریکاورته ویلي ول چې ستاسو ساتنه زموږ دنده ده او تاسو ارام کښینئ، هغوی ته یې هیواد پالونکي (Patriot) توغندی ورکړي وې که چیرې کوم سکډ ( یو ډول توغندی) ستاسو خواته را هم سي نو دا توغندی به یې په فضا کې له منځه یوسي او که چیرې خدای مه کړه یهود را پورته سوي وای نو له دې به د یهودو او عربو د مخالفت مسله جوړه وه. بیا به عربو خپل دریځ بدل کړی وای او د امریکا سره به یو ځای سوي نه وای، ځکه یې نو ستراتیژي همدا و ټاکل چې یهودیان باید دباندې پاته سي، خو ددې جګړې په وروستیو کې (شوازوف) چې ددې جګړې قوماندان او مشر وو ښکاره ویلي وه، چې موږ دا جګړه د اسرائیلو د ژغورنې لپاره وکړه. جګړه یې د اسرائیلو لپاره وکړه خو هغوی یې پکښې شامل نه کړل. زما په اند د حدیث شریف څخه مراد د خلیج دا جګړه وه چې په هغه کې یهود نه، بلکه عیسایان او مسلمانان یو ځای ول، زما په اند د یوه بل ځواک څخه روس نه بلکه عراق مراد و.

له دې وروسته راغلي چې ستاسو او رومیانو تر منځ به تړون مات سي هغه چې اوس یې اثار لیدل کیږي، د سعودي عرب په اړه د امریکا له لوري شکونه را پورته کیږي داسي ښکاري چې ورو ورو یوه قضیه جوړوي او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قضیه ورو، ورو د پاکستان خلاف هم جوړیږي لیکن هغوی د څه مودې لپاره دا هرڅه پټوي څو پر وخت  ترې کار واخستلای سي.

**پوښتنه:** اوس چې بله احتمالي جګړه کیږي،هغه به (ارما ګېدون) وي؟

**ځواب:** په دې اړه د قرآن کریم  ترڅنګ په نورو کتابونو کې یې هم یادونه سوې ده، دا خو د بائبل ډېره لویه وړاندوینه ده د ارماګېدون ( Armageddon ) کلیمه د هم هغه ځایه راغلې، د بایبل اخري کتاب (د جان عیسایي کتاب، د جان ښکاره کیدنه[1]) حضرت یحیﷺ ته یې هم جان ویل یاني د عیسٰی په حواریانو (د عیسٰیﷺ زده کوونکو، اصحابو) کې یو (جان) وو د هغه د مکاشفاتو په برخه  کې راغلي چې  یوه ډېره لویه جګړه به وسي او که چیري تاسو په قاموس کې  د Armecadon  کلیمه ولټوئ نو موخه دا را وځي:

( A very big war between the of good & evil before the end of this world )

ژباړه: یوه ډېره لویه جګړه د ښه او بد تر منځ، مخکې له دې چې دا نړۍ پای ته ور سېږي.

---

[1]The Book of John the Baptist, Revelation Of John

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې اړه په حديث شريف کي راځي چي هغه به يوازي عيسايان وي او۸۰بيرغونه به وي، د۸۰ کليمه دلته ويل سوې، د کوم هيواديادونه نه ده يکښي راغلې او د هر بيرغ لاندي به ۱۲زره پوځ وي او مسلمانان به ډير زيان ووينې. په يوه حديث کي دا هم ويل سوي: که د يوه پلار( ۱۰۰ ) زامن وي نو له هغوی به(۹۹) ووژل سي، خو تر هغه وروسته به هر څه سر چپه واوړي، څوزه نه پوهيږم چي څنګه به يو ځل بيا عرب دومره توان پيداکړي چي د دوی تله به درنه سي، حالات به يې څنګه بدل سي، دا ټول هيوادونه چي له عربو اخستل سوي لکه عراق، ترکيه او نور دا به بيا عرب څه ډول تر لاسه کړي؟

په دې وخت کي به دجال راښکاره سي. د خدايي دعوه به وکړي او د يهوديانو په قيادت کي به را مخته سي.

(په احمد او ابو داود کي ام سلمهؓ څخه روايت راغلی، حضورﷺ وفرمايل: **((چي د يو خليفه د مرګ په وخت کي به په قوم کي مخالفت را منځ ته سي، يو سړی به په منډه د مديني څخه مکې ته ولاړ سي، تر هغه وروسته به د مکي څخه يو څو نفره راسي او هغه به په زوره را وباسي د (رکن) او (مقام ابراهيم) په منځ کي به د هغه په لاس بيعت وکړي))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلم شریف  د ام سلمه ﷞ څخه روایت کوي چي حضورﷺ و فرمایل: پنا اخستونکی به په  بیت الله شریفه کي پنا واخلي د هغه لورته  به یو لښکر واستول سي. دا وخت به هغه هلته وي چي یاد لښکر به په مځکه کي غرق سي، یاني مهدي صاحب به پرکعبه طواف کوي چي خلګ به د هغه پر لاس بیعت وکړي او وبه یې پیژني، هغه همدا مهدي دی، د (رکن) او (مقام ابراهیم) په منځ کي به خلک د هغه سره بیعت وکړي د چاسره چي نه زور سته، نه خلک او نه هم ساز او سامان، هغه به په کعبه شریفه کي پنا واخلي، د هغه په وړاندي د جګړې لپاره به د مسلمانانو یو لښکر مکې ته روان سي لیکن مدینې څخه لږ لیري په (ذای الخلیفه) نومي ځای کي به هغه لښکر په مځکه کي غرق سي او یو دوه نفره چي د هغوی له ډلي ژغورل کیږي هغوی به نورو خلګو ته ددې پیښې خبر ورکړي، یاني د مهدي صاحب د ځرګندیدو ښکاره دلیل دا دی چي دده سره د جګړې لپاره را روان پوځ به په لاره کي له منځه ولاړ سي. د دې هر څه لیدو سره به خلګ د ټولیو او ډلو په شکل د هغه پر لاس بیعت وکړي او پر هر چابه دهغه سره بیعت واجب وي. دلته باید دا روښانه کړم چي د دې خبري ځرګندول ستونزمن دي چي مهدي صاحب به له کومي خوا را ځرګند سي، حافظ ابن کثیر په خپل کتاب (افتن و الملاحم) کي په ټینګه ویلي چي مهدي امام صاحب به له مشرق څخه را ځرګند سي. په داسي حال کي چي (امام قرطبي) په خپل کتاب (التذکرة القرطبي) کي وایي دمهدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام ظهور به له مغرب څخه وي، دتېر روايت له مخکي چي ومي ويل چي د خليفه تر مرگ وروسته به اختلاف را منځ ته سي د مديني يو شخص به په منډه مکې ته ولاړې سي او همدا به مهدي وي. د خدای پاکﷻ خاص حکمت هم په دې کي دی چي د هغه د را ښرگندېدو ځای پټ و ساتل سي چي د دښمنانو څخه خوندي پاته سي.

**پوښتنه**:ډاکټر صاحب! حضرت مهدي امام صاحب څوک دی، هغه مجدد دی که ولي، نبوت خو ختم سوی، هغه څوک دی؟

**ځواب:** زموږ سره د حضرت مهدي امام په اړه دوې نظريې موجودي دي، يوه د اهل تشيع رايه ده چي د حضرت عليرضي الله عنه په نسل کي په معصومو امامانو[1] کي حضرت علي بن حسين رضي الله عنه بيا امام زين العابدين رضي الله عنه بيا امام باقر او په وروستۍ کي حسن عسکري او د هغه د زوی نوم مهدي و هغه يې له دې ويري چي بنو عباس به يې ووژني پټ يې کړ چي تر ۲۰۰ کلونو پوري پټ پاته سو او خلگو به د هغه سره ليده کاته هم کول او گټه به يې ورڅخه پورته کول. دې ته (غبوبت صغرا) يعني هغه په جزوي توگه له سترگو پټ و، ځينو کسانو به ورسره ليدل او د هغه څخه به يې لار ښووني

[1]ايمه معصوم( معصوم امامان) د اهل تشيع د خپلي عقيدې هغه امامانو ته وايي چي له حضرت علي(رض) څخه راپيل او وروستی به يې مهدي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library


تر لاسه کولې، تر هغه وروسته (غبوبت کبری) یاني هغه په بشپړ ډول له سترګو پنا سو البته هغه به قیامت ته نږدېې را څرګند سي هم هغه به مهدي امام وي. هغه به دولسم امام وي چي اوس هم ژوندی دی خو له سترګو پټ دی هغه امام به را څرګند سي، اوس دهغه امام د راتګ انتظار کیږي.

د اهل سنت په نظر هغه به د مجددینو له جملې څخه وي د مجددینو لړۍ هغه ده چي په حدیث شریف کي حضورﷺ فرمایلي:( الله تعالیﷻ ددې امت د هري سلیزي (پیړۍ) پرسر یو داسي شخص راولي چي ورځ تازه کړي) یاني د سلو کلونو په اوږدو کي که پر دیني تعلیماتو کوم ګرد او غبار پریوځي، رواجونه و ګرځي، کوم بدعات را منځ ته سي، نو هغه لیري کوي او د اسلام اصلي څېره روښانه کوي. د امت د مجددینو وروستنی مجدد به بشپړ مجدد(مجدد کامل) وي، زیاتره مجددینو یوازي علمي خدمتونه تر سره کړي مثلاً چي د یو ناني فلسفې غلبه مجدد ماته کړه ، چي کله دنیا پرستي غالبه سوه نو (شیخ عبدالقادر جیلانيؒ) د الله پاک لاره وښودله، په یو وخت کي د تصوف لار ډېره غلطه معرفي سوې وه، نو( مجدد الف ثانيؒ) د اسلام چاري قوي کړې، په همدې ډول چي کله خلکو د قرآن کریم څخه فاصله و نیول نو (شاه ولي الله دهلويؒ) لخوا ددې فاصلې د ورکولو لپاره - Back to the Quran یاني (قرآن ته ستنېدنه) حرکت پیل سو،اکثرومجددینو په علمي برخه کي کار کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنه:**دا مجدد سل کاله وروسته راځي؟

**ځواب:** تقریباً په سلو کلونو کي یو، خو تر دې زیات هم کیدای سي.

**پوښتنه:** هغوی به خپله  دعوه کول؟

**ځواب:** ځینو یې خپل ځانونه ښودلي دي، لکه مجدد الف ثاني، شا ولي الله هم داسي ویلي: ((ما احساس کړه چي الله تعالیﷻ کله د کوم خیر اراده کوي، نو ما د هغه ذریعه  جوړوي)) لیکن اکثر و بیا ځان نه دی ثرگند کړی، خو خلگو د هغوی خدمت او کارونو ته په کتو هغوی ته د مجدد خطاب کړی دی.

**پوښتنه:** کوم اختلاف را منځ ته نسو؟

**ځواب:** یا

**پوښتنه:**خلگو به دا مجددین منل؟

**ځواب:** هو، اوس د مجدد کامل خواته را گرځو، دی به یوازي د علم اصلاح نده،  بلکه د الله تعالیﷻ دین به داسي قایم کړي، لکه ځنگه چي محمدﷺ د خپل پاک ژوند په دوران کي  قایم کړی و، دا به حضرت مهدي امام وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنه:** لکه څنګه چي رسول اللهﷺ د مهدي امام نښانې او صفات روښانه کړي دي ممکنه وه چي د حضورﷺ یو حدیث د هغه د را ښکاره کېدو ځای هم په ګوته کړی وای؟

**ځواب:** د هغه خروج به په عربو کي وسي او هغه به په عربو کي یو اسلامي حکومت قایم کړي یو حدیث ډېر مهم او په زړه پوري دی حضرت ام سلمهرضي الله عنها چي د رسول الله ﷺ بي بي ده فرمایي حضورﷺ وفرمایل: د خلیفه پر مرګ به خپلمنځي کورنۍ جګړې پیل سي دا وخت به یو شخص د مدینې ښخه مکې ته منډه کړي او هلته به پټ سي غالباً دا به ددې لپاره وي چي خلک هغه طرف ته وګوري. په دې وخت کي دغه شخص ته په کار دي چي را وړاندي سي او یو مهم رول و لوبولي یاني داسي یو کس چي د هغه ښخه دا تمه وي چي باید ډګر ته را ووځي او د خلکو لارښوونه وکړي او هغه به د دوی ښخه ځان وژغوري او مکه کي به ځان پټ کړي. خلګ به هغه را پیدا کړي او پر لاس به یې بیعت وکړي، خو هغه به نه غواړي چي پر لاس یې بیعت وسي او بیا به د هغه لپاره د الله تعالیﷻ له طرف ښخه نښاني هم ښکاره سي او بیا به هغه په عربو کي یو قوي حکومت حاکم کړي. د یوه ختیځي هیواد پوځونه به د هغه د حکومت د ټینګولو لپاره روان سي. د عربي هیوادونو په ختیځ کي درې هیوادونه راځي، ایران، افغانستان او پاکستان نو زما په اند انشا الله ډېر لیري نده چي پاکستان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان به سره ګډ او یو هیواد سي او له دې ځایه به  هغه اسلامي حکومت پیل سي او له دې ځایه به پوځونه روانیږي چي د مهدي امام مرسته وکړي.

# آغا سید علی موسوي:

زموږ او د ډیرو اهل سنتووروڼو هم  دا رایه ده چي رسول اللهﷺ  فرمایلي زما وروسته به ۱۲خلیفه ګان وي او دا ټول به د قریشو څخه وي. ځینو روایتونو خو ویلي: پیغمبرﷺ و فرمایل چي لومړی خلیفه علي او اخري مهدي دی، د شیعه وو عقیده ده، چي هغه پیدا سوی دی او ښایي په ۲۰۵۵ میلادي کال  کي را ښکاره سي. د هغه پلار امام حسین عسکري دی، چي زموږ ۱۱ م امام دی او امام تر ننه ژوندی دی، خو د اهل سنت بیا دا عقیده ده چي هغه پیداکیږي او څه نښي یې هم ښکاره سوي، تر نښو وروسته مهدي امام را ښکاره کیږي، د دجال ځرګندیدل، د سفیاني راوتل  او داسي نوري ډېري نښانې دي چي زیاتره یې ښکاره سوي دي.

امام به په مکه معظمه کي د مقام ابراهیم سره را ځرګند سي، هغه به د خپل ظهور اعلان وکړي دا به د الله تعالیﷻ له طرفه وي موږ به یې خپله نه جوړو، د اهل تشیع نظریه هم دې ته ورته ده چي امامت او خلافت د اللهﷻ  له لوري دي، تر ټولو مهمه خبره هغه معجزه ده چي د هغه په لیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره به هیڅ چاره نه وي چي د امام په وړاندي دي سر کښته نسي. د مهدي امام تر ټولو یوه لویه نښه داده چي کله هغه را ښکاره سي نو حضرت عیسٰیعليه السلام به هم را ښکاره سي، عیسٰی علیه السلام به هم له اسمانه را کښته سي او د مهدي امام تر شا به لمونځ وکړي خو د اسلام نوم به پر خپل ځای پاته وي.

ہے مملکت ہند میں اک طرفه تماشا
اسلام ہے پابند مسلمان ہے ازاد
ملا کو جو ہے ہند میں سجدے کي اجازت
ناداں یه سمجتا ہے که اسلام ہے ازاد
ژباړه: د هندوستان په هیواد کي یو اړخیزه ننداره ده. پر اسلام محدودیتونه وضع دی خو مسلمان ازاد دی، ملا ته چي په هندوستان کي د سجدې اجازه سته، ناپوه داسي ګڼي چي اسلام ازاد دی.

اسلام یوازي د ځورکعته لمنځونو، د مسجدونو جوړولو او د روژې د میاشتي د روژې نیولو نوم ندی، بلکه اسلام د (عدل یو نظام دی)، اوس وخت کي د قرآن کریم درس ویل کیږي، خو عمل وربانديي کم دی ، که چیري تاسو د کتابونو مطالعه وکړئ نو په باور سره به احساس کړی چي هغه نښانې شاوخوا ۸۰۱۷۰ سلنه پوره سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امام د ظهور یوه نښه داده چې نږدې به لیري او لیري به نږدې سي، اوس و ګورئ، موږ دلته ناست یو زموږ ږغ د نړۍ تر کومو کومو ځایو رسیږي او څوک څوک یې اوري، او نږدې لیري دي، نن پلار له زوی څخه دومره لیري دی چې زوی پیژني هم نه او زوی د پلار په اړه معلومات نلري، دا هم یوه علامه ده.

یوه بله نښاني هم سته چې اوسپنه به، پر اوسپنه و چلیږي دا اورګاډی (ریل ګاډی) چې ټایر یې هم د اوسپني دی او سړک یې هم.

له حضرت ابو اسحاقؓ څخه روایت دی چې حضرت عليؓ خپل زوی حسنؓ ته کتل او ویې فرمایل: زما دا زوی سردار دی، څنګه چې رسول اللهﷺ فرمایلي وو: نږدې ده چې دده له پښت څخه به یو شخص پیدا سي چې ستاسو د نبي نوم به یې وي په اخلاقو او خویونو کې به د نبي په څیر وي خو په څېره او صورت کې به (ورته) نه وي، وروسته له دې حضرت عليؓ د هغه شخص د عدل او انصاف واقعه بیان کړه.

د امام مهدي ظهور به په یوه داسي وخت کې وسي چې د مسلمانانو یو خلیفه به وفات سي او د هغه پر ځای د خلیفه د ټاکلو پر سر به شخړې راپور ته سي او په خلګو کې به اختلاف پیدا سي ددې جزئیات ام المومنین ام سلمهؓ داسي بیانوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضورﷺ و فرمایل: **((د خلیفه تر مرګ وروسته به په خلګو کې اختلاف را منځ ته سي په دې وخت کې به یو کس له مدینې ووځي او مکې مکرمې ته به وتښتي، اهل مکه به هغه د خلافت لپاره غوره کړي تر دې وخته به هغه دې معاملې ته چمتو نه وي، بیا به خلګ د (حجر اسود) او (مقام ابراهیم) په منځ کې د هغه پر لاس بیعت وکړي، بیا به دښمن یو لښکر د هغه د مقابلې لپاره له شام څخه ور ولیږي هغه لښکر به د (بیضا) په مقام کې په مځکه ننوځي. خلک چې دا و ګوري نو د (شام ابدال) او (دعراقیانو) ټولې به د هغه پر لاس بیعت وکړي. بیا به د قریشو یو شخص چې د (بنو کلب) له ریښې څخه به وي راپورته سي او د هغه خواته به یو لښکر ولیږي، مهدي امام او د هغه پوځ به وربادنې بریالي سي او د غنیمت مال پر خلګو ووېشي او په دې سره به د نبيﷺ سنت پرځای کړي، بیا به اسلام خپل لمن پر مځکه و غوړوي یاني د مځکې پر ټوله کره به اسلام خپور سي، هغه (مهدي امام) به تر ۷کالو پوري ژوندی وي او بیا به وفات سي او مسلمانان به د هغه د جنازې لمونځ ادا کړي.))**

(ابوداود) فرمايي: چې ځینو راویانو د (ابوهشام) په حواله ویلي چې امام به ( ۹ کاله ) ژوندی وي، ځینو ولي چې هغه به(۷ کاله) ژوندی وي په دې حدیث کې د کفارو د لښکر په مځکه کې د غرقیدو یادونه سوې ده. که لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library


نوره هم دا خبره روښانه سي په نورو حدیثونو کي حضورﷺ تر قیامت مخکي درې ځله په مځکه کي د ډوبیدو یادونه کړې ده، یو په ختیځ کي، بل په لویدیځ کي او یو هم په عربو کي، په دې حدیث کي د عربو پېښي ته اشاره سوې ده.

په هر حال دې ټولو تفصیلاتو ته په کتو سره په لنډ ډول ویلای سو، چي د مهدي امام تر ظهور مخکي به مسلمانان ډېر د افسوس او بېوزلۍ حالت ولري او د ټولي نړۍ مسلمانان به د یو لاربښود په لټه کي وي، په مدینه منوره کي د یو خلیفه تر مرګ وروسته به مهدي امام له دې ښېري مکې ته روان سي چي خلګ یې خلیفه ونه ټاکي، په مکه مکرمه کي به یې خلک په (حدیث کي د بیان سوو نښانو له مخي) و پېژني د (حجر اسود) او (مقام ابراهیم) په منځ کي به خلک د هغه پر لاس بیعت وکړي. هغه به د اسلامي پاچاهۍ د قوي کولو لپاره ټول قوتونه را ټول کړي. د ځینو روایتونو څخه څرګندېږي چي شام او مصر به د عیسایانو لاس ته ولوېږي او په مدینه منوره کي د مسلمانانو د حکومت دقیام او د هغوی د یوالي په خبره به عیسایان او غیر مسلمانان خواشیني سي او هغوی به خپل قوتونه په لویدیځ کي سره یو ځای کړي. دوی به شام د خپلي پوځي اډې په توګه و کاروي او د یو لوی لښکر سره به پر مکې معظمې د حملې لپاره د مکې او مدینې په منځ کي یو ځای را غونډ سي، دځینو روایتونو له مخي دا ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library


به یو (غر) وي، د نورو هیوادونو څخه به مسلمان پوځونه د مهدي امام سره د لیدلو په موخه روان سي. له دې ډلي به یو پوځ له (سمرقند[1]) هم روان سي، غیر مسلمان پوځونه به هڅه وکړي چي د مسلمانانو پوځونه مهدي امام ته ونه رسیږي او په لاره کي يې له منځه یوسي، خو د الله ﷻ په فضل به په لاره کي یوه زلزله راسي او د کفارو لښکر به په مځکه ننوځي.

دې پیښو ته چي هر ډول ترتیب ورکول سي، یقیني نه بکله ضمني دي، یقیني خبره یوازي دا ده چي د مهدي امام د پېژندلو په لومړیو کي به د هغه خلاف له مدینې، مکې ته روان یو لښکر د زلزلي له امله په مځکه کي ډوب سي.

تر قیامت وړاندي ښکاره کیدونکي نښانې او وړاندویني په ټولو اسماني کتابونو کي راغلي دي د یهودیانو په موجوده کتابو نو کي، د عیسایانو په مروجه انجیلونو(د بایبل نسخې) کي، په سپېڅلي قرآن کریم او د حضور ﷺ په حدیثونو او د ختیځ د مذهبونو مثلاً د (بودایزم ) په ځینو قولونو کي هم د قیامت د نښانو ذکر موجود دی، دا مهال چي نړی په

[1]سمرقند: سمندقند د ازبکستان اړوند دی او تر ۱۹۳۰ پوري د ازبکستان پلازمېنه وه. سمرقند د لرغوني زمانې له مهمو ښارونو څخه وو، چي لیکلی تاریخ یې ۳ تر ۴ زره کاله مخکي تر میلاد ته رسیږي. او دا ښار یو وخت مقدوني سکندر، عربانو او چنگیزیانو لخوا وران کړل سو . و ګورئ (شهرهای جهان ۴۶۷) (ژباړن).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره ببړه انقلابي بدلونونه راولي ددې تر شا د ټولي نړۍ خلګ د خپلي خپلي عقیدې له مخي  د یوه داسي شخصیت د ظهور په تمه دي چي د دې نړۍ اوسیدونکي پر یوې کلیمې را غونډ کړي او دلته د امن، ارام او انصاف یو حکومت را منځ ته کړي.

نن  خپلي خبري دلته پای ته رسوو، په راتلونکي برخه کي به موږ په دې خبري وکړو چي مهدي امام به په  نړۍ کي له کومو پیښو سره مخ کیږي، د (حضرت عیسٰیعلیه السلام) د راستنیدو او د دجال د راوتلو په اړه هم خبري لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دریمه برخه

نن په نړۍ کي د مسلمانانو شمېر شاوخوا یو نیم زر میلونه ته رسېږي، ٥٦ اسلامي هیوادونه د طبعي زیرمو له اړخه ځانګړي دي. دلته نه د فردي توان کمی سته او نه هم د وسایلو، نو بیا ولي مسلمانان په نړۍ کي خوار او ذلیل کیږي، دا داسي یوه پوښتنه ده چي نن سبا زموږ او ستاسو په ذهنونو کي ډیره را ګرځي.

حضورﷺ له نن څخه ١٤ سوه کاله وړاندي ددې پوښتني ځواب په یوه داسي حدیث شریف کي ورکړی دی، که هغهﷺ د راتلونکي زماني په اړه نور هیڅ وړاندوینه هم نه وای کړې، نو یوازي دا حدیث د رسول اللهﷺ د حق او رښتنولي د شاهدي لپاره کافي و.

له حضرت ثوبان رضي الله عنه څخه روایت دی:

رسول اللهﷺ و فرمایل: ((**ژر دی چي پر تاسو به د نړۍ قومونه را وخیژي ...او داسي به یو بل ته بلنه ورکوي لکه کاسې (ډوډۍ) ته چي یې رابولي یوه صحابي و پوښتل یا رسول الله ایا موږ به په دې زمانه کي ډېر لږ یو؟ هغه**ﷺ **و فرمایل یا، بلکه موږ او تاسو به په هغه زمانه کي ډېر زیات یو خو تاسو به د سیلاب راخستي خس او خاشاک**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په څېر یاست او الله تعالیﷻ به ستاسو د دښمن له سینو څخه ستاسو رعب او دبدبه وباسي او الله تعالیﷻ به ستاسو په زړونو کي(وهن) واچوي، یو صحابي و پوښتل یا رسول اللهﷺ دا وهن څه شی دي؟ ، هغهﷺ وفرمایل د دنیا سره مینه او له مرگ څخه نه ډار[1]))**

ددې حدیث په رڼا کي د ننی نړۍ جاج واخلئ، چیري چي یوسل او دېرش ملیارده مسلمانان د نړۍ د غوره هیوادونو، افرادو او وسایلو سره سره څنگه د کفارو لپاره یوه خوندوره غذا گرځیدلې او څنگه ددې غوړي گولې د خوراک لپاره کفار یو بل ته بلنه ورکوي، تر افغانستان او عراق وروسته په سترخوان باندي اینبودل سوي، د نورو مسلمانو هیوادونو غذا ته د دوی سترگي اوښتي دي او د حدیث عین مطابق نن مسلمانان د سیلاب د اوبو پر سر د بې شمېره خاشو او واښو په څېر بهیږي او د ډېر شمېر لرلو سره سره په دوی کي هیڅ توان نسته او د سیلاب اوبه چیري چي غواړي هلته یې غورځوي. د کوم (مسلمه امت) له هیبت او دبدبې څخه چي به غرونه لکه غوړي نرمیدل، نن د کفري نړۍ پلان جوړوونکي چي کله د دې امت

[1] سنن ابوداؤد، دریم جلد

(c) ketabton.com: The Digital Library


یادونه کوي د هغوی رویه داسي وي لکه هغوی چي د مچانو او غوماشو(میاشو) په اړه ږغیږي.

په تېره برخه کي د مهدي امام د وروستي مجدد کیدو په اړه خبره وسوه چي د الله تعالیﷻ له طرفه دا ترتیب راغلی پاته سوی چي کله په مسلمانانو کي پروپاګند او مخالفت له حده زیات سي او په دین کي ناوړه عقیدې او عملونه ځرګند سي، نو د مسلمانانو د لاربښوونې لپاره الله تعالیﷻ خپل یو بنده په هره سلیزه (پیړۍ) کي د مجدد په څېر را لیږي او د مهدي امام ظهور به هم په داسي یوه حالت کي کیږي چي کله مسلمانان د غیر مسلمانانو د ظلم او تیري څخه په عذاب سي او د نجات موندلو په هڅه کي ناکراره وي، دا هم یادونه سوې وه چي د (ارماګېدون) تر جګړې وروسته چي په هغه کي به مسلمانان او اهل روم یاني امریکایي اروپایي عیسایان سره یو ځای کیږي او د یو نا ځرګند دښمن په وړاندي به جنګیږي له دې وروسته د دوی دواړو تر منځ تړون ماتیږي، بیا به اهل روم په ۹ میاشتو کي تر ۸۰ بیرغونو لاندي زموږ په وړاندي یو لښکر را غونډ کړي، دې پوځ کي به تر هر بیرغ لاندي ۱۲زره سرتیري راغونډ وي او همدا د مهدي امام د ښکاره کیدو وخت دی.

په دې وخت کي به یو خلیفه وفات سي او مهدي امام به له مدینې څخه مکې ته ولاړ سي، او چي پر مکه د طواف په ترڅ کي و پژندل سي، نو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس به يې بيعت وسي او د هغه خواته راتلونکی يو لښکر به د زلزلې له امله تباه سي، څنګه چي دا لښکر په مځکه کي ډوب سي نو د مهدي امام اوازه به خپره سي او نوم به يې لوړ سي، له ختيځ او لويديځ څخه به د بيعت کوونکو ډلي راسي اوپه لاس ورکولو سره به وعده وکړي (( برى يا شهادت))، وروسته به مهدي امام د خپلو ملګرو سره يو ځاى دا خونړي جنګونه را پيل کړي چي په اړه يې صحيح حديث موږ ته داسي خبر راکوي.

ژباړه: ((له حضرت نافع بن عتبهؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ و فرمايل: تاسو به پر عربي جزيره باندي ور وخيژئ، اللهﷻ تاسو ته برى در کوي))

(صحيح مسلم )

د لومړي لښکر تر غرقيدو وروسته به دمهدي امام سره د جنګ لپاره دوهم لښکر دهمدې عربي جزيرې د مسلمانانو ښکار و ګرځي، د يوه روايت له مخي (سفياني) نومى يو شخص به ددې لښکر مشرتوب کوي او هغه به ددې لپاره د پيروانو (بنو کلب) څخه مرسته و غواړي ددې شخص په اړه يو حديث داسي تفصيل ورکوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:(( له حضرت ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول اللهﷺ و فرمايل يو شخص به له دمشق[1] څخه را پيدا سي چي (سفياني) به ورته ويل کيږي، د هغه پلويان به ډېری له (بنو کلب) سره تړلي وي))

(حديث)

دلته بايد دا روښانه کړم چي (بنو کلب) د شام او عراق په منځ کي خپور يو وسيع او غوړيدلی تاريخي عربي ټبر دی، د رسول الله ﷺ صحابي (حضرت زيد بن حارث ﷺ) هم له همدې ټبر سره تړاو لاره.

د (سفياني) دا لښکر به د مهدي امام له لاسه ماته وخوري، دې کس ته ځکه (سفياني) ويل کيږي چي دی به د (ابو سفيان) له کورنۍ څخه وي، د مهدي امام دوهم مقابل به په صحيح مسلم کي د (نافع ابن عتبه ﷺ) د روايت سوي حديث سره سم فارس ياني ايران وي او تر هغه وروسته به مهدي امام پر روم بريد وکړي د اهل روم ددې جګړې په اړه مو ويلي و چي دا به ډېره خونړۍ جګړه وي په دې کي به په مقابل اړخ کي (۸۰) بيرغونه وي او تر هر بيرغ لاندي به ( ۱۲۰۰۰) پوځ راغونډ وي، ددې جګړې تفصيل په صحيح مسلم کي داسي بيان سوی:

[1] دمشق د اوسنۍ سوريې، پخواني شام پلازمېنه ده. چي په ٦٣٠ ز د مسلمانانو د لښکرکښۍ په نتيجه کي فتح سوه ، په ۱۱۵۷ز- ۵۵۷ هجري ، د جوستينيان د امپراتورۍ په وخت کي نيم ښار د يوې وجاړوونکي زلزلې له امله وران سو(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:(( حضرت ابو هريره ﷺ څخه روايت دی، چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تر هغو به قيامت نه راځي چي د روميانو لښکر (اعماق ) يا (دابق ) ته ونه رسيږي د هغوی د مقابلې لپاره به له مدينې نه يو لښکر را ووځي چي د هغې زمانې له غوره خلګو نه به جوړ وي، چي کله هغوی صفونه جوړوي نو روميان به هغوی ته ووايي چي تاسو زموږ او ددې خلګو تر منځ چي زموږ څخه يې بنديان جوړ کړي دي مه خنډ کيږئ، موږ پريږدئ چي له هغوی سره و جنګيږو، هغوی به ځواب ورکړي چي يا! په اللهﷻ قسم چي موږ به خپل ورونه يوازي نه پرېږدو، په دې ترڅ کي به جګړه پيل سي، د مسلمانانو يوه برخه به و تښتي او د هغوی توبه به هيڅکله نه قبليږي، يوه برخه به ووژل سي چي د الله ﷻ په نزد به غوره شهيدان وي او يوه برخه به بريا ترلاسه کړي[1])).

ددې حديث سره سم د اهل روم او زموږ تر منځ دا لويه جګړه به په (شام) کي (دمشق) ته نږدې د (اعماق) يا (دابق) په سيمه کي را منځ ته سي د ځينو په خبره (اعماق) مديني ته نږدې يو ځای دی او ( دابق) به د مدينې منوري د بازار نوم وي په يوه روايت کي رسول اللهﷺ فرمايلي:

---

[1] صحيح مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library


((ددې لويې جګړې ياني په (الملحمة الکبري) کې به د مسلمانانو پنډغالی(کمپ) په يوه داسې مځکه کې وي چې هغې ته به غوطه ويل کيږي، هلته د دمشق په نوم يو ښار دی، هغه به هغه مهال د مسلمانانو لپاره غوره تم ځای وي[1]))

يو بل حقيقت چې له مخکني بيان سوي حديث څخه جوتيږي دا دی، چې اهل روم به له مسلمانانو غواړي چې موږ له هغه خلګو سره جنګ ته پريږدئ چې موږ يې زنداني کړي يو ددې لپاره دا دليل دی چې د (ارماګډون) تر جګړې وروسته به زيات شمېر عيسايان د مسلمانانو په صفونو کې شامل سوي وي او هغوی به د مهدي امام په ملاتړ جنګيږي، ځکه نو اهل روم داسې ګمان کوي چې دا د دوی هغه کسان دي چې زنداني سوي دي.

په دې جنګ کې د يوې برخې مسلمانانو تېښتې او يوې برخې د شهادت سربېره به الله ﷻ تعالی د مهدي امام مرسته وکړي، د مهدي امام څلورم

---

[1] احمد ابوداؤد

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګ به پ‍ه (قسطنطنیه)[1] یا (استانبول) کي وي چي په ترکیه کي موقعیت لري. امام مسلم له حضرت ابوهریره ﷛ څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

((تاسو د هغه ښار اړوند څه اوریدلي؟ چي د هغه یوه برخه په وچه او بله برخه يې په سمندر کي ده، هغوی وویل: هو، یا رسول الله ﷺ، هغه ﷺ وفرمایل: تر هغو قیامت نه راځي څو د اسحاق له اولاد څخه ۷۰ زره پوځیان پر هغه ځای ور و نه خیژي[2])).

د (بنو اسحاق) څخه مراد (اهل روم) دي، د عیسٰی بن اسحاق بن ابراهیم له نسله دی، بني اسرائیل یاني د (یعقوب بن اسحاق) د اکا د اولاد څخه دی، په دې حدیث کي د (اهل روم) یادونه سوې چي د (ارماګېدون) تر پیښي وروسته به د مسلمانانو غلامان ګرځیدلي وي ، د مسلمانانو په لاس د قسطنطنیې د بریالیتوب وروسته به دجال را ښکاره سي.

رسول الله ﷺ و فرمایل:

---

[1] د ترکیې استانبول ته اشاره ده ، استانبول د تاریخ په اوږدو کي په، بوزانتیون، کونستان، تی، نوپل، قسطنطنیه او اسلامبو نومونو یاد سوی خو په (۱۹۳۳ز) کي په رسمي توګه استانبول و نومول سو. (ژباړن)

[2] مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**((د بیت المقدس ابادي د یثرب بربادي ده، د یثرب تر بربادۍ وروسته به ملحمه یاني خونړۍ جګړه وسي، تر (ملحمې وروسته به قسطنطنیه فتح سي او له هغه وروسته به دجال را ښکاره سي**[1]**)).**

په اوسني وخت کي ذکر سوي وړاندويني په څه ډول پوره سوي ښکاري يا څنګه ښکاره کيدای سي، په دې اړه د نورو خبرو کولو مخکي دا ويل غوره ګڼم چي زياتره خلګ په قرآن او حديث کي يادي سوي پېښي او وړاندويني ته په کتو دا دليل وړاندي کوي (په اوسني وخت کي چي نړۍ دومره پرمختګ کړی دی او تر داسي ځايه رسيدلې چي د ماتي (شکست) هيڅ امکان يې نسته نو دا هرڅه څنګه ممکن دي، څوک به دا لوړځواک، وسله، پوځ، طاقت او غرور مات کړي؟)

الله تعالیﷻ فرمايي: ژباړه:**((او له هغوی څخه مو پخوا ډېر شمېر قومونه چي په قوت کي له دوی څخه ډېر زيات ول، تباه کړه هغوی ډېر هيوادونه لوټلي وو ايا هغوی کوم پنا ځای و موندلی سو**[2]**؟)).**

---

[1] مسند احمد

[2] سورة ((ق)) ٣٦م اية

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ایت کې الله تعالیﷻ د تباه سوو قومونو د دوو خاصیتونو ځانګړی ذکر کړی، لومړی دا چې هغوی ډېر قوي قومونه ول یاني هغوی یو قوي پوځي او نظامي چوکاټ تیار کړی وو او د خپل توان پر بنسټ یې د مځکې پر یوې لویې برخې واك درلود، او بل دا چې هغوی د معمارۍ په ځانګړې فن سره لوی لوی ښارونه اباد کړي ول.

دلته دا حکم د غور وړ دی، چې دا دوه خصلتونه د نننۍ زمانې سره هم تړاو پیدا کوي چې د سائنس او ټکنالوژۍ په مرسته یې د تهذیب نړیوال مرکزي ریاستي نظام او لوی لوی ښارونه جوړ کړي، خو دا یې هېر کړي چې هر څه د ستر واکمن لخوا ممکن دي، قرآن کریم دا حقیقت روښانه کوي چې د الله تعالیﷻ څخه انکار کوونکي قومونه د هغوی خپلو جوړ سویو سترو او قوي تهذیبونو ونه سوه ژغورلای، یاني د الله تعالیﷻ د انکار او سرکښۍ څخه د جوړ تهذیب پایله به هم د پخوانیو قوتونو څخه بېله نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ډاکټر اسرار احمد:

سپېڅلي قرآن ته په کتو د الله تعالیﷻ دا قانون همداسي پاته سوی، کوم قوم ته چي پیغمبران استول سوي، د بلني او تبلیغ په مرسته یې حق ورته روښانه کړی، له دې وروسته که بیا هم د هغه قوم ډېری خلکو هغه رسول رد کړی، نو هلاک سوی دی، دا ډول بیلګي په قرآن مجید کي شپږ ځله راغلي دي. د نوحؑ قوم، د هودؑ قوم (چي عاد ورته وایي)، د صالح ؑ قوم ( چي ثمود ورته وایي)، د سدوم او عاموره کلیو ته حضرت لوطؑ لېږل سوی و، له دې جملې څخه د شعیبؑ قوم یاني د بدین قوم او حضرت موسٰیؑ و فرعون ته واستول سو او فرعون د خپل لښکر سره یو ځای غرق سو، ددې قانون له مخي چي کله یهودیانو ته حضرت عیسٰیؑ د رسول په ډول ولېږل سو نو هغوی رد کړ، هغوی د هغه عذاب مستحق و ګرځول سوه چي پر ټولو کافر قومونو راغلی دی. دا د الله تعالیﷻ حکمت دی چي دا معامله یې و ځنډول، حضرت عیسٰیؑ یې اسمان ته پورته کړ او هغوی ته ګواکي مهلت ورکړل سو، چي هغوی په دې نړۍ کي نور هم و اوسي، تر هغه وروسته چي کله حضورﷺ په نبوت مبعوث سو، نو قرآن کریم کفارو ته دا یادونه وکړه ، وګورئ اوس هم ستاسو لپاره ښه وخت دی تاسو عیسیؑ رد کړ اوس پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمدﷺ باندي ایمان راوړئ، اوس هم ستاسو رب پر تاسو رحم کوونکی دی، خو که تاسو هم هغه شان د کفر لار غوره کړه نو تاسو ته به هم سزا در کړل سي.

خو هغوی حضورﷺ هم رد کړ ، دوی خو له ډېر پخوا څخه د هغه عذاب مستحق سوي دي چي هغه ته استئصال (له بیخه استونکی) وایي خو الله تعالیﷻ هغه نور هم و ځنډوی، تر هغه چي حضرت مسیحعليه السلام خپله راسي، څنګه چي د نوحعليه السلام د سترګو په وړاندي د هغه قوم غرق سو تر دي اندازې چي د هغه خپل زوی هم پکښېي شامل و، د حضرت صالحعليه السلام او د حضرت هودعليه السلام په وړاندي د هغوی پر قومونو عذاب راغلی و، د حضرت موسٰیعليه السلام او بني اسرایلو په وړاندي فرعون او د هغه لښکر غرق سو. ددې اعتبار له مخي د حضرت مسیحعليه السلام په لاسونو د دوی لپاره وروستۍ سزا راتلونکې ده .

**پوښتنه**: د حضرت عیسٰیعليه السلام او حضرت مهدي امام د ژوندلړۍ څنګه ده؟

**ځواب:** مهدي امام به اوه کال ژوند وکړي او وروسته به وفات سي، د هغه حکومت به پر عربي نړۍ واکمن وي، له دې وروسته به د حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



میسح عليه السلام په وروستیو ورځو کې جګړه پرته وي او هغه به د یاجوج او ماجوج په وړاندې جنګ وي .

دا چې په راتلونکي برخه کې د پېښو او حالاتو په اصلي مطلب ښه وپوهېږو اړینه ده چې دلته د قرآن کریم لخوا بیان سوي د تېرې زمانې د هغه سترو منکرینو، په هغوی کې پالل سویو مذهبونو او ځواکونواړوندچاري هم لږ روښانه کړو، حضرت لوط عليه السلام د حضرت ابراهیم عليه السلام هم زمان وو، هغه عليه السلام ابراهیم عليه السلام زمانې ته نږدې خلکو لپاره د نبي په توګه ولیږل سو، د قرآن عظیم الشان د بیان سره سم هغه خلکو غیر فطري عملونه یا نې (لواطت) کاوه چې هغه مهال په نړۍ کې چاته نه وو معلوم په قرآن کریم کې الله تعالی جل جلاله فرمایي:

ژباړه:((**او لوط (یاد کړه) کله چې یې خپل قوم ته وویل: تاسې داسې بد او سپک کارونه کوئ چې د نړۍ هیڅ بل قوم په هغه کې له تاسو څخه وړاندې والی ندی کړی، آیا تاسو په ریښتیا سره نارینه وو ته (د لواطت لپاره) نږدې کیږئ او لارې وهئ؟ او په خپلو ناستو کې ناوړه کارونه کوئ؟ خو د هغه د قوم ځواب پرته له دې بل نه و چې ویې ویل: که ته ریښتونی یې نو پر موږ د الله جل جلاله عذاب راوله**[1] )).

---

[1] سور ت العنکبوت – ۲۸،۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي حضرت لوط عليه السلام خپل د قوم دا ډول عملونه وليدل نو د الله تعالی جل جلاله څخه يې غوښتنه وکړه:

(( **ايا الله جل جلاله ددې مفسدو خلګو په وړاندې زما مرسته وکړه**[1])).

تر دې وروسته الله تعالی جل جلاله د انسان په څېره کې فرښتې را ولېږلې

(( **او چې کله زما استول سوي فرښتې لوط ته ورغلې، نو هغه خواشنی سو او زړه تنګی سو او ويې ويل نن ورځ ډېره سخته ده**[2])).

ژباړه:((**لوط ووېل تاسو خو د لوړې خلک ښکارئ، هغوی ووېل بلکه موږ تاسو ته هغه شی (الهې عذاب) راوړی چې په اړه يې دې خلګو شك درلود، او موږ تاسو ته حتمې پرېکړه راوړې او بې شکه چې موږ رښتني يو، نو تاسو د خپلې کورني سره ووځئ او تاسو د هغوی شاته روان سئ او ستاسو څخه دې هيڅوك شاته نه ګوري او د کوم ځای چې درته ويل سوي هلته ولاړسئ، او موږ هغه ته خپله پرېکړه ولېږل د سهار کيدو سره به ددې نافرمانه خلګو رېښې و ايستل سي**[3])).

---

[1] سورة عنكبوت ٣٠

[2] سورة هود :٧٧

[3] الحجر ٦٢-٦٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ترڅ کې قوم ته معلومه سوه چې حضرت لوط ته ځيني ميلمانه راغلي، هغوی د هغه د کور شاوخوا را و گرځيدل، لوط د خپلو ميلمنو د عزت او ابرو په اړه په فکر کې سو او خپل قوم ته يې وويل:

ژباړه:((**لوط وويل دا خلك زما ميلمانه دي، د هغوی په وړاندي په دا ډول خبرو کولو ما مه رسوا کوئ، له اللهﷻ څخه و ويرېږئ او ما مه بې ابرو کوئ**[1])).

قوم ځواب ورکړ: آيا موږ (ته) د ټولي نړی د خلکو د ملاتړ څخه نه يې منع کړی؟ حضرت لوطؑ و فرمايل:

ژباړه:((**ای کاش چي ما ستاسو د مقابلې وس لرلای او يا په يوه مستحکم ځای کي مي پنا اخستې وای**[2])).

د سهار کېدو سره قوم د هغه عذاب له کبله ډړې وړي سو، په دې اړه قرآن کريم داسي فرمايي:

---

[1] الحجر ٦٨،٦٩

[2] سورة هود ٨٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ((**نو د لمر څرك سره سم هغوی يوې زوروري چاودنې و نيول، نو موږ هغه سيمه نسکوره کړه، او د پخو ختېو د تيږو باران مو پرې و اوراوه، بېشکه په دې پېښه کې د ځيرکو خلکو لپاره ستري نښې دي او دغه (ښارونه د خلگو د تگ راتگ) په سمه لار کې پراته دي بې شکه چې په دې کې د مومنانو لپاره يوه نښانه ده او د الايکي[1] اوسيدونکي ظالمان ول**[2])).

(( **او ربښتيا داده چي ستا رب ارو مرو همدا ځواکمن، لورووونکی دی، د ګڼ ځنګل خاوندانو رسولان درواغجن و ګڼل**[3])).

د جرمني د مشهور لرغون پوه (ورنر کيلر) په خبره د سديم دره د سدوم او ظهورا درو په ګډون ددې سيمي ژور چاپيريال د مځکي تل ته ننه ايستل

---

[1] تفسير کابلي : دځنګل اوسيدونکې يعني دشعيب 4 قوم چې مدين په ښارکې اوسيدل اوهغوی ته دنږ دې د ونوځنګل (بڼ ) ؤ اوممکن دی چې ځنې خلك به هلته هم اوسيدل ځنې وايي چې اصحاب الايکة ) اصحاب المدين ) دوه جلاقومونه دي چې حضرت شعيب 4 دواړومبعوث شوي ؤددوی ګناه شرک بت پرستي داړه ماري اوپه تول اوپيمانه کې فريب او دوکه کول وو ددوی مفصله قصه د (هود ) اودالاعراف په سورتونوکې تيره شويده هلته دې ولوستله شي.

[2] الحجر ٧٣،٧٨

[3] الشعراء ١٧٥،١٧٦

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوي دي. د هغوی تباهي د يوې لويي زلزلې په ترڅ کي را منځ ته سوې، ددې زلزلې سره چاودني، بریښنا، طبعي ګاز او اورونه هم مله وو.

د حضرت لوط سمندر چي (چټل سمندر) هم ورته ویل کیږي د زلزلو په هغه تر ټولو خطرناك ځای کي موجود دی، د مردار سمندر پای د مځکي د سطحي ژورو ته رسیږي دا دره په شمال کي د (طبریه) سمندرګي څخه په سویل کي پرتې درې (ارابه) پوري غوړیدلې ده او په قرآن شریف کي ویل سوي چي موږ پر هغوی د پخې سوي خټې کاڼي د هري خوا و اورول، ددې څخه غالباً دا مطلب اخلو چي پر هغوی اور وریته چاودنه سوې او له هغې چي کوم کاڼي یا خټې را وتلې هغه په پاخه سوي حالت کي و، ددې ستري کندني لاندي چي کوم اور غورځوونکي توکي موجود و د هغوی څخه بې شمېره مواد را ووتل، (لبنان) ته نژدې د (اردن) په پورتنۍ دره کي اوس هم د ختم سوي اور غورځووني د (موادو) لوړې او ژوري موجودي دي او پر (چونه) ګچ لرونکو سیمو باندي د لاوې او نورو موادو ورغ معلومیږي.

د لوط دا سمندرګی د (روم سمندرګي) له تل څخه څلور سوه متره ژور دی او د روم سمندرګي ژور والي ۴۰۰ سوه متره دی، نو ویلای سو چي ددې ځای لاندنۍ برخه د روم د سمندرګي له سطحي اته سوه متره کښته ده، د لوط په سمندرګي کي یوه بله ښکاره ځانګړنه د اوبو زیات (تریوالی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی چي له امله يې په دې اوبو کي د کبانو او نورو لپاره د ژوند امکان له منځه تللی، ځکه نو دې ځای ته د مردار سمندر (Dead sea) په نامه ويل کيږي، څېړني ښيي چي د لوط د قوم د تباه کولو دا زلزله د ۱۹۰ کيلومتره مځکي د چاودني په صورت کي را منځ ته سوه چي په ترځ کي يې د خوږ سمندر پای را ځرګند سو . دا بېلوالی (درز) د صور غره سره نږدې تېرېږي د عربي صحرا او خليج عقبي پوري رسېدو وروسته له سور سمندر (احمر سمندر) نه تيريږي او افريقا ته په رسيدو سره پای مومي.

پر دې انځور باندي د ( نيشنل جيوګرافك چينل) تبصره داسي ده.

((د سدوم بې اوبو او بې بوټو ورانه سيمه د مردار سمندر پر لوړو پرته ده، د (سدوم او ظهورا) ويجاړ سوي ښارونه هيچا ندي ليدلي، خو هغه د خپلو کاڼو سره ها خوا په (سديم) دره کي موجود دي، ښايي د يوې سمندري زلزلې په نتيجه کي هغه ښار د مردار سمندر د سيلاب قرباني سوی وي)).

د روم د سلطنت (پومپايي) ښار هم د دا ډول ناوړه کارونو ښکار سوی دی، د هغوی انجام هم د لوط‌عليه‌السلام د قوم په څېر سو، او د هغوی تباهي هم د يو اور غورځوونکي څېږي په ترځ کي را منځ ته سوي ده، له دوه زره کلنۍ چوپتيا سره سره ورته ډاروونکي غرونه ويل کيږي، ځکه چي دوه زره کاله مځکي له دې ځايه راوتلي لاوې او اور ددې ځای ښار په خپلو لمبو کي را

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګیر کړ، دا تباهي دومره بېړنۍ او سخته وه چې د هغې ورځې ټول ژوند یې له ځانه سره یووړ او نن هم هغه اثار په دې بڼه موجود دي لکه دوه زره کاله پخوا چې وو، داسې ښکاري لکه وخت چې تم سوی وي.

(پومپایي) ښار د نړۍ له مخې په دې ډول لیري کول هیڅکله بې موخې نسي کیدای، تاریخ ښیي چې دا ښار هم د ګناهونو او بدکاریو ځاله وه، د اور غورځوونکي په شکل د الهي عذاب یو مهم اړخ داهم دی چې د اور د زوړ اوریدولو سره هم څوك په تېښته بریالی نسو،ګواکې په خپلو مستیو کې دومره ډوب وو، چې هغوی ددې شي خیال هم ونه کړ، یوه کورنۍ چې ډوډۍ یې خوړل په همدې شکل کاڼي سوه، د کیندنو په پایله کې لاس ته راغلي ځېرې اکثره بلکل روغي او سمې دي او د هغوی پر څېرو ویره او خواشني ښکاري.

ژباړه: ((**او د دغه ښار له ډېري لیري ګوښې نه یو سړی په منډه راغی، و یې ویل: ای قومه! د (دغو) استازو (خبره ) و منئ.**[1]))

((**او کله چې زموږ ( د عذاب ) حکم راغی، شعیب او د هغه کسان مو چې د هغه سره یې ایمان راوړی و له خپلي خوا څخه د پېرزوینې په و**

---

[1] سورة يسين ٢٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سیله و ژغورل او ظالمان سخت ږغ و نیول نو دوی سهار مهال په خپلو کورونو کې پر ګونډو مړه پراته وو.[1]))**

د سبا قوم د سویلي عربوپه ځلورو لویو تهذیبونوکي شمېرل کیږي، ددې خلکو زمانه د میلاده یو زر کاله وړاندي نه تر ۵۵۰ زیږدیز کاله پوري رسیږي، په تاریخ کي دا یو مهذب قوم بلل سوی، ددې خلکو د معمارۍ ښکاره ثبوت د (معارب) په نوم د اوبو بند دی، تر یوې اوږدې مودي پوري د هغوی د پایښت لامل د هغوی ځواکمن پوځ و، د هغوی د پوځ مشر هغه خبري چي له خپلي ملکې سره یې د خبرو اترو په ترځ کي کړي په قرآن کریم کي داسي بیان سوي دي:

**((هغو وویل: موږ تکړه او جنګیالي خلك یو نوره پرېکړه ستا په لاس کي ده ته په خپله و ګوره چي څه پرېکړه کوې[2])).**

د هغوی پلازمېنه (دارلحکومت) (اجنابه) سیند ته ډېر نږدې و، سویلي یمن کي موجود د (ملك سبا) تاریخي شالید ته په کتو د (حضرت سلیمانعليه السلام) او (ملکه سبا) د لیدني جزئیات هم مخي ته راځي، د

---

[1] سورت هود ۹۴ ایات

[2] سورة النمل ۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library


(ګهنډرات) د مطالعې له مخې تر میلاد زر کاله پخوا دلته د یوې ملکې د اوسیدو او شمال لوري ته د هغې د سفر کولو ځیني شواهد لاس ته راځي، په هغو سورتونو او ایاتونو کې چې د ملکه سبا ذکر راغلی د سلیمانعليه السلام یادونه هم سوې او د حضرت سلیمان د ستري پاچاهۍ او ماڼۍ یادونه هم سوې ده، ددې سره سم د هغه سره د خپل زمان تر ټولو پرمختللې ټکنالوژي هم موجوده وه. د هغه د سلطنت د ماڼۍاغیز پر ملکې سبا ته داسي نغوته (اشاره) سوې ده:

ژباړه:((**هغې ته وویل سوه چې شاهي حرم ته ولاړه سه، بیا چې هغې فرش ته وکتل داسي یې و ګڼل چې ژوري اوبه دي، نو خپلي څپلۍ یې و کښلې، و یې ویل دا خو یوه ماڼۍ ده چې د ښیښو څخه جوړه ده، ویې ویل اې زما ربه ما پر خپل نفس ظلم وکړ زه د اللهجل جلاله په وړاندي چې د ټولو کایناتو پالونکی دی د سلیمانعليه السلام سره یو ځای مسلمانه یم**[1] )).

په یهودي لیکنو کې د حضرت سلیمان محل ته ( سلیماني معبد ) ویل سوي دي، نن ددې محل یا معبد یوازې د لویدیځې څنډې دیوال روغ پاته دی.

[1]القران

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملکې سبا  د سیمي حالات داسي و چي د ښار اوسیدونکو ته د الله تعالیﷻ د رزق د خوړولو او د هغه د اطاعت کولو امر سوی و خو هغوی داسي ونه سوه کړای، او هغه لار یې و نیول چي خوشحالي یې په محرومۍ واوښته، هغوی داسي ګنل چي ټوله ابادي او خوشحالي د هغوی د خپل فن او هنر پایله ده، د شکر کولو پر ځای یې سرکښي وکړه او  د قرآن کریم د وینا له مخي له الله پاکﷻ څخه لیري سول، د کومي خوښۍ چي یې دعوه کوله هغه ورڅخه واخستل سوه او  (عرم سیلاب[1]) د هغوی د ژوند ټولي اسانتیاوي له ځانه سره یووړې، قرآن کریم د سبا قوم ته ورکړل سوی عذاب (عرم  سیلاب ) بللی قرآنکریم دا ټکي د سبا قوم د تباهي په اړه فرمایلي دي:

ژباړه((**نو چي کله دوی (له حق څخه) مخ واړاوه، پر هغوی مو د (عرم) سیلاب را خوشي کړ او د  دوی  د دوو باغونو پر ځای مو ورته د ترخو کرغېړنو  میوو د غزو وني او لږ تر لږه د (بېرو) دوه باغونه ورکړل**[2]))

---

[1](عرم) د اوبو ډنډ یا کاسې ته ویل کیږي، د ارم د سیلاب څخه موخه  هغه سیلاب دی چي د ډنډ (بند) د ماتېدو په صورت کي راځي

[2]سبا سورة ایا ت ۱۷-۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library


په عرم سيلاب کي د راغلي (عرم) کليمې په اړه مولانا مودودي په خپل تفسير کي ليکلي دي:

**((دا کليمه د سويلي عربو د ژبي د (عرمين) له کليمې څخه اخستل سوې چي مانا يې ډنډ يا بند دی، په يمن کي د کيندنو په ترڅ کي په را څرگندو سويو اثارو کي دا کليمه په دې مانا سره ډېره کارېدونکې برېښي**[1])).

د عرم سيلاب د ختمېدو وروسته هغه ټوله سيمه په بېديا واوښته، د زراعتي مځکو د له منځه تللو سره د سبا قوم له خپلو صادراتو څخه لاس په سر سو او هغه خلك چي د الله تعالیﷻ د دين د قبلولو څخه يې انکار وکړ او پر خپله گمراهي پاته سوه باالاخيره د خدای پاکﷻ عذاب و نيول، له دې تباهۍ وروسته د سبا قوم سره و پاشل سو، شمالي عرب، مکې او شام ته په هجرت کولو د هغوی ټول کورونه ويجاړ سوه.

لرغونی مصري تهذيب او په هغه وخت کي ودانه دره (دجله و فرات)ښاري مرکزونه د نړۍ تر ټولو لرغوني تهذيبونه او مهذب مرکزونه گنل کيږي، د

---

[1] مولانا مودودي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی تکیه د نیل[1] پر سیند وه، او د باران په اړه د فکر کولو پرته یې خپلې مځکې د نیل په سیند خړوبولې.

(رمسس دوم [2]) د مصر د تاریخ تر ټولو اوږده واکمنۍ لرونکی حاکم و، د ډېرو مؤرخینو په اند دا د بني اسرایلو د ماشومانو وژونکی او د حضرت موسٰی‌علیه‌السلام په وړاندي جګړه کوونکی فرعون و، حضرت موسٰی‌علیه‌السلام ته دا ستر ماموریت وسپارل سو چي د مصر خلک حق ته راوبلي، بني اسرائیل و ژغوري او ورته سمه لار و ښیي، د فرعوم لپاره دا امر د زغم وړ نه و، هغه موسی‌علیه‌السلام چي د هغه په کور کي را لوی سوی او د هغه ممکنه ځای ناستی دي هم وي او دهغه سره دي په دې ډول مخامخ سي، فرعون وویل: ((اې موسٰی! آیا ما ستاپالنه نه ده کړې؟ او تا د خپل ژوند یو څو کاله زموږ سره تیر کړي او تا خپل هغه کار وکړ چي کړی دي و او ښېشکه ته یو غټ ناشکره څوک یې)).

حضرت موسی‌علیه‌السلام په یوه برخه کي سیند دوې برخي کړ په دې اړه کوم څرګند نظر نه دی موجود د ځینو شواهدو پر بنسټ دا پېښه د روم سمندر[3]

---

[1] د مصر نیل سیند

[2] رامسس دوهم یا رامسس کبیر، ښایي دا د الله سرکښ او د خدایي دعوه کوونکی فرعون وي

[3] Mediterranean Sea

(c) ketabton.com: The Digital Library


په څنډو کې پېښه سوې ده، د اکثره محققینو په اند د بني اسرائیلو د اخراج دا پېښه د روم سمندر پر غاړو پروت احمر سمندر، یاني Red Sea په ساحلي سیمو کي را منځته سوې ده.

(ډیوډ بن ګوریون) له نظریو سره سم دا پېښه د رمسس دوم د واکمنۍ په دور کي د (کاردیېش) تر ماتي وروسته را منځ ته سوه، په (لرغوني عهد نامه) نومي کتاب کي راغلي چي دا پېښه د دري په شمالي برخه کي د (بن دور او بال دیبون) په سیمه کي پېښه سوې، دې ټکي ته په کتو سره Red sea (سورسمندر) په اصل کي Sea of Reeds یاني د نباتاتو سمندر دی ځکه نو ډېرى وختونه ددې د Red Sea سره د یو شان والي له کبله ورڅخه د احمر سمندر مطلب اخستل کیږي مګر د Sea of Reeds څخه مطلب د روم د بحر مصري ساحلونه دي.

چي کله حضرت موسٰیؑ له مصر څخه د بني اسرایلو سره یو ځای روان سو، نو د فرعون لپاره دا د زغم وړ نه وه چي بني اسرایل دي دده د اجازې پرته له حضرت موسٰیؑ سره ولاړ سي، هغه د خپل لښکر سره د دوی په تعقیب پسې سو، کله چي حضرت موسٰیؑ او بني اسرائیل د سیند غاړې ته ورسیدل نږدې و فرعون او لښکر یې هغوی و نیسي، په دې وخت کي الله تعالیﷻ حضرت موسٰیؑ ته وحی ولیږلې چي پخپله لکړه د سیند اوبه ووهه، له دې سره سیند پر دوو برخو ووېشل سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**((او موږ بني اسرائيل له سينده واړول، بيا فرعون او د هغه لښکر په ډېري سرکښي او ظالمانه انداز سره هغوی تعقيب کړه[1])).**

کله چي دا ستره واقعه را منځ ته سوه فرعون بايد فکر کړی وای چي دا معجزه د يو عام انسان د وس خبره نه ده او په دې کي د الله تعالیﷻ د ستر قدرت نښه ده او سيند هغه خلکو ته لار ورکوي چي هغه يې د هلاکولو په موخه راوتلی.

د فرعون او د لښکر فهم او عقل همداسي پاته سو، هغوی په بني اسرائيلو پسي سمندر ته ورکښته سول، فرعون چي ډوبېدی نو و يې ويل: ما پر هغه الله ﷻ ايمان راوړی چي بني اسرائيل ورباندي ايمان لري او د هغه پرته کوم معبود نسته او زه به په فرمان منونکو کي شامل سم، الله پاکﷻ په وروستيو شېبو کي د هغه ايمان رد کړ.

**((اوس (د ايمان دعوه) او تر دې وړاندي دي نافرماني کول او (ته) تل په فاسدو کارونو کي اوسيدلی يې بس نن موږ ستا (جسد) ژغورو تر**

[1] سورة يونس ۹۰ آية

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څو د وروسته راتلونکو امتونو لپاره یوه نښه وګرځي او بې شکه چي اکثره خلك زموږ نښانیو ته نه متوجه کیږي**[1])).

په قرآن کریم کي د تباه او برباد سوي یوه بل قوم، (عاد)  یادونه هم سوې چي (حضرت هودعليه السلام) ورلیږل سوی و، د شرك د پریښودلو او د یوه الله جل جلاله د عبادت او اطاعت د درس په ځواب کي هغه قوم پر (هود) باندي د کم عقلۍ ، درواغو او د خپل پلار او نیکه د ور ښودل سوو تګلارو څخه د انکار او سر غړوونکي  تورونه و لګول، په قرآن کریم کي د حضرت هود حق ته د بلني او د هغه قوم د رد بیان داسي راغلي:

ژباړه: ((**او د عاد قوم خواته موږ د هغه ورور هود و لیږه، هغه وویل چي اې زما قومه! تاسو یوازي د الله تعالی جل جلاله  عبادت وکړئ، دهغه پرته ستاسو بل هیڅ معبود نسته، دا پرخدای پاك جل جلاله باندي تاسي درواغ تړئ، اې زما قومه زه پر دې ستاسو څخه کومه بدله نه غواړم، زما اجر خو د هغه پر زمه دی چا چي زه پیدا کړی یم، نو آیا تاسي نه پوهیږی**

**او (د) عاد (قوم) ته مو د دوی ورور  هود (ولیږه)، هغه وویل: ای زما قومه! د الله جل جلاله عبادت وکړئ (ځکه چي) ستاسي لپاره پرته له هغه**

---

[1] سورة یونس ۹۲- ۹۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه بل هیڅ د عبادت وړ نسته (او د الله ﷻ سره په شریک نیولو) تاسي پر الله ﷻ درواغ تړونکي یاست، ای زما قومه ! پردې کار زه له تاسي څخه بدله نه غواړم، زما بدله خو پر هغه چاده چي زه یې پیدا کړی یم، آیا تاسي نه پوهیږئ؟، او ای زما قومه! له خپل رب څخه بخښنه و غواړئ بیا هغه ته ور وګرځئ (توبه و کړئ) څو له اسمانه پر تاسي شېبې،شېبې باران را کښته کړي او ستاسي پر زور (نور) ځواک هم زیات کړي او د ګنهکارانو په څېر مخ مه اړوئ.

هغوی وویل: ای هوده! تامونږ ته کوم ښکاره دلیل نه دی راوړی او مونږ ستا د خبري پربنسټ د خپلو معبودانو پرېښوودونکي نه یو او نه (هم) پر تا ایمان راوړونکي یو.

مونږ خو دا انګیرو چي پر تا زمونږ له معبودانو څخه د کوم یو ګزار لګیدلی دی (هود) وویل: زه الله ﷻ شاهد نیسم او تاسي شاهدان و اوسئ چي زه په رښتیا سره د هغه څه نه چي تاسي یې (دالله سره) شریکوئ، بېزاره یم.

د هغه (الله ﷻ) څخه پرته، نور تاسي ټول ماته چلونه جوړ کړئ او بیا ماته یو بخری مهلت هم مه راکوئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library


بېشکه چي ما پر الله ﷻ توکل کړی چي زما او ستا رب دی هیڅ داسي خوځنده نسته چي الله ﷻ وربانديي تسلط ونلري بې شکه چي زما رب پر نېغه لار دی.

که تاسي مخ واړوئ نو بې شکه ما هغه پېغام تاسو ته رسولی چي له هغه سره تاسو ته را لیږل سوی یم او زما رب به له تاسو پرته یو قوم ستاسي ځای ناستی و گرځوي او تاسي هغه ته هیڅ تاوان نسئ رسولای په رښتیا چي زما رب د هر څه ساتونکی دی.

او کله چي زموږ (د عذاب) حکم راغی (هود) او هغه کسان مو چي د هغه سره یې ایمان راوړی وو، په خپله پېرزوینه و ژغورل او دوی مو د سخت عذاب نه و ژغورل.

او دا د (عاد) قوم و چي د خپل رب آیاتونه یې درواغ و گڼل او دهغه له رسولانو څخه یې سر غړونه و کړه او د هر سرکښ او کینه کښ پیروي یې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او پر دوی په دې او هغې دنیا کښې لعنت و لیږل  سو، واورئ ! بېشکه عادیان په خپل رب کافران سول، د اللهﷻ  له لورینې څخه دې هغه عاد لیرې وې چې د هود قوم و[1]))**

د (عاد) قوم پېښه بل ځای په (الشعرا سورة) کې هم راغلې، هلته د عاد قوم یو څو ځانګړنې بیان سوې، د بېلګې په ډول هغوی به پر لوړو ځایونو خپلې نښې ودانولې او د اوسیدو لپاره به یې ښکلې او اعلی ډول ځایونه جوړول.

حضرت هودعليه السلام عاد قوم ته  د الله تعالیﷻ د عذاب څخه د بېرولو په ترڅ کې ویلې ول:

**((ایا تاسو پر لوړو ځکو بې کاره نښانې جوړوئ؟ او تاسو پر ودانیو ډېر زحمت ګالئ چې ښایې تاسو به تل ژوندې پاته سئ[2]؟))**

د ۱۹۹۰ کال په لومړیو کې د نړۍ په نژدې ټولو ورځپاڼو کې دا خبر خپور سو چې د عربو هېر سوی ښاري سمندر (څرګند و موندل سو، ډېری خلګو داسې فکر کاوه چې په قرآن کې د (عاد)  قوم یادونه یا خو د یوه داستان

---

[1] سورة هود ـ ٥٠ ، ٦٠

[2] سورة الشعراء ١٢٠-١٢٨

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره اړه لري او یا هغه ځای په نښه کول نا ممکن دي، هغوی ټول ددې مونډنې په خبر سره حیران پاته سوه، په قرآن کریم کې ذکر سوي ښار لرغون پوه (نکولس فلیپ) و مونډی، په ۱۹۳۲ کې د انګریز څېړونکي (تهامس) لخوا د لیکل سوي کتاب (Arabian Palace) لوستلو سره (فلیپ) په دې باور سوی و چې د هغه ورك ښار وجود اوس هم سته او ددې سیمې د سفر پر مهال صحرایانو دا لرغونې لار لیدلې ده او ویلي دي چې دا لار د هغه لرغوني هېر سوي کور خواته ځي. فلیپ د ښار د مونډلو لپاره له دوو لارو کار واخیست، لومړی خو هغه د کوچیانو ور ښودل سوې لار په نښه کړه او بیا یې د امریکایي فضایي اداري (ناسا) څخه و غوښتل چې ددې سیمي عکسونه ورته واخلي، په دې ترڅ کې هغه ته د کلفورنیا په هنکیګټون (Hankington) کتابتون کې د ۲۰۰میلادي کال د یوناني جغرافیه پوه (بطلیموس) لخوا جوړه سوې نقشه په لاس ورغله چې په دې سیمه کې موجود. د لرغوني ښار ودانۍ او هغه لور ته تلونکي ټولې لارې پکې په ګوته سوي وې، په دې وخت کې (فلیپ) ته د ناسا لخوا اخستل سوي عکسونه هم و سپارل سوه، نوموړي د عکسونو او پخوانۍ نقشې تر مقایسوي څېړنې وروسته دې پایلې ته ورسیدی چې دا هم هغه لارې دي چې د (ستیلایټ) څخه په اخستل سوو عکسونو کې ښکاري، وروسته کندنې پیل سوې او تر ریګو لاندې یو ښار را څرګند سو او ورسره دا حقیقت روښانه سو چې دا هغه د (عار) او (ارم) د لوړو څلو ښار دی چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآن کریم کي يې يادونه سوې، ځکه هلته هغه منارونه موجود و چي ذکر يې په قرآن کي راغلي دی:

**((آیا تاسو ونه لیدل چي ستاسي پروردگار د عاد له قوم سره څه وکړه؟ چي د جگو جگو څلو لرونکی ارم ورته ویل کیده چي په نړۍ کي يې هیڅ مثال نه و[1].))**

قرآن حکیم د عاد قوم د تباهۍ سبب وېرووونکی باد بللی:

**((عادیانو هم حق درواغ و گڼی، نو څنگه و زموږ کړنه او زموږ وېرونه؟ بېشکه موږ په پرله پسي شومو ورځو کي سوړ توند باد پر دوی راوالوزاوه، خلگ به يې ایستل تابه ویل چي دوی له بېخه استل سوي د خرماوو ډډي دي[2])).**

**((او پاته سوو عاد قوم هغه په یو خورا توند، تیز او سخت باد سره تبا کړل سو چي د الله ﷻ په امرپر هغوی اته شپې او اوه ورځي په**

[1] الفجر ٦-٨

[2] القمر ١٨-٢٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوامدار شکل و چلیدی، بیا چي هغوی ته په دې حالت کي و کتل سوه نو داسي غورځیدلي وو لکه د خرما بې مغزه تنې**[1])).

(برین دویې) په خپل کتاب سوترن عربیه (Southern Arabia) کي لیکلي دي چي د داېول توپانونو لومړی نښاني د گرد او دوړو یو څو فتې لوړه وریځ وي چي ورسره تیز او تند بادونه هم چلیږي:

ژباړه:((**بیا چي هغوی ولیدل یوه وریځ له مخامخ لوري د دوی سیمي ته را روانه ده و یې ویل دا یوه توره وریځ ده چي پر موږ به ښه ووریږي، خو هغه عذاب وو چي تاسو ورته تلوار کوی یو تیز باد دی چي پکي دردناك عذاب موجود دی**[2])).

د قرآن کریم د بیان سره سم اته ورځي او اوه شپې چلیدونکي ریگنو بادونو دا ښار په ټنونو ریگو کي پټ کړ او خلک ژوندي ښخ سول، ددې خلکو په ریگ کي د ښخیدو خبره په سورة (احقاف) کي بیان سوې ده، احقاف د (حقف) جمع ده چي د ریگو غونډۍ ته ویل کیږي، هغه وخت چي دا ښار تر ۱۲ متره ریگو لاندي سو د خپلو اوسیدونکو سره په ریگو کي ورك سو، هلته یوه بیدیا وغوړېده او د هغوی هیڅ نښه پاته نه سوه.

---

[1] الحاقه ٦-٧

[2] سورة الاحقاف ٢۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:((**آیا دوی پر دې خبره غور ونه کړ الله** ﷻ **چي څه پیدا کړي، تر هغوی په توان او اقتدار کي اعلی دی**[1])).

د تېر څخه په عبرت اخیستلو حال او راتلونکي ته بیرته ستنېږو، د نن په خپرونه کي پر دې ږغیدو چي مهدي امام به قسطنطنیه (= استانبول) تر واک لاندي راولي او تر هغه وروسته به دجال را څرګند سي، دجال یو څوک، یو سیستم او یوه فلسفه ده چي په راتلونکي څپرکي کي به ورباندي بحث وکړو.

[1] سورة فصلت ١٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# څلورمه برخه

رسول اللهﷺ چې د خپل امت د هدایت او لار ښوونې لپاره په څومره تفصیل او ارزښت سره د قیامت د نږدې والي حالات بیان کړي دي د هغه په رڼا کې ښېله شکه، ښېله ښېري او دوه زړه توبه دا ویلای سو چې موږ دا مهال د قیامت د راتلو په هغه زمانه کې روان یوچې د دجال او مهدي امام تر څرګندیدو مخکې زمانه ده، په دې اړوند چې رسول اللهﷺ کومې وړاندوینې کړي له هغوی ډېره برخه یې زموږ له سترګو تېره سوې ده، دا نښې رسول اللهﷺ د زمانې په ترتیب سره ندي بیان کړي په ښکاره ډول په دې پېښو کې د زمانو ترتیب که ناممکن ندی ستونزمن، خو خامخا دی، که په باور سره ددې پېښو د زمانو ترتیب کیدای سي، نو لمړی دا چې د (رسول اللهﷺ د بعثت) څخه بیا د دجال تر څرګندېدو پورې پېښې، دوهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دجال د را ښکاره کېدو څخه بیا د حضرت عیسٰیعلیه السلام تر وفات پوري پېښيي او دریم د حضرت عیسٰیعلیه السلام د وفات څخه د قیامت تر راتگ پوري پېښيي.

د دجال څرگندیدل د قیامت د لسو لویو علامو څخه یوه ده، دا زمانه د اخیرت فتنه ده او ددې د سختۍ اندازه له دې ښکاري، رسول اللهﷺ چي د هر لمانځه وروسته د کومو څلورو شیانو څخه د پناه غوښتلو سپارښتنه کړې په هغو کي یوه د(دجال فتنه) ده،

له حضرت ابوهریرهرضي الله عنه څخه روایت دی چي:

**((رسول اللهﷺ و فرمایل:باید په څلورو خبرو د اللهﷻ څخه پناه وغوښتل سي او و یې ویل: اې اللهﷻ زه د جهنم د عذاب، د قبر د عذاب، د مرگ او ژوند له ازمایښت او د مسیح د دجال له فتنې څخه ستا فنا غواړم)).** ابن ماجه

د دجال فتنه یو شمېر خلک ځکه نه مني چي یادونه یې په قرآن کي نده راغلې په داسي حال کي چي د یو شمېر خلکو په خبره په دې آیات کي د دجال ذکر سته :

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژباړه:((**په کومه ورځ چې ستاسو د رب یو شمېر نښانې څرګندې سي، په دې ورځ به هیڅ نفس ته په هیڅ حال کې هیڅ ګټه نه وي**.))

د نورو په خبره د دجال په اړه دري بېلابېلې انګېرنې موجودې دي، یوه دا چې دجال به یوشخص وي، د یو شمېرخلکو په خبره چې دا به یو نړیوال ټولنیز او سیاسي نظام وي  په داسې حال کې چې په یو بل نظر کې دا یو نالیدلی او بې مرګه قوت ګڼل سوی، په دې لړۍ کې د صحیح حدیثونودقیقه مطالعه  دا روښانه کوي چې د یوه شخص په بڼه د دجال تر څرګندېدو مخکې به یو داسې نظام قایم سوی وي چې پلویان به یې د هغه پیروي کوي او په هغوی کې به زیات شمېر مسلمانان هم وي، کوم پوهان چې دجال یو شخص نه بلکه یو نظام ګڼې په دې باور دي چې د هغه د یوې سترګې لرل په حقیقت کې د نړۍ د یوه ځواک (سوپر طاقت) واکمنې ده،  د هر قانون د انفاذ او د هري تګلاري خپرولو لپاره د هغه یونظر بسنه کوي.

په وروستیو کلونو کې دا ډول بې شمېره هیوادونو خپل منځې اختلافات پای ته و رسول د افغانستان او عراق په وړاندې سره یو سول جاپان او جرمني څنګه په یوه خوله خپل پوځونه نورو هیوادونو ته  د جګړې لپاره و لیږل. ددې څخه دا جوتېږي چې ددې نظام په  حکومت کې اداري، ملي شرکتونه، د رسنیو ستري اداري او ورځپاڼې ټول شامل دي، دا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


نبوي ارشاد دی چي دجال به پر خپلو دښمنانو اور اوروي او خپلو پلويانو ته به خوراکونه چمتو کوي، موږ په اوسنيو جگړو کي دا هرڅه هم په خپلو سترگو وليدل، موږ د وجود پاشونکو بمونو ترڅنگ د خوراك کڅوړي هم وليدې چي راکښته کيدې.

په تېره يوه پېړۍ کي د نړۍ پر مخ ستر بدلونونه راغلي، د خپلوۍ په مزو کلك تړل سوی کورنی سيستم تار په تار سو او انسان ورځ په ورځ د يواځي والي لور ته روان دی.

په دې نظام کي د ژوند بوختياوي، د انسان ارام، سکون، د ذکر وخت، د عبادت وختونه، د خوشحاليو ساعتونه، يو دبل سره په خپل کور کي اوسيدل، ملگرو او دوستانو سره يو ځای تيريدوونکی وخت يوازي يو خوب او خيال پاته سو (يوازي د کار کولو وختونه زيات سوه) د يو بل سره تر ليدلو کتلو اوس زيات وخت پر تلويزيون کتلو تيريږي، دا تصور په ځانگړي ډول په نوي نسل کي عام کيږي چي ښايي ټولنه تل همداسي اوسېدلې ده، انسان تر پخوا ډير کار کولو ته اړ دی د ښځو د ازادۍ د تحريك په مرسته ښځي هم د يوه ځواکمن کورني نظام څخه ليري د شتمنيو د لاسته راوړلو په يوه ډگر کي پريښودل سوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا نظام او تر ټولو ستر ځواک  د ور ننوتو لار لري، خو د وتلو هیڅ لار یې نسته، اوس انسان هر هغه شی غواړی چي مخکي  یې ورته هیڅ اړتیا نه لرله او ډیرو ته خو یې اوس هم نه لري  هغه چي نور یې لاس ته راوړي دی یې هم هیله لري، که د هغه په جیب کي پیسې نه وي، نو په جیب کي یې کریډیټ کارډ اچوي او نوي نړۍ ته ور ننه ایستل کیږي بیا نو کار او کار، ځوك چي ددې کار او ددې نظام په ګرداب کي نه را ګیریږي، نو هغوی ته د جرم بهانه لټول کیږي، په یو نه یو ډول یې د داسي یوه مجرم  په نوم بدناموي چي په دې نظام کي د خورا سختو قوانیو لرونکی وي د جرمونو څخه د خلاصون په موخه افسران  په محاکمو کي د موجوده نظام د چلولو او د پیسو د لاسته راوړلو په خاطر  درنې مالیې (ټیکس) ټاکي ، په داسي حال کي چي ډېره نړۍ په همداسي یوه دایره کي ژوند تیروي،  نو ژوند دومره ستونزمن سوی چي د خدای ﷻ د یادولو لپاره هم وخت نه پیدا کیږي، هره محکمه له بلي سره تړلې ده، هره اداره له یوې بلي اداري سره تړاو لري، هر سړی کله؟ چیري؟ څنګه اوسیږي؟ څه کوي؟ ځوك ورته ځي راځي؟ هر څه ثبتیږي، بس د جولاګي تانسته ده چي له هري خوا سړی را نیسي او همدا هغه نظام دی چي خپله رسول الله ﷺ ورڅخه  د پنا دعا غوښتې وه.

دا نظام مخي ته راتلونکي هر خنډ د یوه پخواني، زاړه او د جاهلیت د زمانې یو یادګار ګڼي او په ډیره چټکۍ سره یې له مخي  لیري کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که نن موږ له خپلو ماشومانو څخه د څو کالو مخکي ژوند، کورنیو، خوشحالیو، غمونو، کار او بوختیا، دود او کلتور، منځني اړیکي او یا موضوع په اړه څه و پوښتو نو هغوی به داسي وخاندي لکه دا چي کومه افسانه یا د جهالت یادونه وي، یوازي په څو کلونو کي یوه نوي نظام موږ په خپل غیږ کي واخستو.

دا ډراماتیك بدلونونه په ټولنه کي څه ډول راځي؟ د نړۍ د یوه لیري وروسته پاته سیمي د یوه کلي بېلګه درسره شریکوم، ناڅاپه یو غټ متحد شرکت د طبعي زېرمو په لټه  هغه سیمي ته مخه کوي. په لږ وخت کي د لږو پیسو په بدل کي ددې اداري سره کار کوونکي مزدوران د پیسو په ارزښت پوهیږي. ورسره هغه ټولنه چي په دې سیمه کي د فابریکو تر راتګ او د کوم کان تر کندني مخکي موجوده وه منحل کیږي، دا هرڅه په دې سیمه کي د پرمختګ او خوشحالۍ په نوم تر سره کیږي او دلته د نوي تمدن او تهذیب په نوم د انسان اقتدار پای ته رسیږي، ټوله نړۍ د اسلامي هیوادونو په ګډون نن ددې نظام تر اغیز لاندي ده، دې ته د بې مرګه نالیدلی ځواک پیاوړې نمونه ویلای سو.

په دې نظام کي کمپیوټر، (نوې او خورا پیچلې ټکنالوژۍ) دا ممکنه کړې چي دا ټوله نظام دي د یوه مرکز څخه د یوه شخص لخوا اداره سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا حالت د نړۍ په ټولنیز نظام کې هم موجود دی چیري چې د بانکونو، سوداګریزو ادارو، صرافانو او د مالیاتي ارګانونو د غوړیدلي جال تارونه یو له بله سره یو ځای کیدو وروسته یوه مرکز ته تلونکي لیدل کیږي، له هغه ځانه یوه اشاره د ټولي نړۍ ټولنیز نظام په خپل موټي کي راوستلای سي، اسعار کښته پورته کولای سي، بانکونو شمېر ډیرولای سي، اداري بندي او عام خلك له لوږي مړه کیدای سي، درمل تولیدوونکي اداري کولای سي هره شیبه د موجوده نظام لخوا جوړ سوي وایرس څخه د نړۍ ډیر وګړي و ژغوري.

انسان نن ورځ تر خپل توان ، صلاحیت، ذهن او خوارۍ ور ها خوا د موجوده نظام او هیوادونو په کاغذي اسنادو پسي مري، چي کله هم بې ارزښته کیدای سي او لرونکی به یې له پښو و غورځیږي .

که تېر سل کلونه له نظره تیر کړئ او بیا نبوي حدیث کي د د جال دې ځانګېړني ته ځیر سئ چي هغه به دومره تیز تګ کوي لکه اوریځ چي هوا د ځانه سره څغلوي، کوم څوك چي د هغه په کفر او ګمراهۍ کي ورزیاتیږي په هم هغه کچه د هغه پلویان ډیریږي، مخالف ړغ پورته کوونکي څه ډول له بندیزونو او پوځي یرغلونو سره مخ کیږي.

د خبري د لا روښانتیا لپاره د رسول الله ﷺ ارشاد مبارك و ګورئ، ژباړه:

**((چي کله دجال د یوې داسي قبیلې څخه تیریږي چي هغوی یې**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**درواغجن و ګڼي نو د هغوی ټول خرېدونکي څاروي به مړه کيږي او چي کله دجال پر يوه داسي قبيله راسي چي هغوی يې تصديق وکړي نو دجال پرهغوی باندي د اسمان څخه د باران اوريدو او د مځکي څخه د نباتاتو د راشنه کيدو حکم ورکوي، ددې نظام وروسته به (شخص) دجال را ځرګنديږي او دا نظام به د هغه ښه راغلاست و وايي او د هغه د توان يوه برخه به و ګرځي.))**

## ډاکټر اسرار حمد:

په يوه حديث کي دې ته نغوته (اشاره) سوې، په اصل کي د د جال د شخصيت په اړه پوره شك موجود دی، (ابن صياد) د مديني دننه د يهودو يو زوی وو د هغه په اړه هم شك موجود وو چي کيدای سي دا دجال وي ځکه هغه د غيب خبرونه ويل او په خوب کي به يې ليدل کولای سوه د هغه په دننه کي دا ځانګړني موجودي وې، حضرت عمر ﵁ وويل تاسو ماته اجازه راکړئ چي د هغه سر غوځ کړم هغوی وويل: نه! که دا دجال وي نو ته هغه نسې مړ کولای که چيري نه وي نو ناحقه خون ولي کوې؟

يو مسلمان سوی عيسايي خپله يوه کيسه داسي کوي چي زه د سمندر په سفر وتلی وم، يو توپان راغی او د سمندر څپو موږ را ګير کړو، موږ يوې

(c) ketabton.com: The Digital Library


جزيرې ته پنا يو وړه، هغه جزيره اباده ښکاريده، موږ يو نادر حيوان و ليدی د هغه پر وجود خورا ډير وېښتان وه هيڅ نه ښکاريده چي د هغه سر کوم او لکی کومه ده، هغه ماته وويل چي يوه کليساده او په هغه ځای کي درته څوك منتظر دی، ورسه، هغه چي هلته ځي ګوري چي يو ديو ته ورته کس دی چي په لويو لويو ځنځيرونو تړل سوی دی، هغه وويل چي زه دجال يم دا مهال زنداني يم او رانه و يې پوښتل چي په پلاني ځای کي اوبه سته؟ پلانۍ خرماوي پيدا کيږي کنه؟ دا ډول موږ ته نه ښکاري چي دجال په نړۍ کي موجود دی کنه موږ ته مالومه ده چي دجال حتماً راځي چي انساني خبره به لري هغه به په يوه سترګه ړوند وي او د هغه طاقت به دومره زيات وي چي مځکي ته ووايي: را وباسه خزانې نو هلته به شنه کښتونه را زرغونه سي د مځکي څخه به خزانې راووځي او د هغه رفتار به دومره تيز وي چي يوازي په څو ورځو کي به پر ټوله نړۍ را و ځرخي او د ټولي نړۍ خزانې به په خپل واك كي واخلي، هغه يوازي هغه چاته رزق ورکوي چي د هغه پلوي کوي او مني چي په ربښتيا دا خدای دی، هغه به د مسلمانانو سره سخت چلند کوونکی وي خو ددې شخص په اړه لا ځرګنده نده چي خبره به يې څه ډول وي او کله به را ځرګند سي نور نو موږ له حديثو څخه پوهيدای سو چي دجال به څنګه وي، کله به راسي، څنګه به راسي او د هغه نښي به څه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اغا سيد علي موسوي:

زما نظريه هم داده چي داسي يو حالت به وي چي د استعمار سوي نړۍ ستر ستر شيان به هغه په خپل واك كي واخلي او مسلمانانو ته به زيان ورسوي، لكه نن چي موږ په لوى لاس اړ كړل سوي يو، هر څه زموږ سره سته خو بيا هم موږ نورو ته اړ يو او د هغوى خواته مو سترګي نيولي دي، موږ تيل، غنم، سمندر، ميوې، غرونه مقصد هر څه لرو نو بيا ولي موږ اړ يو او هغوى ولي موږ ته خپلي سترګي را ښئي؟ دا هر څه د قيامت نښاني دي، كه تاسو په غور دا ټول كتابونه ولولئ نو يوه يوه نښاني به مو مخي ته راسي، دجال هم راغلى او په مسلمانانو كي بې اتفاقي هم موجوده ده.

**سوال:** ستاسو په فكر دجال راغلى؟

**ځواب:** تقريباً راغلى دى حالات داسي ښكاري د مهدي امام راڅرګنديدل ډير نږدې دي، نن سبا څه روان دي، سړى په امن كي خوب نسي كولاى، په خلاص زړه څوك ګرځيداى نسي، يو اسلامي هيواد راوښيه چي هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



امن وي. په اوس وخت کي په ټولو اسلامي هيوادنو کي فسادونه او جنګونه روان دي.

د دجال اړوند چي په احاديثو کي بيلابيل کوم روايتونه راغلي د هغوی د مطالعې څخه په ټوله کي دا نتيجه اخلو چي دجال د مسلمانانو د ازمايښت لپاره را ليږل کيږي چي ددې فتنې په مرسته به نړۍ پر دوو برخو ووېشل سي، قوي ايمان لرونکي او مشرکين، منځنۍ برخه منافقين چي په دواړو کښتيو کي به سپرېږي نور به څوك نسي پاته.

دلته اصحابوته د حضورﷺ لخوا ورکړل سوی فرمان هم په ذهن کي ولرئ:

**((له حضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و فرمايل: څوك چي د دجال د راتګ خبر واوري نو هغه بايد ورڅخه ليري سي، په خدایﷻ قسم که څوك دجال ته نږدې ورغی ځان به مومن ګڼي، خو بيا به هم د هغه پيروي ومني، ځکه هغه ته چي کوم څه ورکړل سوي د هغه له امله په شك کي لويږي[1])).**

رسول الله ﷺ چي د د جال ذکر کاوه نو پر اصحابو يوه وېره غوړېدلې وه، د ځينو صحابه و په وينا مور داسي احساسول چي هغه نږدې په يوه ځنګل کي موجود دی.

[1] مشکوة د حديث شمېر ۵۲۵۲ د اوبو داود په حواله

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورا ډیر عیسایان هم په دې نظر دي چي دجال یا انتي چرسټ[1] (د مسیح خلاف) راتلونکی دی،

**((په نړدو کي به په نړۍ کي د شیطانانو عبادت وسي**[2])).

د عیسایانو له وینا وو یوه دا هم ده چي هغه به یو ناڅاپه نه را ښکاره کیږي بلکه په غیر مستقیم ډول به خپل ځواکونه را ټولوي او تر هغو به هیڅ ګام پورته نه کړي تر کله چي د نړۍ حالات د هغه د راوتلو په حق کي نه وي برابر، د هغوی لومړنی موخه د منځني ختیځ په خپل واك کي راوستل دي وروسته به اسیایي هیوادونه تر خپل کنټرول لاندي راولي.

یهودیان هم یوه داسي الهامي پاچاته په تمه دي چي په نړیواله کچه به د دوی ملاتړ کوي. عیسایان هغه شخص ته د مسیح دښمن (Anti-Christ) وایي چي د خدایي په دعوه کولو سره به په نړۍ کي تباهي راپیل کړي او موږ مسلمانان د هغه پر ښکارندیدو ایمان لرو او دجال ورته وایو، یاني عیسایان او مسلمانان په دې خبره یوه خوله دي چي دجال خامخا راځي،

[1] Anti-Christ

[2] کتاب الهامات ۱۳٫۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر خبري غځولو وړاندي هڅه کوو چي د اسرائیلو او یو شمېر نورو په بنسټیزو تاریخي حقایقو وپوهېږو او وروسته راتلونکو پېښو باندي پوهیدل اسانه کیږي، اوس به د مسلمانانو، عیسایانو او یهودیانو تر منځ په راتلونکي کي د پیښېدونکو جګړو او د شته کړکېچ شالید ته کتنه وکړو.

د حضرت یعقوب‌عليه‌السلام نوم بني اسرائیل وو او د قرآن کریم د بیان سره سم بني اسرائیل د حضرت یعقوب‌عليه‌السلام اولاده ده، د عهد نامه عتیق په حواله د حضرت ابراهیم‌عليه‌السلام دوه زامن وه اسماعیل‌عليه‌السلام او اسحاق‌عليه‌السلام او د اسحاق‌عليه‌السلام دوه زامن وه عیسْی‌عليه‌السلام او یعقوب‌عليه‌السلام او د هغه نوم چي یعقوب وو د هغه ۱۲ زامن وه چي تر ټولو د مشر نوم یې (یهودا) وو او وروستی یې (بین یامین) نومیدی، په دې توګه په کومو سیمو کي چي د یهودا نسل اوسیدی د نورو سیمو د تبا کېدو سره یوازي هغوی و ژغورل سوه ځکه نو هغوی ته یهودیان وویل سوه پالکتونکو او نجومیانو چي په دې نسل کي د خپلو خیالاتو او عقیدې پر بنسټ کومه اډانه (چوکاټ) جوړ کړی وو او تر میلاد ۵ سوه کاله وړاندي چمتو کړل سوی وو هغه ته یهودیت وایي، ځکه نو قرآن کریم په اکثره ځایونو کي د ((الذین هادو)) په ویلو مخاطب کړي ولي چي په هغوی کي هغه غیر اسرائیل خلك هم موجود وه چي یهودیت یې منلی وو په داسي حال کي چي قرآن کریم بني اسرائیل په همدې نامه بللي، اسرائیلو په کلونو کلونو د فرعونیانو تر لاس لاندي د ذلت او رسوایي ژوند تیر کړ ځکه نو الله‌جل‌جلاله پرهغوی رحم وکړ او حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسٰیﷺ يې په دوی کي پيغمر پيدا کړ، په (سينا) غره کي پر حضرت موسٰیﷺ د(تورات) بې شمېره حکمونه نازل سوه او په هغوی کي يو حکم دا هم وو چي بني اسرائيل د ځان سره فلسطين ته بوزه او هغه ځای فتح کړئ هغه ستاسو مراث دی، بني اسرائيلو چي دا حکم واوريد نته (انکار) يې وکړ او ويې ويل: موږ هلته هيڅ کله نه ځو تر څو هغوی هلته موجود وي، ته او ستا رب دواړه ولاړ سی د هغوی سره و جنګيږی موږ دلته پاتيږو، ځکه نو اسرائيل د سزا په توګه (۴۰ کاله) په صحراوو کي پاته سول، چي کله دا سزا پوره سوه نو حضرت موسٰیﷺ د بني اسرائيلو سره د (هواب) سيمي ته داخل سو، (موسٰیﷺ) هلته وفات سو او بيا د حضرت (يوشعﷺ) په مشری اسرائيل فلسطين ته داخل سول، د قبيلوي تعصب پر بنسټ پر ۱۲ برخو ووېشل سول او په (فلسطين) کي دوی له پخوا څخه موجود او نه اصلاح کيدونکو قومونو په عقيدو کي ورګډ سول او مشرکين سول.

وروسته بني اسرايلو ته د حضرت موسٰیﷺ وصيت په ياد سو او هغوی خپل ګډه واکمني جوړه کړه چي په هغوی کي دري مشران تير سول، (حضرت طالوتﷺ)، (حضرت داودﷺ) او (حضرت سليمانﷺ)؛ طالوتﷺ دولس خوري وري قبيلې سره يو کړې او خپل زوی (داود) يې ور مشر کړ، په دې ډول حضرت داودﷺ ګير چاپېره ځيني سيمي فتح کړې او تر خپل واك لاندي يې راوستلې او بيا يې په (يروشلم) کي د بيت

(c) ketabton.com: The Digital Library


المقدس بنسټ کښېښود او د سیکنې د تابوت د ژغورلو لپاره یې د یوې ودانۍ چاري پیل کړې، د سیکنې د تابوت په اړه د قرآن کریم بیان داسي دی چي د هغه نبي هغه ته دا هم وویل چي د خدایﷻ له طرفه د هغه د پاچا کیدو یوه نښاني داده چي هغه صندوق به بیرته ستاسو لاس ته و لویږي، په هغه کي ستاسو د رب لخوا ستاسو لپاره د زړه د سکون سامان موجود دی، په هغه کي د موسٰی او د هارون د کورنۍ لخوا پرېښودل سوي برکتونه دي چي دا وخت یې فرښتې ساتي، څرګنده نه ده چي په دې صندوق کي څه دي، د انجیل په حواله په هغه کي د (حضرت یوسفعليه السلام) جامه مبارکه ده او د بایبل د روایت سره سم په هغه کي هډوکي او جامي دي چي (حضرت موسٰی عليه السلام) د مصر څخه له ځانه سره راوړي ول.

د قصص الانبیاء په حواله په دې صندوق کي د تورات اصلي بڼه د ډبرې دوې تختې چي (حضرت موسٰیعليه السلام) ته په (سینا غره) کي ورکړل سوې وې او په هغه کي د (حضرت موسٰیعليه السلام) او (هارون عليه السلام)عصاء ( لکړه )، جامې او د من او سلوا لوښې هم خوندي دي، څو راتلونکې نسلونه د الله تعالیﷻ دا احسان په یاد ولري چي په صحراوو کي د ژوند پر مهال اللهﷻ دوی ته ورکړې ول.

د (حضرت داودعليه السلام) تینګه غوښتنه وه چي ددې صندوق لپاره یو بېل کور جوړ کړي چي دا صندوق هلته خوندي پاته سي خو د (اسرالیاتو[1]) سره سم هغه ته ویل سوي وو چي د هغه د زوی په وخت کي دا ودانۍ جوړیدای سي، (حضرت داودعليه السلام) د خپل زوی په وخت کي په پرله پسې ډول هڅه

---

[1] اسرائلیات هغه کیسو او خبرو ته ویل کیږي چي د اسلام په نوم خپاره سوي وو خو اسلامي منبع ونلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


وکړه چي بلآخره د (حضرت سيلمان ﷺ) په دور کي يې کار بشپړ سو او دې ته سليماني معبد وويل سو، تر (حضرت سليمان ﷺ) وروسته بني اسرائيل بيا په خپل منځ کي و جنګيده په ليري شمالي فلسطين کي د اسرائيلو واکمني حاکمه سوه او په سهيلي فلسطين کي د يهودو، اوس نو د دواړو واکمنيو تر څنګ سخته سيالي او خونړي کشمکشونه پيل سوه.

بلاخره تر ميلاد اوه سوه کاله وړاندي د اسرائيلو واکمني پای ته ورسېده خو (۵۸۷)کاله تر ميلاد وړاندي بابل پاچا د يهودو د سلطنت وروستۍ خښته و کښه او سليمان معبد يې داسي وران کړ چي يو ديوال يې هم ولاړ پاته نسو، (سکينه تابوت) هغه وخت داسي غيب سو چي تر اوسه يې چا درك نه دی معلوم کړی او اسرائيل يې له هغه ځايه دباندي و شړل، (۷۰ کاله) وروسته ايراني فاتح پارسوا(قصر بابل) و نيوی او بيا يې اسرائيلو ته د راتګ اجازه ورکړه، له بيرته راتګ وروسته هغوی سليماني هيکل (مجسمه) هم له سره و رغول خو د يهوديانو ديني او اخلاقي حالت ورو ورو خرابيدی اخر داسي حد ته ورسيده چي هغه مهال چي د (حضرت يحی ﷺ) سر يې قلم کړ نو بيا ددې قوم د يو کس ږغ هم وانه وريدل سو، بيا په هغوی کي د (حضرت عيسیﷺ) سره يو لړ معجزې هم راغلي، لومړی د هغه زيږيدنه او بيا (په ځانګو کي خبري کول) دا معجزې د اسرائيلو لپاره پرخدایﷻ د ايمان راوړلو سخت ازمايښت وو، پرته له پلاره د هغه د زيږيدني ذکر په قرآن کريم کي په دې ډول راغلی دی:

ژباړه: ((**د مريم زوی او د هغه مور موږ يوه نښاني و ګرځول او هغوی**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**مو داسي یوه ځای ته ورسول چي د اطمنان ځای وو[1])).**

کله چي هغه د خپل ماشوم سره قوم ته ستنه سوه نو ټول په سخته حیرانتیا کي و لویده دا کیفیت د قرآن کریم په یو بل ځای کي داسي فرمایل سوی:

ژباړه:((**بیا چي هغه ماشوم په غیږ کي خپل قوم ته ستنه سوه ، نو خلګو و پوښتل اې مریم! دا شی دي له کومه را وړې؟ د هارون خوري نه خو ستا پلار بد سړی وو او نه هم ستا مور کومه بدکاره ښځه وه[2])).**

په دې ترڅ کي حضرت مریم د خپل ماشوم خواته اشاره وکړه ماشوم پر خبرو راغی، ویې ویل:

ژباړه: ((**زه د الله بنده یم هغه ماته کتاب راکړی او نبي یې ګرځولی یم او برکت یې راباندي کړی او د لمانځه او ذکوة حکم یې راته کړی تر څو چي ژوندی یم د مور د حق ادا کوونکي یې و ګرځولم او زه یې قهرجن او بد نصیبه نه یم پیدا کړی، سلام دي وي پرما چي کله پیدا سوم او چي کله مرم او چي کله ژوندی پورته کړل سم[3])).**

دا هغه معجزې وې چي د (حضرت عیسٰیعلیه السلام) په ماشومتوب کي اسرائیلو ته وړاندي سوې، الله جل جلاله هغوی ته د مسلسل بدکاریو په بدل کي د عبرتناکي سزا مخکي پر هغوی ټول دلیلونه بشپړول غواړې.

---

[1] سورة مومنون ۵۰ آیة

[2] مریم سورت ۲۸ ایت

[3] مریم سورة ،۳۳_۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



یهودیان په هغه مهال د یوه داسي واکمن د راتګ په تمه وو چي هغوی له ذلت او بې واکۍ څخه وژغوري او په نړۍ کي یوه پاچاهي واکمنه کړي.
په دې ترڅ کي د لرغوني اریانا سره د یو شان والي د اغیز د ډېریدو له امله چي په هغوی کي کوم بنسټیز بدلونونه لیدل سوي وو له هغو یو دا هم وو چي د نیکیو خالق یزدان[1] او د بدو خالق (اهریمن[2]) تر منځ ازلي جنګ دی او وروستۍ فتح به د یزدان وي او هغه به د خپلي فتح د اعلان لپاره مځکي ته یو استازی را ولیږي چي د هغه د ظهور په وخت کي ستوري را لوېږي، قحطي او نور مصیبتونه به را نازلیږي او وروسته به ټول شیان ختم سي، ددې اریایي عقیدې لاندي یهودیانو هم خپله غوښتنه پوره ولیدل، خدای به یوه مسیحا را نازل کړي، پاچاهي به دهغه وي، د هغه له راتګ سره به د (حضرت داودعليه السلام) پاچاهي له سره جوړه سي او داسیمه به یې پلازمینه وي، د پاچا څخه مقصد اسماني پاچا او د (یروشلم) څخه مراد د الماسو او جواهیرو یو داسي اسماني ښار وو چي په ویالو کي یې د ژوند اوبه بهیږي، په دوی کي پرهیزګاره خلګ د یهودو له ښاره ووتل او په غارونو ننوتل، د هغوی باور وو چي حضرت مسیح به خپله حضرت داود وي چي دوی به د یونانیانو له منګولو ژغوري، مړه سوي یهودیان به را ژوندي کړي او په ګډه به یو پاچاهي جوړه کړي،کله به چي په هغوی کي یو ځوان همته

---

[1] یزدان، یزید، اویستایی کلیمه ده چي په لرغونی اریایی کي د خدای په معنی کارېده.

[2] اهریمن اویستایي کلیمه ده چي لرغوني پښتو بڼه یې (میرڅمن) ده چي د دښمن او شرخوښونکي په مانا ده. (ژباړن) (Ahriman)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځوک پیدا سو، ژر به یې د هغه نښو سره پرتله کاوه چې د مسیح سره به یې تړاو درلود.

په دې حال کې یو ښکلی ځوان چې په سترګو کې یې حیرانوونکې ځلا وه، پر اوږو یې زلفي غوړیدلي وې په (سلیماني) معبد ننوت یهودان هلته ناست ول او سکې یې شرنګولې، د حرم په دننه کې خلکو بازار غوړولی وو د عبادت پر ځای په راکړه ورکړه بوخت ول، هغه لږ په قهر سو د ټول بازار پام یې ځان ته کړ او یوه اغیزناکه وینا یې وکړه.

ځینو چې د هغه خبرې واوریدې نو چغې یې کړې د (داود) زوی راغلی موږ ده ته انتظار وو، د هغه زلمي په لاس یو شمېر ناروغانو شفا تر لاسه کړه، د جزام (پیس) عذاب ورنه لیرې سو، ړندو لید وموند، دا د خدای تعالی پیغمبر (حضرت عیسٰی عليه السلام وو)، یهودیانو خو داخوب لیدی چې د هغه له راتګ سره به د نړۍ پاچاهي د دوی وي، د هغوی څخه به ځوك پوښتونکی نه وي خو هغوی چې د (عیسٰی عليه السلام) خبرې واوریدې تکان یې و خوړ او د هغه د نبوت د انکار سره یې وویل چې عیسی د جلیل اوسیدونکی دی او د جلیل څخه هیڅ نبي نسي کیدای، حضرت عیسی پر یهودي علماوو د نیوکې په ډول وویل:

**((اې ریاکارو! افسوس دی پرتاسو، د هغه قبرونو په څېر یاست چې په سپینو ډبرو پوښل سوي وي، چې باندني ډیر ښکلي ښکاري مګر دننه د شوړیدلو هډوکو او هر ډول مرداری څخه ډك دي، په دې ډول په ښکاره تاسو نیك ښکارئ او په باطن کې د مکارۍ، ریاکارۍ او بې دینۍ څخه ډك یاست، په تاسو کې چې هرڅوك خپل هرڅه پرې نږدې هغه زما شاګرد نه دی.))**

(c) ketabton.com: The Digital Library


د یهودي عالمانو لپاره د هغه دا خبري د جنګ اعلان وو، هغوی په خپل منځ کي مشوره وکړه چي څنګه دا ږغ بند کړي، یو پلان یې جوړ کړ او د هغه سره سم یې پټ پولیس په نورو شکلونو (حضرت عیسٰی) ته و لیږل، هغوی ورته و یې ویل:

**((ای استاذه! موږ پوهیږو چي ته ریښتنی یې او په ریښتني توګه د خدای په لار کي زده کړه ورکوې او د هیچا پروا هم نه کوې، موږ ته ووایه چي آیا قیصر ته جزیه (ججه) ورکول جایز دي؟))**

(عیسی) د هغوی په مکاری پوه سو، ورته ویې ویل:

**((پردغه سیکې د چا عکس او نوم دی؟ هغوی ځواب ورکړ: د قیصر، عیسی وویل څه چي د قیصر دي هغه قیصر ته ورکړئ او څه چي د اللهﷻ دي هغه الله ته ور کړئ.))**

له دې وروسته هغوی د (عیسی) یوه پیروي ته رشوت ورکړ او هغه یې دې کار ته چمتو کړ چي عیسی په داسي یوه موقع کي و نیسي چي د خلکو خطره نه وي، بیا هغوی ټول را غونډ سوه او هغه یې د روم حاکم ته وروست او قیصر ته یې وویل:

**((دا سړی موږ تیرباسي او وایي چي قیصر ته ججه مه ورکوئ او خپل ځان په حقه پاچا ګڼي))**

هغوی پر (عیسٰی‎عليه السلام) باندي نور تورونه هم و لګول اخر د هغوی تورونه اغیزمن ثابت سوه، د روم واکمن حضرت (عیسٰی عليه السلام) د یوه ساتونکي په لاس غره ته و لیږی او یهودیانو هم عیسٰی عليه السلام د تګ په حال کي و لیدی، (حواري) خپله اعتراف کوي چي له نیول کیدو وروسته هغه پر سجده پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ووت او ټوله شپه یې دعا وې کولې ((ما ددې خلکو څخه و ژغوره)) دا د جلیل القدر معصوم پیغمبر دعا وه لکه د حضرت ابراهیم، حضرت یعقوب او حضرت یوسف علیه‌السلام دعاوې چې الله تعالیٰ جل‌جلاله قبولې کړې په دې توګه د عیسٰی علیه‌السلام دعا هم قبوله سوه، په دې اړه د قرآنکریم دا آیت شاهدي ورکوي؛

ژباړه:

**((او د دوی د دې خبرې ( له کبله) چې موږ بې له شکه د الله د رسول د مریم زوی عیسی وژلی دی، په داسې حال کې چې هغوي هغه نه وو وژلی او نه یې هم په دار ځړولی دی، بلکه پر دوی (دغه پېښه) هم شکله (پوښانې) سوې وه، او بې شکه هغه کسان چې د هغه په اړه یې اختلاف کړی دی د هغه په اړوند شکمن دي چې په دې اړه د ګومان له پیروۍ پرته نور هیڅ کوم علم نلري او په رښتیا چې دوی عیسی نه وو وژلی.[1]))**

زموږ د عقیدې له مخې هغه الله تعالیٰ جل‌جلاله ژوندی اسمانونو ته پورته کړ، د هغه د مصلوبولو (پرصلیب باندې ځړولو) په اړه خپله عیسایانو کې لسګونه قولونه موجود دي، د بیلګې په ډول: ځینې وایې پر صلیب مسیح نه بلکه د هغه همځیره ځړول سوی دی او مسیح هلته ولاړ وو د هغوی پر بې عقلۍ یې خندل، د ځینو په وینا پر صلیب عیسٰی خو ځړول سوی وو خو د هغه وفات د صلیب څخه تر را کښته کولو وروسته را منځ ته سو او یو شمېر بیا وایې چې هغه پر صلیب وفات سو او بیا ژوندی سو او بیا یې شاوخوا لس

---

[1] سورة النساء ١٥٧

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځله له خپلو پلویانو سره خبري وکړي، ځوك وايي پر صلیب د مسیح انساني جسم مړ سو او تر ښخولو وروسته چي په هغه کي کوم روح ژوندی وو هغه اسمانونو ته پورته کړل سو، ځيني بیا په دې نظر دي چي تر مرگ وروسته مسیح د وجود سره ژوندی سو او لوړ پورته سو، دلته زما موخه د عیسایانو ذلیل کول او درواغجن کول نه بلکه یوازي د بېلابېلو اړخونو بیان دی او په دې پوهیدل دي چي یهودو چي د (حضرت عیسٰی ﷺ) سره کوم چلند وکړ دا دهغه دکوم جرم سزا وه.

د صلیب د پېښي پر مهال د (حضرت عیسٰی ﷺ) عمر ۳۳ کاله وو او دا پېښه د جمعې په ورځ رامنځ ته سوه چي هغه ته عیسایان Goog Friday (ښه جمعه)وايي ځکه په دې ورځ هغه د آدم لپاره کفاره و گرځیدی، تر هغه وروسته د (ایسټر خوشحالي) راځي ځکه د عیسایانو د عقیدې له مخي په دې ورځ حضرت عیسٰیﷺ دوهم ځل ژوندی سو او د خپلو شاگردانو سره یې و لیدل،

یهودان وايي که چیري (عیسٰی ﷺ) رښتیا مسیح وي نو هغه ځنگه پر صلیب را و ځړول سو.

تر حضرت عیسٰی وروسته عیسائیت توان پیدا کړ او( ٦۴ زیږدیز) کال کي یهودیانو د رومیانو په وړاندي په ښکاره بغاوت وکړ وروسته رومي سلطنت ټینگه مقابله وکړه او هغه بغاوت یې دړي وړي کړ، په دې قتل عام کي یو نیم لك کسان ووژل سول، په زرگونو و نیول سول او د ځنگلي ځناورو په وړاندي و غورځول سول، (بیت المقدس) ته اور واچول سو او سلیماني معبد داسي خاوري کړل سو چي هیڅ عیسایي و نه توانیدی په گوته کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي هغه چرته جوړ وو، له فلسطین څخه یهودیان ایستل سوي وو او هلته رومي (هرقل) واکمن حکومت کاوه، دا هغه وخت وو چي په عربو کي د حضرت نبي کریم ﷺ پیدا ېښت سوی وو، د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه تر زماني دا ښار د عیسایي حکومت مرکز وو، په دې وخت کي سره پاشل سوي عیسایان ځای ځای په کورونو جوړولو بوخت سول، هغوی سیمه ایزو عربو ((بودیانو)) او قریشو ته د خپلي دې خپلوۍ یادونه کوله چي د (حضرت ابراهیم) د اولادونو تر منځ وه، یو ځل بیا یې وریاده کړه چي یهودیان د حضرت ابراهیم او (حضرت ساره) د زوی حضرت اسحاق اولادونه دي په داسي حال کي چي (قریش) د حضرت ابراهیم او حضرت هاجرې اولادونه دي، یهودیانو د حضرت اسماعیل مور حضرت هاجرې په اړه دا کیسه په خپل الهامي کتاب تورات کي داخله کړې چي هغه د ابراهیم میرمن (نه) بلکه یوه بدکاره وه چي هغه د خپلي میرمني (ساره) په وینا په وچ ریگستان کي وغورځول، عیسایانو د یروشلم د نیولو پر مهال تر کلونو پوري خپل خځلي (کثافات) د یهودیانو په کنډوالو کي غورځول او دا حالت د حضرت عمر فاروق لخوا د (یروشلم) تر نیولو روان وو اسقف اعظم (د عیسایانو ستر عالم) په زړورتوب سره د لاطیني سپاهیانو په مرسته د یروشلم دفاع وکړه خو په (٦٣٨ زیږدیز) کال کي عیسایان اړسول چي وسله و غورځوي، اسقف اعظم د حضرت عمر رضي الله عنه پرته بل چاته د ښار د کیلیانو د سپارلو څخه انکار کړ ی وو، حضرت عمر رضي الله عنه چي ښار ته داخل سو د خپل عادت سره سم یې چي په څومره امن او پرته له ویني تویوني د ښار واگي په لاس کي واخستې د هغه مثال په تاریخ کي نه موندل کیږي.

له کله چي عیسایانو وسله و غورځول نو هیڅ چیري هم وینه توی نه سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نه هم کوم مذهبي ځای و سوځول سو او نه هم ځوك بې کوره سو، حضرت عمر رضي الله عنه د ژوندون د ځای د کتلو غوښتنه وکړه، اسقف اعظم هغه سیده هغه ځای ته ورساوه چې د حضرت عیسْی علیه السلام د مرگ او نوي ژوند د نظریې سره سم جوړ سوی وو، د یادگار دا ستره او عالیشانه ماڼۍ چې د اسلام خلیفه ولیده نو خوښ نه سو ځکه اسلام پر صلیب د حضرت عیسْی مرگ غلط گڼلی وو.

حضرت عمر رضي الله عنه هلته ولاړ وو چې د لمانځه وخت سو، خلیفه ته وویل سوه چې آیا هغه غواړي همدلته لمونځ اداکړي؟ خو حضرت عمر رضي الله عنه د هغه ودانۍ څخه د باندي ووت لمونځ یې اداکړ او ویې ویل: که زه په مسیحي ودانۍ کي لمونځ ادا کړم نو مسلمانان به ورباندي قبضه وکړي او پردې بنسټ به ورڅخه مسجد جوړ کړي چې دلته د اسلام خلیفه لمونځ ادا کړی دی، حضرت عمر رضي الله عنه فرمان صادر کړ چې دلته به کوم مسجد نه جوړیږي؛ تر هغه وروسته حضرت عمر رضي الله عنه د سلیماني معبد څخه کتنه وکړه، هغه هلته په دې ډیر حیران سو چې حضرت سلیمان علیه السلام ته منسوب عیسایان دا سپېڅلی ځای د خځلو او کثافاتو لپاره کاروي، هغه په خپلو لاسونو د هغه ځای کثافات په خپل ځولۍ کي واچول او د ښار تر دیوال یې واړول د هغه ملگرو هم همداسي وکړل.

حضرت عمر رضي الله عنه د یهودي علم (اسرائیلیاتو) ماهر کعب ور و غوښت او د طبري په حواله د هغه  په وړاندي یې د قرآن شریف (۱۷م او ۱۸م سورتونه) تلاوت کړه چې په هغه کي د حضرت داود، حضرت سلیمان او د سیلماني معبد پیښبي ذکر سوي دي، بیا یې کعب ته وویل چې د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


بهترین مقام ځای ورته و ښيې چي هلته مسلمانان عبادت وکړي، کعب د غره په شمالي برخه کي یو ځای په ګوته کړ خو هلته چي به مسلمانانو د عبادت په وخت قبلې ته مخ اړوی، نو مخي ته به یې د یهودو یو شمېر مقدس ځایونه هم راتلل، حضرت عمر د کعب دا وړاندیز رد کړ او د (هیرودیس) د شاهي ماڼۍ یو ځای یې په ګوته کړ او هلته یې د لرګیو یو ساده ودانۍ جوړه کړه چي په هغه کي به د عبادت پر مهال د مسلمانانو مخ یوازي مکي طرف ته وو چي هغه (مسجد قبا) دی.

دقبتة الصغرى (د عذاب ډبره) د جوړولو حکم اموي خلیفه عبدالملك بن مروان په (٦٨ هجري) کال کي ور کړ دا شپږ اړخیزه ودانۍ په (٧٢ هجري) کال کي بشپړه سوه، ددې لپاره خلیفه د مصر د ٧ کلونو مالیات ځانګړي کړه، ددې ودانۍ او ګنبدې پربکړه داسي وسوه چي د هغه ډبري ګیر چاپیره به جوړیږي چي په اړه یې ګڼ روایتونه موجود دي، د هغو څخه یو دا هم دی چي د حضرت ادم عليه السلام څخه دوه زره کاله پخوا فرشتو پر دې ځای طواف کړی وو، دوهم روایت دا دی چي د حضرت نوح عليه السلام کښتۍ له طوفانه وروسته پر دې ځای را کښته سوې ده، دا هم ویل کیږي چي د قیامت په ورځ به (اسرافیل عليه السلام) پر دې ډبره دریږي او صور شپېلۍ به (پوه) کوي، دا روایت هم موجود دی چي د حضرت داود عليه السلام په زمانه کي یهودانو خپل قرباني دلته راوړل او یوې اسماني شغلې به هغه سوځل او په ایرو به یې بدلول چي دا به دهغوی د قربانۍ د قبول یوه نښه بلل کېده، د روایت سره سم د معراج په شپه حضور صلی الله علیه وسلم پر دې ځای براق ته پورته سو او اسمانونو ته ولاړی او حضور صلی الله علیه وسلم ددې ډبري اړخ ته د انبیاوو امامت هم وکړ.

د مسجد (اقصی) ودانۍ ددې ګنبد لرونکي ودانۍ څخه لږ اړخ ته د حرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سهيلي برخه کي پرته ده، دا روښانه کول ځکه مهم دي چي ډېرى خلك دا ښکلى گنبد لرونکى ( قبۀ صغرى) مسجد اقصى گڼي، په دې مسجد کي يو لمونځ د (۲۵ زره لمځونو) برابر دى، دا د مځکي پرمخ دوهم مسجد دى چي تر کعبې شريفي (۴۰ کاله) وروسته جوړ سوى دى، دا تر ټولو مخکي حضرت ادمعليه السلام جوړ کړ وروسته حضرت ابراهيمعليه السلام په هم هغه ډول له سره جوړ کړ لکه څنگه چي هغه د حضرت اسماعيل عليه السلام په مرسته کعبه له سره جوړه کړه، لکه وړاندي چي مي وويل بيا حضرت داود عليه السلام د دې مسجد د ودانولو چاري پيل کړې او حضرت سليمان عليه السلام بشپړ کړ او هم دې ته په تاريخ کي سليماني معبد ويل کيږي، بيا د رومي پاچا بخت نصر په حکم تر تباهۍ وروسته دا هغه مسجد دى چي حضرت عمررضي الله عنه دوهم ځل ودان کړ، د پخوانيو پاتي شونو نه يو ديوال پاته دى چي(گريه) ورته ويل کيږي او دا د يهوديانو مقدس ترين عبادتځاى دى، هغوى د سليماني معبد پر تباهۍ او دخپل عظمت پر بايللو دلته اوښکي تويوي.

په تېرو (۲۰۰) کلونو کي د يروشلم ښارونه د ډول ډول غورځو پرځو سره مخامخ وو خو بيا هم د هغه ځاى ودانۍ په ډېر ښکلى ډول جوړي سوې، د دري گونو مذهبونو خلك دلته راتله او دا ښار په ملي کچه د ټولو د پام وړ وو خو يو ځل بيا تاريخ حالات و گرځول او په نړۍ کي عيسايان ددې ښار د لاسته راوړلو په هڅه کي سوه، د اروپا عيسايي واکمنۍ سره يو ځاى سوې، له ۱۰۹٦ څخه تر ۱۲۹۲ پوري ياني څه باندي دوه سوه کاله يې د منځني ختيځ پر مسلمانانو پرله پسې حملې وکړې چي هدف يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


مسلمانانو د لاسوڅخه د سپېڅلو ځایونو اخستل وو.

په دې جنګونو کې برخه اخستونکي عیسایان د ( پاپ اربن ثاني) په هغه غوښتنه ور مخکې سوه چې د صلیب په نوم کړې وه، بیا نو ددې جګړو په مهمو کې هم صلیب د جنګ د علم په توګه و کارول سو په دې توګه دې ته صلیبي جنګونه (Crusades) ویل کیږي.

دا جنګونه چې کله په یوولسمه پیړۍ کې وسوه هغه وخت منځنی بحر چې د اوبو پر دوو برخو ویشل سوی وو په لویدیځه څنډه کې یې لاطیني تهذیب او پر مذهبي بنسټونو ولاړ عیسویت وو په داسې حال کې چې پر ختیځه څنډه یې یوناني تهذیب موجود وو چې د هغوی د استازیتوب ویاړ (یوناني) کلیسا او د ختیځ (رومي) سلطنت ته په برخه وو، د اسلام په وړاندې دواړه اړخه سره همږغي او یو صف سول.

دې جګړو ګڼ لاملونه درلوده چې په هغو کې خپله د مسلمانانو په منځ کې نازك حالت هم موجود وو، په بغداد کې واکمن ترکانو د مصر د فاطمیانو څخه واك واخیست لومړی فاطیمانو او بیا دوی ټولو خپل فریاداروپا ته ور وړ، بیا نو اروپایي ځای ناستي وو چې خپل وطن کې یې هیڅ زړه را کښنون پاته نسو.

په اروپا کې د ځایونو د نیوني د نظام د زیاتیدو له امله د پاپ روحاني اقتدار له سخت خطر سره مخ وو، په داسې حال کې د عربي عیسائیت د دبدبې د ساتلو لپاره اړینه وه چې په پرله پسې ډول ددې ناکراره ځواکونو مخه واړول سي، په (۱۰۹۴ز) کې د (کلیر ماونټ) په تاریخي غونډه کې د مسلمانانو په وړاندې د مقدس جنګ اعلان و سو او ټولو ورته لبیك وواېه، (پاپ) اعلان وکړ چې سپېڅلې مځکه و نیسئ او ور باندې واکمن سئ، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library


سیمه ستاسو ده او له دې سره دا کافران یاني (مسلمانان) هیڅ تړاو نه لري، د تورات په حواله دلته به د شیدو او شاتو ویالې و بهیږي، په (۱۰۹۵ز) کې لومړی صلیبي حمله وسوه، هغوی په یوه پسې بله کلا قبضه کول او هلته به یې خپل یو ریاست جوړاوه، په دې توګه څلور آزاد اسرائیلي ریاستونه بیت المقدس، انطاکیه، طرابلس او الراء را منځ ته سوه او په (۱۰۹۹ز) کې هغوی بیت المقدس ته ننوتل.

درې ورځې صلیبي حمله کوونکو په منظم ډول ټول وژنه (قتل عام) وکړ، نږدې ۳۰ زره مسلمانان یې له تېغه تېر کړل، ۱۰ زره مسلمانان چې د مسجد اقصی پر چت (بام) یې پنا اخستې وه هم ووژل سول.

ددې ستر ظلم عیني شاهد رایمونډ (Raymond) لیکي چې صلیبی جهاد یو خوشالونکې عقده وه، د ټولو ستونزو او مشکلاتو خلاف همدې بریا خلك په دې باور کړه چې په دې کار کې د خدای رضا شامله ده، تر دې مهاله مسلمانان نسبتاً بې طرفه ګڼل کیدل خو تر صلیبي جنګونو وروسته هغوی د کرکې وړ او خدای نه منونکې مخلوق او د وژلو وړ وګڼل سوه.

خرنګه چې له مصر څخه د اسرائیلو وتل د خدای پرېکړه وه په همدې ترتیب صلیبي جنګونه هم د خدای تعالی یو انصاف و ګڼل سو، هغوی د ( ګاډ فرې) په نوم یو زلمی خپل مشر و ټاکی، هغه مسجد اقصی خپل سرکاري تکیه خانه و ګرځول او قبته الصغری په کلیسا واوښته، نوم وربانديي (خدایي معبد)کښیښودل سو، د قبتة الصغری پر دیوالونو کښل سویو قرآني ایاتونو باندې د (انجیل) د متن پاڼې و لګېدې.

صلیبي پوځونه په چټکی مخته ولاړل شام او مصر به یې هم لاندې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library


وای خو (عماد الدین زنګي) او د هغه زوی (نور الدین زنګي) د صلیبیانو په وړاندي ګیر سوه، په الراء کي د عیسایانو ریاست عمادالدین زنګي پای ته ورساوه چي وروسته په (۱۱۴۷ز) کي د جرمني پاچا او د فرانس پاچا (لوئي هفتم) دوهم صلیبي جنګ پیل کړ دا حمله په بشپړه ډول ناکامه سوه، تر دوه کاله هلوځلو او خواریو وروسته په (۱۱۴۹ز) کي دواړه پاچاهان سرټيټي شاته و ګرځېدل.

دریم صلیبي جګړه د (سلطان صلاح الدین ایوبي) د په زړه پوري فتوحاتو په نتیجه کي ترسره سوه، سلطان په کال (۱۱۷۱ز) کي له مصره فاطمي خلافت ختم کړ او هلته يې د عباسي خلیفه په نوم د خطبه ویلو امر وکړ او د (نور الدین زنګي) د وفات وروسته په اسلامي ځواکونو کي يې يو والي د را پیدا کولو هڅه پیل کړه، صلاح الدین ایوبي په شام او فلسطین کي د عیسایانو ټول ریاستونه له منځه یووړه او بلآخره د خپل مټ په زور پر یروشلم ور ورختی، هغه د زیتون د غره څخه لاندي ښار ته و کتل د حرم بې حرمتي او پر (قبته الصغری) باندي لګیدلي صلیب نښان په لیدو يې جزبه را و پاریدل، خپلو قومندانانو ته يې وینا وکړه او ورپه یاد يې کړه چي دا د انبیاوو او نبي د معراج ښار دی.

(۱۲ اکتوبر ۱۱۸۲ز) چي د رسول اللهﷺ د معراج د ورځي سره برابره وه سلطان صلاح الدین ایوبي یروشلم ته داخل سو، یو عیسایي هم ونه وژل سو او د زندانیانو په زاریو د سلطان زړه داسي نرم سو چي د ټولو د خوشي کولو حکم يې ورکړ، په لویدیځ کي عیسایان پر دي سخت خواشني سول، سلطان چي له عیسایانو سره کوم چلند وکړ هغه پر یروشلم د صلیبانو د قبضې پر مهال سوي چلند سره ډیر زیات توپیر درلود، او بیا دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبري خپرې سوې چې صلاح الدين اخلاقاً عيسايي دی.

سلطان د مسجد اقصی سپېڅلتيا له سره تازه کړه له هغه ځايه يې د عيسايانو تشنابونه او نور ناپاکه شيان ليري کړل، له ديوالونو يې عکسونه ايسته کړل او کيندل سوي قرآني اياتونه يې تازه کړه، د حرم مځکه او ستني يې د ګلاب په اوبو ومنځلې، د صليبي جنګ پرمهال چې کوم يهوديان شړل سوي ول صلاح الدين ايوبي هغوی هم بيرته ښار ته را وستل.

د بيت المقدس د لاسه ورکولو وروسته په اروپايي عيسايانو کي د قهر او غضب يو څپه را پورته سوه او دريمه صليبي جګړه را منځ ته سوه، په هغه کي د جرمني پاچا (فريډرك بار بروسه)، د انګلستان پاچا (رچرډ شيردل) او د فرانسې پاچا (فلپ اګستېس) شامل ول، له دې ډلي د جرمني پاچا د کوچنی اسيا په سيندکي غرق سو، د فرانسې پاچا د رچرډ سره د مخالفت له امله دوه کاله وروسته بيرته و ګرځېدی او رچرډ شېردل له سلطان صلاح الدين ايوبي سره د سولي په تړون بريالی سو.

د سولي دې تړون ته په تاريخ کي (صلح نامه رمله) وايي چې په پايله کي يې له (اکا) څخه تر (زعفر) پوري سيمي عيسايانو ته ورسيدې او هغوی ته د بيت المقدس د زيارت کولو اجازه هم ورکړل سوه، په کال (۱۱۹۳ز) کي د (Typhoid) يا لويي تبي له امله د صلاح الدين ايوبي تر وفات دوه کاله وروسته د روم د (پاپ) په بلنه جرمني پاچا (هنري هشتم) څلورمه صليبي حمله وکړه، تر (اکا) رسيدونکی وو چې پاچا مړ سو او په دې ډول دا بريد هم ناکامه سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د پنځم برید بلنه د روم پاپانو او قسطنطنيې په ګډه ورکړه چې په هغه کې صليبانو ته د مصر په د(میات) ښار کې عبرتناکه ماته ورکړل سوه، بیا په (۱۲۲۸ز) کې شپږمه صليبي حمله دجرمني پاچا (دوهم فرډرك) تر مشرۍ لاندي وسوه چې په پایله کې يې بيت المقدس بيا د عیسایانو لاس ته ولويدی، پر (قبته الصغرْی) باندي يې د شرابو بوتلان کښېښودل او د خوشالۍ جشن يې ولمانځی، خو په (۱۲۴۴ز) کې مسلمانانو بيا له بيت المقدس څخه عیسایان و ایستل، ترك سلطان ښاغلي (سلطان زاهد مملوك) په انطاکيه کې د عیسایانو رياست پای ته ورساوه چې ورسره د عیسایانو ملا ماته سوه په داسي حال کې چې د (پاپ) په غوښتنه د فرانسې پاچا نهم لوئي د صليبي مشرتوب پرېکړه وکړه، دا د صليبانو وروستی لوی برید ګڼل کيږي، په دې وخت کې په صليبي لښکرو کې يوه تباه کوونکې (وبا) خپره سوه چې نهم لوئي[1] هم په هغه کې له منځه ولاړ.
له زاهد نه وروسته الملك المنصور پر تخت کښیناست په خلورو کې يې درې د عیسایانو رياستونه ختم کړه او څلورم يې د هغه زوی په کال (۱۲۹۱ز) کې له منځه يووړ او همداسي د (اكا) د كلا دفتحې سره د صليبي جګړو دا ويروونکې لړۍ پای ته ورسيده چې پاپ (اربن ثاني) را پيل کړي وه.
تاریخ شاهد دی چې په دې جنګونو کې اروپايي عیسایانو تل برید کوونکی رول لوبولی په داسي حال کې چې مسلمان سلاطینو تل دفاعي دريځ

[1] د فرانسې د لويي واکمنانو لړۍ تر شپاړسم لويي پوري ورسېده چې باالآخيره (۱۷۷۹ز) د فرانسې په انقلاب سره شپاړسم لويي اعدام سو. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library


خپل کړی وو او هغوی تل د عیسایانو د یرغل او متحدو قوتونو په وړاندي مجبور سوي چي و جنګیږي، ددې صلیبي جګړو د مشری ویاړ فرانسې ته په برخه دی ځکه لومړی برغ د هغه ځایه راپورته سوی وو، د صلیبي جګړو په پایله کي د ځواک توازن هم ګډ وډ سو او د اروپا د ځواک مرکز فرانسه و ټاکل سوه، ددې صلیبي جګړو پر مهال اسلام په ټولیزه توګه مخ پر زوال روان وو، شام ، فلسطین او مصر څخه پرته نورو اسلامي هیوادونو په ډیره لږه کچه ددې حالتونو احساس وکړ، دا خبره یوه معجزه ګڼل کیږي او پوځي کار پوهان دې خبري ته حیران دي چي د ټول عیسایي نړۍ د متحد لښکرد سیلاب مخي ته څنګه د مصر او شام غوندي کوچني هیوادونه ټینګ سوه، په عسکري مخامختیا کي تر سختي ناکامۍ وروسته د کلیساڅښتنان مسلمانانو ته د فکري ماتي ورکولو په هڅه کي ګرځېدي سوه چي نن هم روانه ده.

یو یهودي وایي:

((مسلمانان باید دې ته چمتو سي چي په خپلو لاسونو مسجد وران کړي، که موږ خپله دا کار وکړو نو ښه به نه وي که څه هم موږ ددې کار اختیار لرو، ډیر به ښه وایي چي د عراق څخه ویشتل سوي یوه توغندۍ پر مسجد اقصی لګیدلې وای او زموږ کار جوړ سوی وای، خو موږ قصداً مسجد نه ورانوو ځکه په دې سره زموږ مسیح نه را ښکاره کیږي او هغه وخت لیري هم نه دی)).

یهودیان په دې عقیده دي تر څو چي مسجد اقصی شهید نسي او پر ځای یې د دریم ځل لپاره سلیماني معبد (ونه) دریږي د هغوی هغه ژغورونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library


نه را ستنیږي چي په نړۍ کي به  د دوی تللی عظمت بیرته لاسته راوړي، د هغوی د باور له مخي دا کس د معبد د لویدیځ دیوال له ترل سوي دروازي څخه راوځي.  یهودیان له پیړیو را هیسي خپل مړي د هم هغه دروازې مخي ته ښخوي،  هغوی عقیده لري چي د دوی د پاچا تر راتګ وروسته دا ټول مړي را ژوندي کیږي هغه ته سجده کوي او هغه به ټوله نړۍ تر واک لاندي راولي.
هغوی دې پاچا ته مسیح وایي او زموږ د عقیدې له مخي د یهودیانو دا لارښود به (دجال) وي، هغه به هغه مهال راڅرګند سي چي مهدي امام په (قسطنطنیه) کي په جهاد بوخت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# پنځم څپرکی

د نړۍ د درېو لويو مذهبونو پيروان يانې عيسايان ، يهوديان او مسلمانان د يوه داسې ستر لاربنود راتګ ته انتظار باسي چې تر قيامت وړاندې به د يوې ستري خونړۍ جګړې مشري کوي او درې واړه مذهبونه دې شخص ته (مسيح يا مسايا) وايي: يهوديان د هغه راتګ په اړه باور لري چې يو ځوک به د مځکې پر کُره الهی نظام واکمن کړي، د هغه نسب به د (حضرت داودعليه السلام) کورنۍ ته کېږي او د هغه د پاڅون سره به نور قومونه له منځه ولاړ سي، يهوديان عقيده لري چې هغه به د نړۍ ټول هيوادونه د اسرائيلو تر واك لاندې راولي، هغوی نن د فلسطين په سيمه کې راغونډ او د اسرائيلو په سيمه کې يې خپل حکومت ټينګ کړی او د هغه مسيح لار څاري چې نړۍ ته تر راتګ وروسته به په يروشلم کې خپله پلازمېنه (دارالحکومت) جوړ کړي.

لکه وړاندې چې وويل سوه عيسايان دې شخص ته (Anti Christ) او موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورته د جال وایو.

خو زموږ او عیسایانو عقیده داده هغه څوک چي په راتګ سره به د یوې لویې وروستۍ جګړې په مرسته حق او باطل سره بېل کړي هغه حضرت (عیسي ﷺ) دی او دا جګړه به د عیسایانو په خبره (Anti Christ) او زموږ په وینا دجال سره وي چي یهودیان ورته خپل مسیح وایي.

د یو یهودي لاربنودوینا ده:

((یهودی پاچا دجال به د حضرت داود له کورنۍ څخه وي، هغه ته مسیح ځکه ویل کیږي چي د حضرت داودﷺ له کورنۍ سره تړاو یې حتمي دی)).

((د دجال تر راتګه موږ خپلواکي نسو تر لاسه کولای، موږ ټول یهودان اسرائیل راغلي یو، موږ به سلیماني معبد جوړوو او هلته به د دجان انتظار کوو)).

((موږ د زرګونو کلونو راهیسي مسیح (د جال) ته منتظر یو د هغه تر راتګ وروسته به پر موږ هیڅ فشار نه وي[1])).

له بله پلوه مسلمانان او عیسایان (عیسی ﷺ) اصلي مسیح ګڼي او یهود دغه لاربنود ته

(AntiChrist) یاني د جال وایي نو بیا عیسایان د مسلمانانو پر ځای له یهودانو سره ولي همږغي دي او ولي د هغوی د ریاست ملاتړ کوي؟ په ځانګړي ډول چي هغوی په دې هم پوهیږي چي مسیحﷺ هغه د جال وژني، ددې لامل دا دی چي د عیسایانو د عقیدې له مخي مسیح ﷺ به

[1] Rabbi Manis Freidman

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دوهم ځل راتګ مخکي هغه عیسایان چي عسيعليه السلام (نغوذ باالله) د خدای زوی ګڼي د دجال څخه د ژغورلو په موخه اسمان ته وربولي او پاته خلك به د هغه سره د مقابلي لپاره پر مځکه پاته سي، عیسایان دا عقیده هم لري چي د جال به د حضرت عیسٰی په لاس ووژل سي وروسته به عام یهودیان هم عیسویت قبول کړي، په داسي حال کي به هغه یهودیانو ته اسانه وي چي په اسرائیلو کي سره راغونډ سي او اسرائیلي ریاست ټینګ کړي.

دا وخت عیسائیت د نړۍ تر ټولو لوی مذهب دی او د نړۍ د (٦میلیارده) نفوسو له منځه څه باندي (٢ میلیارده) یې عیسایان دي، دلته باید یادونه وکړم چي په ډیرو ځایونو کي قرآن کریم، نبوي احادیث او څلورګوني انجلونه په یوه نظر دي؛ د بیلګي په ډول: حضرت عیسٰیعليه السلام پرته له پلاره په معجزانه توګه و زیږیدی داچي مور مریم یې له اسرائیلو سره تړاو درلود نو حضرت عیسٰیعليه السلام هم په دې لړۍ کي راځي او دا چي الله تعالیجل جلاله هغه اسمان ته پورته کړ او قیامت ته نږدې به د دوهم ځل لپاره مځکي ته راستون سي، په دې ټکو کي قرآنکریم، حدیث او څلورګوني انجلونه خو په یوه خوله دي لکن د سینټ پال لخوا جوړي سوي لاري او د کړنو پر بنسټ ولاړ موجوده عیسائیت نه یوازي له هغه سره بېلوالی لري بلکه ضد یې هم دی، د بیلګي په ډول د اصلي عیسائیت خبره دا ده چي حضرت مسیح عليه السلام کوم نوی شریعت نه راوړی بلکه د حضرت موسٰیعليه السلام د تګلاري د نوي کولو، خپرولو او د بني اسرائیلو د اخلاقي او روحاني اصلاح لپاره را لیږل سوی وو ګواکي هغه د کوم نوي دین یا مذهب، ملت او امت بنسټګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وو، د وخت د نوم وتي اثر The Hundred (سل غوره) ليکوال Michael Heart (مايکل هارټ) وايي:

((حضرت مسيح عليه السلام چې کله په نړۍ کي موجود وو د هغه او د هغه د ملګرو شمېر د يهودو تر يوې فرقې زيات نه وو[1])).

بايد وويل سي چي د اوسني عيسويت بنسټرګر حضرت مسيح نه بلکه سينټ پال[2] دی چي هغوی د موسی شريعت د عيسايانو لپاره منسوخ و ګرځاوه، او بيا د حضرت مسيح دعوت د بني اسرائيلو لپاره وو او هغه ويلي وو زه يوازي د اسرائيلو له کهوله ورك سوو توليو په لټون پسي راغلی يم او هغه خپل شاګردان هم په کلکه منع کړي وو چي خپل تبليغ دي له اسرائيلو نه باسي (سينټ پال) دا خبره هم رد کړې وه، همدا لامل وو چي

---

[1] ډاکټر مائيکل هارټ – 100

[2] ژباړن: سينټ پال چي په اصل کي يهودي وو تر عيسی عليه سلام وروسته دوهم مهم شخص دی. اوس په عيسايت کي يوازي د عيسي عليه سلام نوم پاته سوي خو په عملي ډول په ټوليزه توګه دا مذهب د سينټ پال پر محور را څرخي.

د عيسي عليه سلام له پېروانو سره هغه هيڅ تړاو نه لاره بلکه تر عيسی عليه سلام وروسته ۱۴ کالو پوري سينټ پال د عيسی عليه سلام مخالف وو د هغه سره د دښمنی په عقده کي يې د هغه پر پلويانو ظلمونه کول چي ځيني يې شهيدان کړي هم دي. پال د ځان په اړه وايي: ((يو وخت زه د حضرت عيسی خلاف، بد ژبی، ظالم او تيري خوښوونکی کس وم)) ۱۴ کاله وروسته هغه وويل چي عيسی يې په خوب کي ليدلی سر له ننه دهغه پيرو دی ظلم او تيری به نور نه کوي په دې ډول خبرو هغه و توانيدی د عيسايانو په زړونو کي ځای جوړ کړي. له ٦١ تر ٦٨ ميلادي کلونو په منځ کي، د يو نامعلوم علت له مخي د سينټ پال سر پرې کړل سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د لومړۍ پېړۍ د عيسايي ځلوېښتمي لسيزي پر مهال د (عيسٰیعليه‌السلام) د منونکو تر منځ ټينګ او سخت بحثونه وسوه او بری د (سينټ پال) او د هغوی د ملګرو په برخه سو په داسي حال کي چي د (عيسيعليه‌السلام) شخصيت، تورات او د نورو پخوانيو کتابونو يادونه دا هرڅه په (بايبل) کي موجود ول او په پيل کي عيسائيت يقيناً د ابراهيمي مذهب يوه کړۍ وه خو ۳۰۰ کاله وروسته دا مذهب په يوه بېل مذهب بدل سو.

د عيسايانو او يهودانو اړيکي په درو دورو باندي ويشل کيږي، لومړۍ هغه يې دري پېړۍ په بر کي نيسي، په دې وخت کي د هغوی پر (لړکي) شمېر د يهوديانو او بت پرستو روميانو لخوا ظلم کيدی، دوهمه دوره چي کله د روميانو سلطنت عيسائيت قبول کړ نو پر يهودانو د ژوند شېبې تنګي سوې او هغوی د عيسايانو د سخت ترين ظلم ښکار وګرځيدل ځکه هغوی د عيسايانو په اند د حضرت عيسیعليه‌السلام قاتلان ول، دا دوره شاوخوا يو زر کاله روانه وه خو وروسته داسي يو حالت را منځ ته سو چي دا دواړي ډلي سره جوړي سوې چي تر شا يې د يهوديانو د سياست او هوښيارۍ شهکار پروت وو.

اتمه پيړۍ کي يهوديانو د عيسايانو په وړاندي د (هسپانيې) په فتح کي د مسلمانانو مرسته وکړه او هم دغه مځکه د عيسويت د ټوټې کولو لپاره و کارول سوه او کله چي هلته د مذهبي اصلاح تر خوځښتونو وروسته د پاپ نه د واك اخيستلو او احتجاجي خوځښتونو په پايله کي د (پاپايت) بنسټ کمزوری سو نو هغوی په مختليفو ملکونو کي د (سودي) نظام اجازه تر لاسه کړه چي تر دې وړاندي په اروپايي عيسويت کي حرام او منع

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګرځیدلی وو.
پر اروپايي عیسایانو د یهودیت د سخت پرتم ښکاره ثبوت یو څو کاله وړاندې د روم د پاپانو هغه حکم نامه ده چې پکښې د (۲۰۰۰ کاله) پخوانۍ عقیدې برعکس یهودیان د حضرت عیسیؑ د قتل څخه بري سوي دي.

## د څو نوموتو یهودانو اندونه:

((په یهودي تاریخ کي داسي هیڅ تړاو د کوم بل قوم سره نسته لکه د اسرائیلو او امریکا تر منځ چي موجود دی.))
(ربي چایي ګرین)

((امریکا دا وخت ګوري چي د نوري نړۍ سره یې اړیکي پرې کیږي خو د اسرایلو سره د هغوی خپلوي ټینګه ده.))
(Rabbi Manis Freidman رابي مینیس فریډمن)

((زموږ له امریکا سره راسه درسه سته خو موږ هلته موجود نه یو، دا زموږ د قوم پرمختګ دی چي موږ بیرون هم پر کوم هیواد اغیز شیندلای سو)).
(Rabbi Manis Freidman رابي مینیس فریډمن)

((اسرائیل تل امریکاته اړ پاته سوي، د امریکا پرته د هغوی مرسته روس هم کړې، فرانسې او (چیك سلواکیا) هم له هغوی مرسته نه ده سپمولې، دا خبره په زړه پوري ده د کومو هیوادونو سره چي زموږ اړیکي خرابي سوي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی پایله څه راوتلې؟ داسي نه ده چي زموږ مرسته کول یوازي پر امریکا ده بلکه د امریکا سره راسه درسه پر موږ ده او موږ د خپل روحانیت په مرسته د امریکا ساتنه کوو دا دوه اړخیزي اړیکي دي او زموږ د دواړو ګټې)).

(Rabbi Manis Freidman) رابي مینیس فریډمن

څنګه چي مي وړاندي عرض وکړ چي د تړون پر بنسټ د یهودیانو د مشر د راتګ لپاره د هغوی مځکه په فلسطین ورګډېدل او د اوسني مسجد اقصی پر ځای د دریم ځل لپاره سلیماني معبد جوړیدل اړین دي، یهودیان چي غواړي د خپل مسیح د راتګ لپاره کوم شرایط پوره کړي هغه نن ورځ تر دوی وړاندي د پوره کیدو په حال کي دي، د (۱۹۴۸ز) په جولایي کي د اسرائیلو د ریاست د قیام پر مهال یروشلم د اسرائیلو او اردن تر منځ پر دوو برخو وویشل سو، لویدیځ یروشلیم د اسرائیلوته او د ختیځ یروشلم او د لویدیځو څنډو ریاست اردن ته و سپارل سو، د دواړو برخو په منځ کي (۱۵۰) ودانۍ او ویجاړو کوڅو یوه نا اباده سیمه وه، په (۱۹٦۷ز) کي د شپږو ورځو جګړې په پایله کي یروشلم د اسرائیلو په ولکه کي راغی.

هغه وخت یهودیان د خپل مقصد د لاسته راوړلو لپاره تر داسي اندازي بې تابه سوه چي په (۱۹۷۹ز) د پنځه ټنه وزن لرونکي ډبري موندلو ادعا یې وکړه چي د سلیماني معبد د بنسټ لپاره کاریږي، تر هغه وروسته سخت دریځه یهودانو د هغه ډبرو لټه پیل کړه چي د سلیماني معبد لپاره ٦ بیلیونه داني په کار وې اود نوموتي خبري رسنۍ (اې، ایف، پي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۹۷ز) د اگست د خپاره سوي راپور سره سم په امریکا کې یهودي کارپوهانو د سلیماني معبد نقشه چمتو کړې او د هغه یوه کاپي اسرائیلو ته استوي.

یهود د (سکینې) د تابوت لټه هم کوي چې په اړه یې مخکې تفصیلات وړاندې سوه، په هغه کې د حضرت موسٰی علیه السلام، او حضرت هارون علیه السلام څخه پاته سوي سپېڅلي توکي موجود دي، د سکنې تابوت ته په انگریزي کې (ARC of Covenants) ویل سوي او که تاسو د نوم وتي یهودي فلم جوړوونکي (سټیون سیپل برگ د انډیانا جونز سیریز) فلمونه کتلي وي نو پوه سوي به یاست چې Raiders of lost Arc (رایډرز اف لاسټ ارټ) کې همدا تابوت دی، په دوهم فلم کې Temple of Doom څخه مراد سلیماني معبد دی او په دریم هغه کې Last Crusade پیژندنه پر هم هغه یهودي روایت باندې بنا ده.

موخه دا چې یهود د مسجد اقصی شهادت او د هغه پر ځای د سلیماني معبد د تعمیرولو لپاره پوره چمتو دي خو د تعمیر د کار د پیلولو لپاره پاك امر ته منتظر دي او هغه امر یوې سرې غواته اشاره ده چې هغه به دوی حلالوي او سوځوي به یې او په ایرو به یې د اسرایلو اولس پاك کړي چې د هغه سره به معبدته هیڅوك ناپاك نه داخلیږي.

ددې سرې غوا د پیدا کیدو څو ځلي خبر ورکړل سوی، ویل سوي چې دا غوا به د خپل پیدا ینبت څخه درې کاله وروسته د سلیماني معبد لپاره و کارول سي، په دې ډول د لرغونو اثارو د موندني په نیت د مسجد اقصي او (قبة الصغرٰی) لاندې پراخ او ستر تونلونه کیندل سوي دا کار د څو لسیزو راهیسې په منظم ډول روان دی د دې نتیجه یې دا ده چې دا دواړې

(c) ketabton.com: The Digital Library


وداني اوس پر کيندل سوي بنيادونو ولاړي دي او لږ حرکت به هغوی د مځکي سره يو ځای کړي.

د اسرائيلو د حکومت وينا ده چي د تونل د کندني مقصد د سليماني معبد پاتي سونو موندل وو.

په دې اړه زه په لنډو جملو کي د (ناستراډيمس) يادونه هم اړينه ګڼم چي وړاندويني يې د ډيري مودې راهيسي په ځانګړي ډول په لويديځ کي په ډير غور سره لوستل کيږي د (ناستراډمس) په شمېر ليکني زما له نظره هم تيري سوي او زه غواړم د قرآن او سنت په رڼا کي د هغه پر وړاندوينو رڼا واچوم.

(مايکل ډي ناستراډيم) ياني د (ناستراډيم) سيمي مايکل په کال (۱۵۰۳ز) کي د دسمبر پر (۱۴مه) د فرانسې په يوه يهودي کورنۍ کي و زيږيد چي د کاتوليکانو سره يې تړاو درلود هغه لومړنۍ زدکړي په خپل کور کي له خپلو مشرانو تر لاسه کړې او مدرسې ته تر تګ وړاندې د ادب، تاريخ، فلکيات او طبي علومو کارپوه سو، د هغه شهرت د يوه داسې طبيب په ډول تر ليري ليري خپور سو چي د طاعون د ناروغيو د کليوالي علاج ياني د هغوی له وجود څخه د ويني پر کښولو باور نه لري، (ناستراډيمس) بې شمېره د طاعون ناروغانو ته په خپله تداوي سره شفا ورکړه، پر هم دې بنسټ د فرانسې حکومت هغه ته د ژوند تر پايه د دندې اجازه ورکړه ليکن د دې برياليتوبونو سربېره د (ناستراډميس) مېرمن او دوه ماشومان په کال (۱۵۳۷ز)کي د طاعون په ناروغۍ مړه سوه او د هغه بل واده وروسته شپږ نور اولادونه و زيږيدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د هغه د کور یوه خونه د مطالعې لپاره ځانګړې وه او په همدې یوازې توب کې یې زیات وخت تیراوه، د خونې په منځ کې یې د اوبو یو ډك لوښی ایښی وو د هغه لوښي په اړه ویل کیږي چې (ناسترادیمس) به د مراقبې په وخت کې کاراوه، ددې مراقبې پر مهال چې به هغه څه لیدل، اوریدل او محسوسول هغه به یې لیکل.

دا لیکنه د شعر په ډول ده  چې هر بند یې څلور مصرې لري، دا په لرغوني فرانسوي ژبه کې موجود وو چې په هغه کې د لاتیني او یوناني ژبو هم ډیري برخې شاملې وې.

په کال (۱۵۳۴ز) کې هغه د خپل مشهور اثر (Centuries) یاني پیړی لیکنې پیل کړې دا کتاب لس ټوکه دي او په هر جلد کې د شعرونو سل بنده دي.

د (ناسټراډیمس) پلویان باور لري چې په تیرو څو پیړیو کې داسي ډیر څه سوي چې (ناسټراډیمس) د خپل کتاب (Centuries) په اشعارو کې ورته نغوته (اشاره) کړې وه، د بېلګې په ډول د فرانسې انقلاب، د امریکا کشف، د کینډي وژل، د هیټلر دوره او ...

خو پر ناسټراډیمس نقادان په دې نظر دي چې د هغه بیان سوي حالات د مختلیفو دورو د پېښو سره سر خوړلای سي او هغه په بیلا بیل ډول د وړاندې کولو بشپړ لیاقت درلود.

دا سمه ده چې د (نا سټراډیمس) په لیکنو کې لاتیني، یوناني او فرانسوي وییونو (لغاتونو) څخه پرته د فلکیاتو او نورو علومو ډیرې اسرار، استعارې او انځوروونه موجود دي، ځکه نو د هغه په لیکنو په بشپړ ډول پوهېدل ستونزمن دي، په اتیایمه لسیزه کې پر دې موضوع جوړ سوی فلم( The

(c) ketabton.com: The Digital Library



(man who saw tomorrow (هغه کس چي سبا يې وليد) که تاسو و ګورئ نو په بشپړ ډول به راسره يونظر سی چي تر ننه د هغه ټولي وړاندويني غلطي ختلي دي، په ځانګړي ډول په کال (۱۹۸۵ز) کي د دجال ښکاره کېدل.

که د لويديځ کوم هيواد کي کتابتون ته ورسئ او د (ناسټراډيمس) کتاب و غواړي نو هغه به دمذهبي کتابونو په لړ کي نه بلکه د New Age ( نوي عمر ) په ليکه کي و مومئ او دا خبره ډېره مهمه ده، چي لوی مذهبونه لکه اسلام، عيسائيت او يهوديت پر دي خبره يوه خوله دي چي د فلکياتو د علم او داسي نورو معلوماتو پر بنسټ وړاندويني غلطي دي.

د (ابو داود) په يوه حديث کي خو داسي ويل سوي: که څوک پر نجوميانو (ستور پېژندونکو) باور وکړي هغه د الله‎ﷻ او د هغه د رسول‎ﷺ سره په خلاف کي دی او ځيني کسان خو (ناسټراډيمس) ته د پيغمبر درجه ورکوي. (نعوذ با الله )

دلته د (ناسټراډيمس) د تذکري لامل د هغه په ليکنو کي د د جال يا (Anti-Christ) په اړه بيان هم دی، د هغه د ليکنو په تفسير کي د دجال خروج د حضور اکرم ﷺ د سرزمين څخه بيان سوی چي له the Men How Saw Tomorrow (هغه کس چي سبا يې ليدلی) فلم څخه هم څرګنديږي، سوني ده چي ددې منظمي طريقې په مرسته به دا انځور په مسلمانانو او غير مسلمانانو کي خپور سوی وي، دلته بايد دا روښانه کړم چي د حضور اکرم ﷺ په احاديثو کي د دجال د ښکاره کيدو ځای د عربو ختيځه برخه په نښه سوې، چي هتله د ايران، پاکستان او افغانستان په

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګډون نور هیوادونه موجود دي.
یوه په زړه پورې واقعه د (۲۰۰۱ز کال د ۱۱ سپټمبر) تر پیښې وروسته را منځ ته سوه، له دې پېښې سره د تړاو په ډول د (ناسټراډیمس) وړاندوینې مارکیټ ته راوړل سوې په داسې حال کې چې د هغه په لیکنو کې تر دې وړاندې داسې کوم څه نه وو موجود، د هغه پر کتابونو ژوره کتنه کوونکو دا خبره رد کړه خو یو عام اغېز دا ورکړل سو چې (ناسټراډیمس) پیړۍ وړاندې د دې تروریستي پیښې په اړه خبر وو، بېلابېلې حکومتي او حساسې ادارې د (ناسټراډیمس) په اړه د عوامو له مقبولیت څخه خبردي، د دوهمې نړیوالې جګړې په لړکې جرمنیانو د خلکو د حوصلې لوړلو لپاره د (ناسټراډیمس) وړاندوینې د رسالو په بڼه پر سړکونو و پاشلې (ناسټراډیمس) له هغه وخته د پروپاګندې په ډول کارول کیږي او په راتلونکې کې به هم هغه په همدې بڼه وکارول سي.
د عربې نړۍ څخه د دجال د ظهور وړاندوینې ته په کتو پر مسلمانانو لازم دي چې د ناسټراډیمس او داسې نورو سازشونو ژور پام وساتي.
د فلکیاتو غربي کارپوهان نن پر دې سلا سوي چې دا کاینات بلاخره فناکیدونکي دي، یاني قیامت راتلونکی دی، که دې غربي سائینس پوهانو ۱۴۰۰ کاله مخکې قرآن کریم مطالعه کړې وای نبایي تر دې وړاندې دې نتیجې ته رسیدلي وای، دا مهال دا خبره د یو حقیقت په توګه منل سوې چې پر مځکې ژوند د لمر د موجودیت او د هغه د وړانګو او تودوخې له برکته موجود دی او د لمر تباهي د ټول لمریز نظام اوکیدای سي د ټوله کائیناتو د ختمیدو لامل و ګرځي.
د (انشټاین) نظریه داوه چې کائینات لا محدود دي، را زرغونه سوي او هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي غوړيږي، ښايي همدا خيال به د علامه اقبال په ذهن کي هم وو چي کله هغه دا شعر ليکی:

**یه کایــنات ابــهی ناتــمام ہے شـــایــد**

**که آرهی ہے دمادم صدایے کُن فیکون**

ښايې چي دا کاينات ختمېدونکي نه وي

چي هم داسي سر پر سر د کُن فيکون ږغونه راځي

د (انشټاين) ددې نظريې سره سم دا کاينات تر هغو غوړيږي څو ددې ټولي مادې (Density) يا کثافت صفر نسي، تر هغه وروسته به دا خپله ختم سي، دا کاينات به يو وخت بلکل خالي وي ياني په لا محدوده خلا کي د مادې له محدودي اندازې سره.

دوهم دا چي د (انشټاين) له خيالاتو چي څه راوځي دا دي چي: کاينات محدود غوړيږي ياني دا د يوې پوکاڼې (بوغۍ) په ډول غوړيږي خو دا غوړيدل داسي دريږي لکه د بوغۍ څخه د هوا په ايستلو د هغې غوړيدل دريږي او سره ټوليږي او کوچنۍ کيږي، په همدې ډول کاينات به هم په يوه وجود او هستې واوړي، بليك هولز(تور غارونه) لرونکي ستوري به يو له بله سره و جنګيږي اخر به دا ټول د يو بليک هول ( توري سوړي) بڼه غوره کړي او دا به د کائيناتو وروستی حالت وي.

د کائيناتو پای ته رسېدل نور هم ډير لاملونه لرلی سي، د ستورو د پورته تلو نظريې پر دې خبره ټينګار کړی چي زموږ لمر هم ورو ورو د ارتقا (پورته ختلو) پړاوونه طی کوي او هغه به د يوې سرې هستې ياني (Red Giant) خواته و خوځيږي چي د هغه رڼا او تودوښه به تر دې زرګونه ځله زياته

(c) ketabton.com: The Digital Library


وي، وروسته به هغه د سره کیدو په پړاو کي د خپل مرگ خواته سفر پیل کړي او داسي به تبا سي لکه ځنگه چي (سپرنو وا [1]) ستوري سوی وو، د لمر د انفجار د تودو گیسونو او شعاوو سره به ټول ستوری د مځکي په گډون په بخار واوړي او یابه په ایرو بدل سي، د ساینس پوهانو په وینا پنځه میلیارده کاله وړاندي لمر شاوخوا (۴ سلنه) کوچنی وو رڼایي (۳۸ سلنه) کمه وه او سطح یې (۱۰سلنه) یخه وه، دا په کمیاوي ډول یو ورته ستوری وو چي د مرکز تودوښه یې (۱۰میلیونه سانتی گریډ) وه، نن لمر په کیمیایي ډول بیل ستوري (Non Homogenious) گرځیدلی او هغه د سرې هستې د جوړیدو سفر پیل کړی د لمر په مرکز او شاوخوا کي به توپیر را منځ ته سي، د هغه رڼا به دوه چنده سي خو د مرکز د تودوښي درجه به تر (۱۰۰میلیونه سانتی گریډ) پوري ورسیږي.
پر مځکه به ددې بدلونونو پایله دا وي چي ټولي اوبه به د مځکي تل ته کښته سي، د لمر تاوده گازونه به تر مځکي گیر چاپېره یو غلاف جوړ کړي، نور به دلته ژوند نیست او نابود سي، لنډه دا چي د لمر له تبا کېدو سره به ټوله نړی له منځه ولاړه سي، په قرآن کریم کي الله تعالیﷻ فرمایي:
ژباړه: (( **پوښتنه کوي چي د قیامت ورځ کله راځي، بیا کله چي نظرونه و دریږي او سپوږمۍ بې نوره سي او لمر او سپوږمۍ سره یو**

[1] سوپر نوا ستوری مځکي له دې چي هدف بشپړ کړي په تدریج سره محوه کیږي ، کیداسي تر لمر زرگونه ځله روښانه سي تر ټولو روښانه هغه مهال ښکاري چي ستوري انفجار وکړي او کولای سي رڼا یې یو بشپړ کهکشان و نیسي . ستور پیژندونکو په کال ۱۰۵۴ میلادي کي یو ستوري ثبت کړی دی .دومره روښانه وو چي د ورځي هم د لیدلو وړ وو (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځای کړل سي، بیا به انسان وایي چي نن د تیښتي ځای چیري دی، هله به نو لمر بې نوره سي، ستوري به ټوټه ټوټه سي و به لویږي او غرونه به و سوځل سي.))**

له دې آیات څخه څرګندیږي چي د مځکي د تباهۍ سره د لمر، سپوږمۍ او ستورو ژور تړاو موجود دی او څنګه چي تاسو پوهیږئ چي سپوږمۍ له ځانه رڼا نلري له لمره رڼا اخلي ځکه نو د سپوږمۍ د بې نوره کولو مخکي د لمر بې نوره کیدل لازم دی، نور چي کله ستوري بې نوره سي او اسمان و چوي، غرونه والوځي اولکه څنګه چي ما مخکي یادونه وکړه چي ساینس پوهان اوس په دې باور سوي چي په راتلونکي کي به د لمر د نه زغمل کېدونکي تودوښي څخه به د سمندر اوبه و ایشېږي، ټول بحري ژوند به هم نیست او نابود سي او ممکنه ده چي دا تودوښه دومره زیاته سي چي بې روحه شیان لکه ډبري، غرونه او نور هم ویلي سي  یا هم په توښ ( بخار) بدل سي او د پمبه  وو په ډول  والوزي یا به د وریشل سوو پنبه وو په ډول سي.

ژباړه(( **او غرونه به د وریشل سوو پنبه وو په ډول وي**[1]))

دوهم صورت یې دا دی چي کله لمر دا سوځیدونکې مځکه په خپل ځان کي جذبوي نو ښکاره ده چي مځکه به پاش پاش سي او په دې حالت کي به هم غرونه د وریشل سوو وړیو په ډول والوزي،

د دې عواملو تر څنګ (چي حتماً راتلونکي دي) ځیني تباه کوونکي افتونه

---

[1] القارعة ۵ ایات

(c) ketabton.com: The Digital Library


مځکه تباه کولای سي د بیلګي په ډول د یوه شهاب ثاقب (هغه ستوري چي له مداره ووځي) پر مځکه را لویدل او یا د یوه لکۍلرونکي ستوری د مځکي سره ټکر، یو ویجاړونکي اټومي جګړه، دوخت په تیریدو سره به د مځکي پر سر حفاظتي سطح (ګاز ) ختم سي او په دې ډول به د لمر د (الټراوایلټ) شعاوو له امله پر مځکه ژوند ختم سي. او یا د یخي هغه لویه برخه چي پنډ والی یې څه باندي یو میل دی، د سهیلي قطب او ګرین لینډ په ګډون د نړۍ لس میلیونه مربع میله مځکه یې نیولې دا هغه یخی دی چي په تېر کي د لویو سیلابونو په تر څ کي را منځ سوی که چیري دا یخی اوبه سي نو د نړۍ د ټولو سمندرونو اوبه به (۳۰ فټه) لوړي سي او هغه هیوادونه لکه هالینډ او نور چي په کښته برخه کي ستون لري ټول به په اوبو کي ډوب سي.

دجال به هغه مهال پر ټوله نړۍ واکمن وي چي مهدي امام او د هغه ملګري د دمشق په ښار کي محاصره سي، د جال به د هغه ښار خواته و خوځیږي، او همدغه به د حضرت عیسٰیعليه السلام د نازلیدو مهال وي، د حضرت عیسٰیعليه السلام نزول به د مهدي امام تر ظهور او د دجال تر خروج وروسته وي، هغه به د شام د دمشق ښار کي د سپین منار سره نږدې پر هغه ځای را کښته سي چي مهدي امام او د هغه ملګري موجود وي.

له حضرت ابو هریرهرضي الله عنه څخه روایت دی:

ژباړه((**رسول اکرم ﷺ و فرمایل چي زما او د عیسٰیعليه السلام تر منځ کوم نبي نسته، هغه را کښته کیدونکی دی، تاسو چي هغه وګورئ نو و یې پیژنئ، هغه به میانه قدی سړی وي، رنګ به یې سپین او سور ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مایل وي او د ژړ رنګ دوې جامې به يې په تن وي، پرته له اوبو به يې له سر څخه څاڅکي تويږي.**[1]))

حضرت عیسي چې کله اسمان ته پورته کړل سو نو د هغه عمر (۳۳ کاله) وو، هغه چې کله بیا راځي نو هم هغه عمر به يې وي، چې کله هغه را کښته کیږي د سهار د لمانځه وخت به وي او مهدي امام به دلمانځه لپاره مخ ته سوی وي، حضرت عیسٰی عليه السلام ته په کتو سره به شاته سي او و به وایي (راسئ تاسو لمونځ راکړئ) خو حضرت عیسٰی عليه السلام به انکار وکړي او و به فرمایي امام باید ستاسو څخه وي، له حضرت جابر بن عبدالله څخه روایت دی:

ژباړه ((**رسول الله ﷺ و فرمایل: زما د امت يوه ډله به د حق په خاطر تر قیامته جنګيږي او بریالۍ به سي، بیا به عیسٰی عليه السلام نازل سي د مسلمانانو امیران به هغه ته وایي راسئ موږ ته لمونځ راکړئ خو هغه به وايي چې نه؛ امیر به ستاسو څخه وي، دا هغه امتیاز دی چې الله تعالی ﷻ دې امت ته بخښلی دی**[2]))

دلته دا مهمې پوښتني را پیدا کیږي چې د ټولو انبیاوو څخه د حضرت عیسی عليه السلام په راکښته کیدو کي څه حکمت پټ دی؟ اویا دا چې حضرت عیسی عليه السلام خپله د لمانځه امامت ولي نه کوي؟

د لومړی پوښتني ځواب حضرت ابن حجر رحمه الله فتح الباري کي داسي

[1] ابوداؤد

[2] صحیح مسلم ، احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورکوي چي د عیسٰیعلیه‌السلام د نزول څخه د یهودیانو ردول مراد دی، ځکه هغوی گمان کوي چي دوی د حضرت عیسٰیعلیه‌السلام قتل کړی الله تعالی به د دوی د درواغو پرده لیري کړي او دوی ته به د حضرت عیسٰیعلیه‌السلام په لاسونو سزا ورکړي.
او د امامت د پوښتني د ځواب په اړه حضرت جوزيرحمه‌الله داسي فرمايي: (که چیري عیسٰیعلیه‌السلام مخکي سي او امامت ورکړي نو په دې سره به په زړونو کي داسي شك پیدا سي چي هغه د نماینده په توگه مخ ته سوی او که یې نوی شریعت راوړی؟ د هغه لمونځ د مقتدي په ډول ځکه مهم دی چي د حضورصلی الله علیه وسلم دا ارشاد مبارك (چي زما وروسته کوم نبي نه راځي) د شك او شبهې په گرد ککړ نسي.
ددې سهار تر لمانځه وروسته حضرت عیسٰی علیه‌السلام د دجال د وژلو مسئولیت پر خپله غاړه اخلي، دجال به هغه مهال د خپل (۷۰ زره) یهودي پوځ سره د مشق ته رسیدلی وي، نقشې ته په کتو تاسو ته اندازه کیږي چي دمشق د اسرائیلو له پولي یوازي (٦٠ میله) واټن لري.
د مشق ته د رسیدو سره به هغوی تر ښار د باندې تم سوي وي چي په دې وخت کي به د ښار د مسجد پر منار حضرت عیسٰیعلیه‌السلام را ښکاره سي، حضرت عیسٰیعلیه‌السلام تر لمانځه وروسته د ښار د باندې د دجال د پوځ سره نښته پیلوي، یهودیان ماته خوري، د (اویا زره یهودیان) به ټول ووژل سي د جال به د یروشلم خواته و تښتي، د عتیق د درې څخه تیریږي او (لده) ته رسیږي، هلته به یې حضرت عیسیعلیه‌السلام را و نیسي.
ایا تاسو پوهیږي چي نن د لده پر مقام څه شی جوړ دي؟ هلته د اسرایلو یو ډیر ستر هوایي ډگر دی، یاني ښایي چي د جال د خپل کوم مرستندوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



غربي هيواد خواته د تيښتي هڅه کوي چي د ابن ماجه په روايت د ځينو حديثونو سره سم به حضرت عيسٰیعليه السلام د هغه ودانۍ په شمالي دروازه کي دجال و نيسي.

کله چي حضور ﷺ (۱۴۰۰) کاله وړاندي دا حديث فرمايلي وو، هغه مهال د لده پر دې ځای يو کوچنی کلي اباد وو او مسلمانانو تر يو شمېر پېړيو پوري د لده ددې ځای د اهميت په اړه د پوهيدو هڅه کوله، تر هغو چي په کال (۱۹۵۰ز) کي د اسرايلو د حکومت لخوا هلته د هوايي ډګر جوړيدو د دجال د هغه ځای څخه د تيښتي خبره ښکاره کړه.

دا به په ډول کي د يهوديت پای وي او حضرت عيسٰیعليه السلام به صليب مات کړي څو ورسره عيسويت هم پای ته ورسيږي، تر هغه وروسته به د حضرت عيسٰیعليه السلام واده ترسره سي او هغه به ٦٠ کاله يا په بل روايت ۴۰ کاله په نړۍ کي و اوسيږي او د هغه په دوره کي به يا جوج او ماجوج هم را ووځي،

((له حضرت حذيفهرضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ په خپل منځ کي خبري کولې چي رسول الله ﷺ زموږ خواته راغی او پوښتنه يې وکړه، تاسو څه سره واياست، هغوی ورته وويل چي موږ د قيامت په اړه خبري کولې، هغه ﷺ وفرمايل: قيامت تر هغه نه راځي تر کله چي تاسو (۱۰) نښي ونه ګورئ، وروسته هغه ﷺ د هغو يادونه وکړه: ژباړه ((**دود، دجال، حيوان، د لوديځ څخه د لمر راختل، د عيسٰی نزول، د ياجوج ماجوج راوتل، د ختيځ او لويديځ زلزلې او په اخير کي د هغه اور چي د يمن څخه به راووځي او خلك به د محشر ميدان ته وړي**[1]))

---

[1]حديث ۱۸۵ صحيح مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library


د قیامت په لسو لویو نښو یاني (علامت کبرٰی) کي بله هغه د یاجوج او ماجوج را وتل دي، د دې یادونه په قرآن کریم کې د حضرت ذوالقرنین په حواله بیان سوې، چې هغه یو عادل پاچا وو په لیري او پراخو هیوادونو کي یې د اللهﷻ د امر سره سم د پاچاهي لپاره سفر کاوه، یو ځل هغه په یو وخت کي خپلو دریو مهمو اړخونو ته سفر وکړ، لیري ختیځ ، لیري لویدیځ او شمالي اړخ، چې د یوه قوم سره یې  لیدنه وسوه، هغوی نوموړي ته د یاجوج او ماجوج په اړه خبر ورکړ چي د دوو جګو غرو له شا څخه راځي او په دوی کي فساد خپروي  هغوی له حضرت ذولقرنین څخه د یوه دیوال د جوړیدو غوښتنه وکړه  هغه وخت ذوالقرنین د خپل توان او طاقت پر بنسټ د هغه دوو غرو په منځ کي یو قوي دیوال جوړ کړ او یاجوج  و ماجوج تر دیوال ها خوا پاته سوه.

ژباړه ((**څو د دوو غرونو منځ ته ورسید  هلته یې داسي یو قوم و موند چي د(ذوالقرنین) په خبرو پوهیدوته نږدې نه وو.**

**(ژباړونکو) وویل: اې ذوالقرنینه! بېشکه یاجوج او ماجوج دمځکي پر سر ورانکاري دي، آیا شونې ده چي موږ تاته خرڅ  درکړو او ته زموږ او د دوی تر منځ  یو دیوال جوړ کړې؟**

**(ذوالقرنین) وویل: هغه برلاسی چي زما رب ماته د مځکي پر سر راکړې دی ستاسي (ترخرڅ) غوره دی، نو زما سره په (خپل) ځواک مرسته وکړې ترڅو ستاسي او هغوی تر منځ یو پلن دیوال جوړ کړم[1].))**

---

[1] سورة الکهف ، ۹۳-۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا غرونه چيري دي په اړه يې حضرت ابن عباسؓ وايي چې د ترکې هيواد په اخير کې د (ارمينيا) او (اذر بايجان) سره نږدې د کوه قاف په سيمه کې يو ځای موجود دي، هغوی به هغه وخت را ووځي چې کله حضرت عيسٰیؑ د جال له منځه يوسي، هغه مهال به د الله پاكﷻ په حکم سره د ياجوج او ما جوج په لار کې جوړ قوي ديوال را و نړيږي.

اوس ستاسي پام يو اوږد حديث ته را اړوم.

ژباړه (( **له حضرت ابو سعيد څخه روايت دی چې رسول اللهﷺ وفرمايل: کله چې يا جوج او ما جوج راووځي نو خلك به د هغوی څخه تښتي د خپلو ښارونو او کلاوو لاري به نيسي له خپل ځان سره به خپل څاروي هم بيايي، هغوی به د ځمکې پر ټولو اوبو واك تر لاسه کړي او درياب به داسي وچ سي چې تر دوی وروسته چې کوم څوك له هغه ځايه تيريږي نو وايې به چې ايا يو وخت دلته اوبه هم وې؟ وروسته به الله تعالیﷻ ددې خلکو لپاره يو خزنده راوليږي چې د دوی پر غاړو به حملې کوي، چې په پايله کې به يې ټول مړه سي**[1])).

(( **له حضرت نواس بن سمانؓ څخه روايت دی چې رسول اللهﷺ و فرمايل: د هغوی شمېر به د ميريانو په څېر د شمېرلو وړ نه وي او مسلمانان به د ياجوج ماجوج غشي، ليندۍ او سپرونه تر اوو کلونو**

[1] امام محمد ، ابن ماجه ، ابن عباس او حاکم

(c) ketabton.com: The Digital Library


**پوري د سون توکو په ډول و کاروي**[1])).

## ډاکټر اسرار احمد:

یاجوج او ماجوج په اصل کې د حضرت نوحعليه السلام د دریم زوی (یا فض) د نسل څخه دي، د حضرت نوحعليه السلام درې زامن ول، لومړی زوی سام چې د هغه نسل ته سامیټك ویل کیږي چې په هغوی کې عرب، یهود او نور راځي دوهم هاب او دریم یافض نومیدل، د هاب څخه اریایي قبایل لکه ایرانیان، هندوستانیان، جرمنان او نور پیدا سول، یافض د غرونو په لړی کې اوسیدل غوره کړه، د منځنۍ اسیا د غرونو د سلسلې پر سر د هغه نسل خپور سو، د هغه لس دولس زامن وه چې له هغوی د دوو نومونه یاجوج او ما جوج وو ځکه نو د هغوی دقوم نوم یاجوج او ماجوج دي، د حضرت عیسٰی عليه السلام وروستۍ جنګ به د هغوی سره وي.

**پوښتنه:**یاجوج ماجوج دا مهال چیري دي؟

**ځواب:** هغوی په هغه هیوادونو کي دي چي ما یې ذکر وکړ ، دا قومونه او خلک چي هلته اوسیږي هم دا یا جوج او ماجوج دي.

**پوښتنه:** هغوی دوه کسه دي که نسل دی؟

**ځواب:** هغوی نسل دي د یاجوج او ماجوج نسل یا قوم لکه څنګه چي د حضرت (سام) نسل ټول عر ب او یهود دي.

**پوښتنه:** یاني دوو قومونو ته یاجوج او ماجوج ویل سوي دي؟

**ځواب:** هو! هغوی به بې کچي ځواکمن وي، په قرآن کریم کي د هغوی په

---

[1] ابن ماجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه داسي ویل سوي چي هغوی به د هر غره څخه کښته کیدونکي لیدل کیږي، څنګه چي په نیپال کي د هندوستان او چین جګړه سوې وه او د هغه په اړه داسي الفاظ راغلي ول چي:

Waves after waves of Chinese soldiers coming down the slopes of Himalayas

وروسته به د هغوی سره جنګ نه کیږي او الله تعالیٰﷻ به هغوی د یوې معجزې په ذریعه ختم کړي.

د یاجوج ماجوج د فتنې څخه د ژغورني کار د حضرت عیسٰی عليه السلام په غاړه دی، مځکي ته د راتګ پر مهال به د حضرت عیسیعليه السلام عمر ۳۳ کاله وي او د یاجوج ماجوج تر هلاکت وروسته به وفات سي او مسلمانان به یې د جنازې ادا کولو وروسته په نبوي مسجد کي د رسول الله ﷺ د قبر څنګ ته دفن کړي.

د وخت د ترتیب پر بنسټ د یاجوج ماجوج تر راتګ وروسته څلورمه لویه نښاني به د لویدیځ څخه د لمر را ختل وي، چي په اړه یې تفصیل په دې یوروایت کي موجود دی:

ژباړه ((**د حضرت عبدالله ابن ابي اوفيرضي الله عنه په حواله ویل سوي دي، هغه وایي: ما رسول اللهﷺ ولیدی چي دایې وویل پر خلګو به یوه شپه داسي راسي چي د هغوی د عامو دریو ورځو سره به برابره وي، نفلي عبادت کوونکي به هغه شپه و پیژني له دوی به یو شمېر و**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دریږي او د خپلي برخي لمونځ به ادا کړي وروسته به بیده سي، بیا به راپور ته سي دخپلي برخي لمونځ به وکړي یا به د قرآن کریم تلاوت وکړي، بیا به بیده سي، دا مهال به خلك یو پر بل چغي وهي چي څه وسوه او په ځغاسته به  مسجدونو ته منډي کړي!! یودم به هغوی و ګوري چي لمر د لویدیځ څخه راپورته سوی، کله چي لمر د اسمان نیمی ته ورسیږي نو بیرته به و ګرځي.))**

له حضرت ابن مسعود څخه روایت دی چي حضورﷺ وفرمایل:

ژباړه ((**په دې شپه به سړی خپل ګاونډي ته ور ږغ کړي چي اې دوسته ! نن شپه څه پېښه ده چي د زړه له اخلاصه مي خوب وکړ  او دومره لمونځ مي وکړ چي ستړی سوم؟، بیا به لمر ته وویل سي چي د هغه ځایه راپورته سه کوم ځای کي چي لویدلی وې  او په دې ورځ به داسي چا ته هیڅ ګټه ونه رسیږي چي له مخکي یې ایمان نه وي راوړی یا چاچي له خپل ایمان څخه کومه نیکي نه وي تر لاسه کړي[1].))**

د لمر دا چپه را ختنه به یوازي د یوې ورځي لپاره وي، ددې سره به د توبې دروازه هم و تړل سي وروسته به لمر خپل عادي حالت ته و ګرځي او تر قیامته به د ختیځ څخه راپورته کیږي.

له حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول اللهﷺ وفرمایل:

ژباړه ((**قیامت تر هغو نه راځي چي لمر له لویدځ څخه راپوته نه سي،**

---

[1] فتح الباري

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چي کله هغه له لویدیځ څخه راپورته سي نو هغه ته په کتو به ټول ایمان راوړي، خو دا مهال به داسي کس ته ایمان ګټه ونه کړي چي له مخکي يې ايمان نه وي راوړی**[1]**.))**

لمر د لویدیځ څخه د راپورته کیدو د نښانې سره په څنګ کي یوه بله نښه هم ده، دا نښاني به یا تر دې وړاندي چي لمر له لویدیځ څخه راپورته سي ښکاره سي او یا هم تر دې پېښي سمدستي وروسته، د هغه په اړه الله تعالی ﷻ فرمایي:

ژباړه ((**اوکله چي د قیامت وعده پر دوی پوره سي نو موږ به د دوی لپاره د مځکي څخه یو ځناور راوباسو چي د دوی سره به خبري کوي، ځکه (کافران) زموږ پر خبرو باور نه کوي**[2]**.))**

دا خاروی به ستر وي او په ځینو روایتونو کي راغلي چي دا به د(صفا) د غره د غارونو څخه را ووځي چي کله خلك په کعبه شریفه کي وي نو هغه به د حجر اسود او مقام ابراهیم په منځ کي چغي ووهي ، خلك به و ببرېږي او یودم به شاوخوا سره و پاشل سي، یوازي د مسلمانانو یوه ټولی به پر خپل ځای پاته سي، هغوی به پوه سي چي دا د الله پاكﷻ ځناور دی او ورڅخه د تیښتي کومه لاره هم نسته ، ځناور به پیل له دوی نه وکړي، د هغوی څیرې به داسي و برېښوي لکه برېښېدونکي غمي، وروسته به هغه د مځکي پر مخ و ځغلي یو کس به د هغه څخه منډه کړي او د لمانځه پناه به

---

[1] بخاري، مسلم، احمد، ابوداود، ابن ماجه

[2] سورة نمل ، ایت ۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخلي هغه به تر شا ورته راسي او و به وايي چي ته اوس لمونځ کوې؟ او بیا به یې مخ ته راسي د هغه څېره به داغ کړي او ځني ولاړ به سي.

یاني لمر دلویدیځ څخه راپورته کیدو سره به د توبې دروازه وتړل سي او په هغه ورځ به دا ځناور را پیدا سي د توبې د دروازې د بندیدو تصدیق به وکړي په دې ډول به مسلمانان او کافران په نښه کړي، ددې حیوان ذکر په (بایبل) کې هم موجود دی او دا نښه په یهودو او عیسایانو کې د Mark of the Beast په نوم سره مشهوره ده.

وروستۍ نښاني چي مسلمانان به یې و ویني په اړه یې الله تعالیﷻ فرمايي:

ژباړه ((**نو اوس د هغه ورځي انتظار وکړئ، چي په اسمان کي یو لیدونکی لوګی (دود) را پیدا سي، چي پر دې ټولو خلکو به عام سي، دا یو درد ناك عذاب دی**[1]))

په داسي حال کي چي د مسلمانانو لخوا لیدونکي دا لوګی شپږمه نښه ده.

ژباړه ((**له حضرت ابو مالك اشعري ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ و فرمايل:بېشکه ستاسو رب تاسو له دریو شیانو څخه بېرولي یاست، لومړی شی دود دی چي مومنانو ته به یوازې دومره تکلیف ورکړي لکه زکام خو کافران به سم را و نیسي تر داسي بریده چي له غوږو نو به یې دودونه را ووځي، دوهم شی حیوان دی او دریم**

[1] سورة دخان، ايات ۱۰، ۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دجال**[1]**.))**

دهمدې دود څخه به مومنانو ته هيڅ زيان ونه رسيږي خو د کافرانو لپاره به دا يو خبر وي چي د عذاب او غچ اخستني وخت را رسيدلی، دا دود به تر ۴۰ ورځو پوري خپور وي، تر دې دود وروسته به د يمن څخه يو تود باد را پورته سي چي د ټولو مومنانو روحونه به واخلي او يوازي به کافران له هغه څه خوندي وي چي پر هغوی به الهي عذاب نازل سي.

له حضرت نو اس ابن سمانﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و فرمايل: ((**بېشکه تر قيامت وړاندي به له يمن څخه يو باد و چليږي چي د هر مومن روح به واخستل سي او هغه به مړ سي.**[2]))

د مومنانو تر ختم وروسته به څلور نښي را ښکاره سي په هغه کي به دري د مځکي د ښوويدني ياني زلزلې په ډول وي، په عربو کي د يوه لښکر په مځکه کي د غرقيدو بيان مخکي سوې دي، پاتي دوې ياني په ختيځ او لويديځ کي د مځکي چاودل به خلګ غرق کړي او تر هغه وروسته به وروستۍ او لويه نښاني را ښکاره سي او دا به د کائينانو د بېرووںکي حقيقي انقلاب لومړۍ نښه وي.

د (يمن) يا (عدن) د کښته يا لويديځ څخه به يو اور را ووځي چي خلګ به په مخه کړي او د شام مځکي ياني د حشر ميدان ته به يې بوزي.

له حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و فرمايل:

---

[1] طبراني

[2] احمد ، مسلم ، ترمذي ، ابن ماجه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژباړه ((**تر کومه چي د قیامت د لومړۍ نښي خبره ده هغه یو اور دی چي له ختیځ څخه به راپورته سي او خلك به د حشر لپاره په لویدیځ کي راټول کړي.**[1]))

د یوه بل روایت سره سم:

له حضرت حذیفه ابن اسیدرضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ و فرمایل: ((**اور به د عدن له کښته څخه راپورته سي او خلگ به د حشر میدان ته په مخه کړي، چیري چي اور شپه تیروي، چیري چي ارام کوي، هلته به دوی هم ارام کوي**[2]. ))

دا اور به څوك شاته نه پریږدي که څوك شاته پاته سول هغه خوري، او پاته به شام ته (د حشر میدان) ته ورسوي، تر هغه وروسته به الله تعالی جل جلاله حضرت اسرافیل ته د صور د پوه کولو حکم ورکړي، صور یوه ډیره لویه شپېلۍ ده چي اسرافیل علیه السلام به هغه دري ځلي پوه کړي، لومړی به د ببري (وېري) پوکی وي دا به تر نورو دوو پوکیو اوږد وي، او ددې په اوریدو سره به په اسمان او مځکه کي ټول اوسیدونکي و ببرېږي پرته له انبیا او شهیدانو څخه.

ژباړه ((**او څه به تیرېږي هغه ورځ چي کله صور پوه کړل سي او وبه ببرېږي هغه ټول چي په اسمانونو کي دي او په مځکه کي، پرته له**

---

[1]احمد بخاري ، نسايي

[2]احمد ، مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغو خلګو چي اللهﷻ به هغوی ترې و ساتي او ټول به غوړونه نیولي هغه ته حاضر سي.**[1]))

دا هغه حالت دی چي ټول کائینات به و لړزوي او پر هر شي به یوه څواکمنه زلزله راسي، مځکه به و لړزیږي، غرونه به رامات سي او ټوټه ټوټه به سي په ذراتو به واوړي، سمندرونه به و چوي او یو په بل کي به توی سي، د یوه قهریدلي اور سره به د جاذبې قوه پای ته ورسیږي، د لمر، سپوږمۍ او ستورو ټولو رڼا به ورکه سي، هر څه به له منځه ولاړ سي او کاینات به په داسي ډول په توښ او بخار بدل سي لکه څنګه چي تر پیدایښت وړاندي ول.

د صور دا پوکی چي کله راځي نو په مځکه کي د موجود انسان په اړه الله تعالیﷻ فرمایي:

ژباړه ((**خلکو! د خپل رب د غضب څخه ځان و ساتئ، رښتیا خبره دا ده چي د قیامت زلزله ډېر ډاروونکې ده، په کومه ورځ چي تاسو هغه ګوری ، نو حال به دا وي چي هر شیدي ورکوونکی به د خپل شیدې رودونکي بچي څخه غافله سي او هره حامله به حمل و غورځوي او خلګ به تاسو ته ځنګیدلي او نشه په نظر درسي، په داسي حال کي چي هغوی به په نشه کي نه وي بلکه د اللهﷻ غذاب به داسي سخت وي**[2]))

[1] سورة نمل ، ایت ۸۷

[2] سورة الحج ، ایت ۱، ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته به حضرت اسرافیل دوهم ځل صور پوه کړي، دا به د بې هوښۍ پوکی وي، د انبیاوو او شهیدانو په ګډون به د مځکې ټول مخلوقات بې هوښه و لویږي پرته له هغو کوم چې الله تعالیﷻ به یې ژغوري او هغوی به (اته فرښتې) وي، جبرایل، میکائیل، اسرافیل، د مرګ فرشته او دعرش اوچتوونکي څلور فرښتې، چې کله صور کې پوکی کیږي نو د ټولو اسمانونو او مځکه والو هوښ به والوځي پرته له هغوي چې اللهﷻ یې ژغوري، وروسته به بیا په هغه کې پوه کړل سي نو په هغه وخت کې بهٔ ټول ودریږي او څلورو اړخونو ته به و ګوري وروسته به د اللهﷻ په حکم دجبرائیل، میکائیل، اسرافیل او د عرش پورته کوونکو څلور فرښتو روحونه قبض کړل سي، تر هغه وروسته به د الله پاك ذات او د مرګ فرښته پاته سي بیا به الله تعالی دې فرښتې ته ووایي ته زما مخلوق یې، چې کله ما ستا د پیدا کیدو اراده وکړه نو ته مې پیدا کړې اوس مړ هم سه په دې وخت کې به ملك الموت (د مرګ فرښته) هم مړه سي او پرته د اللهﷻ له ذات نه به هیڅ هم پاته نسي).

له حضرت ابو هریره ﵁ څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ و فرمایل:

ژباړه((د دوو(پوکولو) تر منځ (۴۰ فاصله ده) **خلګو و پوښتل اې ابو هریره ایا ۴۰ ورځې؟ هغه ځواب ورکړ زه علم نه لرم، پوښتنه و سوه ۴۰ میاشتې؟ هغه وویل زه نه پوهیږم، و پوښتل سوه ۴۰ کاله هغه وویل زه علم وربانديي نه لرم.**[1]))

وروسته به حضرت اسرافیل ژوندی کړل سي او د دریم ځل پوکي امر به

---

[1] بخاري ، مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورته وسي دا نفخه (پوکی) به تر مرگ وروسته د ژوندي کیدو نفخه وي د صور شپېلۍ کي به دومره سوري وي څومره چي د ټولو مخلوقاتو روحونه دي، روحونه به جسمونو ته بیرته ننوځي، جسدونه به له قبرونو په خپلوسرونو خاوري پورته کوي او را پورته کیږي به، کافران به ووايي دا ورځ خو ډیره سخته ده اومومن به ووايي شکر دی د هغه اللهﷻ چي زموږ پروردگار دی.

تر قیامته د راتلونکو پړاونو پیښبي او فتنې انسان ته د هلاکت تر بریده خبرداری دی، په اړه يې پوهیدل او ورڅخه ځان ژغول د رسول الله ﷺ ددي حدیث په رڼا کي سونی دی

ژباړه: (( **په نړۍ کي داسي و اوسه ، لکه یو مسافر** ))

دا دالله تعالیﷻ شکر دی چي زموږ او ستاسو سره وخت سته ، یو څه مهلت لرو چي نیك عمل وکړو او د گناهونوڅخه توبه وباسو، مخکي له دې چي دا مهلت پای ته ورسېږي، دا شېبې تیري سي او زموږ وخت پای ومومي یاني:

د خپلو خپلوانو، کورنۍ د غړو او ټولو خیال ساتئ.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په دې کتاب کې لولئ:

د مسلمانانو اوسنی وضعیت کومه خوا روان دی؟ د نړیوالو او غرب سیاسي حالت د څه شي په لټه دی؟ د اسلام یو لړ تاریخي پېښې، د قیامت علامې، د اوسني ساینس او تکنالوژۍ سره یې تړاو، لوی جګړې، د قیامت په اړه بېلابېل نظرونه او بلاخره د نړۍ او کایناتو احتمالي پای.

# End of Time

Dr. Shahid Masood

Translated by Ahmad Shah Patsoon

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library